| دکرونا کیسې -۱ |

بامیان، دایکندی، غزنی او لوګر کیسې



# د غواګۍ په مزل ځنډنی ژوند

| لیکوال: سهراب سروش |

| ژباړه: انجنیر شهاب حازم |

AC KU

ACKU

د غواګۍ په مزل ځنډنی ژوند | سهراب سروش

پرله پسې شمېره: ۱۰٤٤

Factual Stories on COVID-19

# Life in Speed of Snail

Sohrab Soroush

د ناروغ خطرناک وضعیت، د ډاکتر نشتوالی او د هغی وارخطایی د ناروغ د پایوازانو حوصله تنګه او دوی یی په غوسه کړل، خو دا وخت زرغونی پخوانیو ناروغ پالانو سره اړیکه ونیوله او روغتون کې یې د اکسیجن دستګا و مونده او ناروغ ته یې و تړله. دا وخت د ناروغ حالت یوڅه ښه شو، زرغونې په خوښۍ سره د هغه زړه ته کتل، چی کوګل یې ښکته پورته کیدل پیل کړل، لږ ځنډ نه و وتلی چې د ژوند نښې بیرته تتې شوې او په دې ډول سره دغه ناورغ د ډاکتر له رارسیدو مخکی وفات شو. کله چې ډاکتر ډیر وروسته راورسید، نو د ناروغ پایوازانو وروسته د بیمار ترمړینی درمل څه کول؟ ډیر غوسه ناک شوی وو، دوه درې پایوازانو غوښتل پر ډاکتر برید وکړي، خو ډاکترورڅخه وتښتید او د روغتون یوه خونه کې پټ شو، نور پایوازان د مړی لوری ته ورغلل او هغه‌یې له هغی دستګاه سره یو ځای یووړ چې لږمخکی زرغونی هغه ته تړلې وه. ــــــ ... ــــــ "

توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتابخوانی
و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ABLE Est. 1996
ACKU Box Library Extension

ISBN 978-9936-662-13-1
9 789936 662131

# د غواګۍ په مزل څنډنی ژوند

# د غواګۍ په مزل څنډنی ژوند

**لیکوال: سهراب سروش**

ژباړه: انجنیر شهاب حازم

توانا
برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتابخوانی و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان
ACKU Box Library Extension

**د غواګۍ په مزل ځنډنی ژوند**

کرونايي کیسې


لیکوال: سهراب سروش

ژباړن: انجینیر شهاب حازم

سموونکی (ایډیټر): حبیب وقار

انځورګر: آرزو حسیني

ادبي ناظر: محب الله زغم

ګرافیک ډیزاینر: حسین سینا

خپروونکی: په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز ACKU

د پروګرام مسوول: کاظم‌حمیدی‌رسا

خپرندویه کمېټه: عبدالوحیدوفا، رشمی دانګل، فیض محمدنایاب او زینت الله قانت

لومړی چاپ: ۱۴۰۱ لمریز (۲۰۲۲ ز)

پرلیسې شمیره: ۴۴۱

د ټوک شمېر: ۱۵۰۰ ټوکه

شابک: ۱ - ۱۳ - ٦٦٢ - ۹۹۳٦ - ۹۷۸

ویبپاڼه: www.acku.edu.af

برېښنالیک پته: publicaiton@acku.edu.af



د چاپ حق يې د افغانستان د معلوماتو مرکز له پاره خوندي دی.

# لیکلړ

له لوستونکو سره خواله ........................................................ ۷
مور والی او روغتیا پالي........................................................ ۱۱
د سلسلې ځان وژنه........................................................ ۲۳
یو مرګ، دوه تدفینه او عجیبه اوازې........................................................ ۳۳
جنازې ته وسله وال کمین........................................................ ۴۹
کرونا وهلی واده ........................................................ ۶۱
کرونا او کربلا........................................................ ۷۷
پلار ته مې خپله غسل ورکړ ........................................................ ۹۳
له ښاره تېښته ........................................................ ۱۰۷
د غواګۍ (حلزون) په مزل ځنډنی ژوند ........................................................ ۱۲۱
ورکه شوې جنازه ........................................................ ۱۴۵
وېرېدلې زلاله........................................................ ۱۵۷
باميانې جنت او کرونايي دوزخ........................................................ ۱۶۹
کرونا او سودايي باشي ........................................................ ۱۸۱

# له لوستونکو سره خواله

ځینې انساني پېښې یوازې تاریخي پېښې نه دي چې په ثبتولو سره یې د تاریخ لیکلو کار وکړو. دغه پېښې پخپله دقیقاً د تاریخ مبدأ دي: نوي پېر ته د سفر پیل او د اوښتون ټکی. د تاریخ لوری بدلوي او تر هغه وروسته به د تاریخ په اړه د بشر پوهه بل کیفیت لري.

د کورونا نړۍواله وبا هم دغسې پېښه ده. دا یوازې د یوې ساري ناروغۍ خورا تېز خپرېدل نه وو. په یوه شپه کې د نړۍ د اقتصاد راپرځېدل، د بېروزګارۍ بېخرته زیاتېدل، د دنیا د صحي سیستمونو ګډوډېدل وو، او تر ټولو مهمه د یو ویشتمې پېړۍ انسان د ناچارۍ او بېچاره‌ګۍ ننډه هم وه. هغه انسان چې د تخیل او ځان غوښتونکي تکبر په وجه د خپل چاپېر جهان پر پوهې مسلط شوی و خو ډېر آسان د داسې موجود په وړاندې په ګونډو شو چې تر ده میلیونونه ځله کوچنی و.

نو، د کورونا ویروس راڅرګندېدل او خپرېدل یوازې د یوې ساري او نیوونکې ناروغۍ خپرېدل نه وو. د بشر د تاریخ داسې نوی پړاو و چې ثبتول او خاطره کول یې یوازې د تاریخ او تاریخ لیکنې په وس کې نه دي. دا په دې چې تاریخ د روایتګرۍ د سنت پر بنا یوازې د لویو پېښو روایت کوي. جزئیاتو او وړو کیفیاتو ته پام نه کوي، د ټولنیز ناورین

مختلف بُعدونه نه راسپړي، د فاجعې پر خاصې زمینې تکیه نه کوي، همدا ځای دی چې ادبیات میدان ته وردانګي او د پېښې ماهیت په لا زیات دقت سره ګوري، کیفیات او جزئیات یې توصیفوي، له تخیل سره یې ګډوي او په آخر کې یې د بشر جمعي خاطرې ته ور ننباسي.

په همدې وجه، لازمه وه چې د کورونا غوندې عالمګیر ناورین دې یوازې په رسمي او غیر رسمي تاریخ سره مکتوب او پایېدونې نه شي. ادبیات هم باید د هغه په تل پاتې کولو کې خپله ونډه واخلي. ادبیات باید تر تاریخ ډېر څه وکړي چې د ثبتولو او خوندي کولو چاره یې لا ډېره وپايي.

همدا وه چې د افغانستان د معلوماتو مرکز (**ACKU**) د داسې فرهنګي مرکز په توګه چې په مختلو برخو کې د بشري تجربو خوندي کول خپله یوه اصلي وظیفه ګڼي، را مخکې شو او هڅه یې وکړه چې د دې ستر او حیاتي کار مدیریت په لاس کې واخلي.

دغه کتاب د همدې هڅې او موخې نتیجه ده. له کورونا ویروس سره د ځینو افغانانو د مجادلې کیسې. د هغو واقعي انسانانو چې د ژوندي پاتې کېدو او بقا لپاره یې هڅه کړې ده؛ د اتلولیو، مېړانو، ماتو او بریاوو حکایتونه. هغه هم په داسې هېواد کې چې په دې نابرابره جګړه کې یې د نړۍ تر ډېرو هېوادونو په ډېرو برخو کې خورا لږ امکانات او ځواک درلود.

دا چې دغه کتاب څنګه ولیکل شو، لنډه توضیح یې دا ده چې په هېواد کې د کورونا ویروس د خپرېدو د لومړۍ څپې په پای کې، د افغانستان د معلوماتو مرکز له دې وبا سره د مجادلې د تجربو د راټولولو پروګرام طرح کړ. پرېکړه داسې وشوه چې د هېواد له شپږو زونونو څخه دې د دې مجادلې بشري تجربې راټولې شي. دغه شپږ زونونه کابل،

شمال، جنوب، شرق، غرب او مرکـزي زون وو. پـه لـومړي سر کـې د پروګرام ګزارشګرانو لـه وګـړو سره د مصـاحبې لـه لارې اطلاعـات او عيني تجربې راټول کړل. وروسته، دغه خام مواد د کتونکې ډلې په لاس ليکوالو ته ولېږدېدل. ليکوالو له يوې يا څو تجربو يوه لنډه کيسه جـوړه کړه. نو، د دې ټولګې کيسې په ټوله کـې د عينـي واقعيتونـو پـر اسـاس ليکل شوې دي. پېښې ټولې واقعي دي او په دې کيسو کې د ليکـوال د تخيل ونډه يوازې د فضا جوړولو، د صحنو اوډون او د لحن توليد و.

د کيسو په ليکلو کې هڅه شوې ده چې د امکان په حد کـې د هغـو سيمو د بومي فرهنګ‌ګوتيو خوند او رنګ وساتل شي چې دغه پېښې په کې شوې دي. دغه لحن د کرکټرونو نومونه، د ځايونو، جـامو، خـوړو، بوټو او ... نومونه رانغاړي چې په ټولو داستانونو کې يې خونـدي کـول عمدي کار و.

بله خبره دا چې، ليکوالو په لومړي سر کې کيسې په يوه ژبه يعنې يـا پښتو، يا فارسي، يا اوزبيکي ژبه ليکلې دي. وروسـته بيـا د هـرې ژبـې کيسې دوو نورو ژبو ته هم ژباړل شوې او چاپ ته چمتو شوې دي.

د کار نتيجه په شپږو جلا جلا دفترونو کې راغلې ده چې دغه کتاب يې يو دفتر دی.

په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکزACKU

# مور والی او روغتیا پالي

د دوو ماشومانو مور «زرغونه محمدي» چې له اوږدمهاله بېکارۍ وروسته د کار موندنې په لټه شوه، ایله وتوانېده په بامیان ولایت، په «کوید ۱۹» روغتون کې د روغتیاپالې (نرسې) په توګه کار ومومي. زوی یې پنځه کلن او لور یې شیدې خوړې. د زرغونې محمدي خاوند د کاپیسا ولایت په ملي پولیسو کې دنده لرله.

اووه کاله مخکې چې هېڅوک هم له کرونا نه وېرېدل او د داسې یوې وبرې فکر یې هم نه کاوه، زرغونې په شپاړس کلنۍ د بامیان ولایت، یکاولنګ ولسوالۍ، په «سَچَک» کلي کې واده وکړ. له واده وروسته کابل ته راغله او د خپل خاوند په مرسته یې په رازي روغتیایي انسټیټیوټ کې د نرسنګ په څانګه کې زده کړې پیل کړې. زرغونه چې لومړی ځل مور شوه، مېړه یې د کورني ژوند د لګښتونو پوره کولو له پاره زده کړې پرېښودې او د افغانستان د ملي پولیسو لیکو ته لاړ.

دوی په دې فکر سره چې په بامیان کې د ژوند لګښت ټیټ دی او کېدای شي هلته ځان ته د استوګنې یو کورګی هم جوړ کړي، کډه له کابل بامیان ته راوړه. زرغونې انګېرله اوس د دې وخت دی

چې ټوله کورنۍ سره را ټوله کړي او نور خپل مېړه له مسافرۍ خلاص کړي، سخته یې دا چې کله به یې د مېړه مسافري میاشتو میاشتو ته رسېده، نو په دې موخه په ټول افغانستان او بامیان ولایت کې د قرنتین د لومړیو ورځو په وضعه کېدو سره، پرته له دې چې خپل مېړه او خپلوان خبر کړي، د بامیان ولایت د عامې روغتیا ریاست ته ورغله، هغوی ته یې وویل، د نرسنګ برې لیک لري او په دې برخه کې یو څه تجربه هم لري، ایا کولای شي د کرونایي ناروغانو پالنه وکړي؟

هغه مهال د بامیان د عامې روغتیا ریاست د کار کوونکو د ګمارنې خبرتیا خپره کړې وه، خو زرغونه د دوی له خبرتیا خبره نه وه. په خبرېدو سره یې ډېره خوشاله شوه او خپل غوښتنلیک یې هغوی ته وسپاره. څو ورځې وروسته ازموینې ته وبلل شوه، هغې بیا هم هېڅ ته څه ونه ویل، په ازموینه کې بریالۍ او له روغتون څخه د کار پیلولو له پاره خبر ورکړل شو. هغې په وېره او خوشالۍ سره د کار موندنې خبر خپل مېړه او خپلوانو ته ورساوه، خو څومره یې چې تمه وه هېڅ د کرونا له امله د هغې د دې خبر کومه ستاینه ونه کړه او پر کار یې خپه شول.

مور یې ورته وویل، د خپلو دوو ماشومانو له پاره دې له دې دندې ډډه وکړي، خسر یې هم دا کار د مرګ خوا ته تلل وباله، خو زرغونې تینګار کاوه او دا یې خپل تصمم وباله، نو یې په سبا د نرسۍ په توګه په کار پیل وکړ. په څه یې چې فکر نه و کړی، دا و چې د کورنۍ او خپلوانو د خوښې اخیستل به یې تر ټولو اسانه وي او پرته له ستونزو به ډېر اسانه په کار پیل وکړي او نور به د ژوند له کړاوونو خلاصه شي.



د کار له پیل سره سم؛ اړ وه د بوجۍ په څېر پراشوټي جامې چې د کرونا د روغتون له پاره وې، واغوندي. په دې جامو کې درېدل، کېناستل او ګرځېدل ټول ستونزمن وو. پنډ ماسکونه یې تړل او عینکو یې داسې مخه ورباندې بندوله چې په سختۍ یې ساه ایستی شوای، کله به یې چې خولې پر تندي راغلې سترګو به یې سوی کاوه، د کرونا د جامو په اغوستو به یې ټول بدن خولې کېده، جامو وجود ته د هر ډول هوا د ننه کېدو مخنیوی کاوه.

په لومړۍ ورځ چې زرغونې په دې پراشوټي جامو کې ځان د روغتون په هېنداره کې ولید، ځان د فضایي موجوداتو په څېر ورته ښکاره شو. هغه په دې جامو کې لکه د یوې معمولي ښځې په څېر چې اوس یوه مور ده، نه ښکارېده. زرغونې د خپلې پښېمانتیا د مخنیوي هڅه کوله، نور نو د پښېمانۍ وخت هم تېر و. د روغتون کټونه هره ورځ له ناروغانو ډکېدل، په روغتون کې د دوی وېره هره ورځ زیاتېده، دوی ورځ تر بلې ناهیلي کېدل، ټول حیران او وېرېدلي وو چې نور به څه کېږي؟

دوی په ناروغانو کې یو داسې ځوان هم ولید چې فکر کېده، هغه به د کرونا پر وړاندې کلک وي، خو دوی لیدل چې سږو ته یې هوا نه تله. دغه ځوان به له ناهیلۍ سر خوځاوه. د روغتون همکارانو هم په اندېښنې سره سرونه ورته ښورول او هرڅه ته خپه وو، زرغونې فکر کاوه چې دوی به بد فکرونه له سره لرې کوي، بیا به یې ویل چې نه دوی لا تر اوسه ډېر ځوانان دي له دې ناروغۍ به مړه نشي.

سره له دې چې زرغونې د کار ډېرو ستونزمنو شرایطو ته ځان

چمتو کړ، خو د خپل کور اندېښنې به یې فکر ګېچ کړی و. دې تـه سوچ ولوېد که خدای مه کړه په کرونا ویروس اخته شي، بیا به څـه کوي؟ که کرونا کوم خپلوان ته ولېږدوي، یا څوک تـرې مـړه شي، نو بیا خو ځان د بښنې وړ نه بولي.

له زرغونې به یې ګاونـډیانو لار چپوله او ور څخـه بـه لـیرې کېدل، دې خبرې ډېره ځوروله، خو د وجدان بار به یې سپک شـو. هغې به خپلې جامې د بامیان مرکـز د «جـري خشـکک» سـیمې د خپل انګړ په یوه ګوښه کې بدلولې. ټول هغه ځایونـه بـه یـې ضـد عفوني کول چې لاس یا د روغتون جامې وربانديې لګېدلې وې. له دې امله چې ماشومان یې نشـو مچـولای او نـه یـې هـم د شـیدو ورکولو پر مهال ماسک لرې کـوی شـوای، دغـو خـبرو هـم ډېـره ځوروله.

یو تریخ او عجیب احساس به ورته پیدا شو. د بامیـان د کرونـا ځانګړی روغتون د عامې روغتیـا لـه خـوا یـوه بهـرني شرکـت تـه وسپارل شو چې د زرغونې معاش هم ورسره ډېر زیات شـو. مېـړه یې په کاپیسا کې دنده پرېښوده او داسې مهال کور ته راغی چې تر هر وخت ورته اړتیا ډېره وه، له دې سره د کور لـه پلـوه د زرغـونې زړه ډاډه شو.

څومره یې چې د کور وضعیت ښه شو، خـو د کرونـا وضـعیت هره ورځ نور هم خراب او بدتره کېده او د روغتیایي چارو پـر کـار کوونکو کار زیاتېده. زرغونې ته هغه ورځ نـه هېرېـدونکې وه او دا یې تر ټولو بده ورځ ګڼـي. هغـه د لـومړي ځـل لـه پـاره د بامیـان حوزوي روغتـون تـه پـه تـګ اړ شـوه، ځکـه چـې هلتـه د کرونـا ناروغانو ګڼه ګونه ډېره وه.

یوه ورځ یې روغتون ته یو ناروغ راوړ چې د ژوند ډېرې لږ نښې پکې ښکارېدې، په ډېرو ستونزو یې ساه ایسته، هېڅ بل روغتیا پال له وېرې د کرونا څانګې ته نه ورته، ناروغ اته تنه پایوازان لرل، دوی به زنګونه وهل، خو یو ډاکتر هم نه ورته، روغتون به ورته ویل چې ډاکتر در رسېږي، خو هېڅوک نه ورتلل. زرغونې د مرګ هغه وېروونکې سیوری ولید چې د ناروغ پر سر ګرځېده، نور نو ناروغ ساه نشوای ایستی، زرغونه چې دې ځای ته نوې راغلې وه د اکسیجن دستګاه یې نشوای مونډی، هېڅکله ځان ورته دومره ناتوانه نه و ښکاره شوی.

د ناروغ خطرناک وضعیت، د ډاکتر نشتوالی او د هغې وارخطایي د ناروغ د پایوازانو حوصله تنګه او دوی یې په غوسه کړل، زرغونې له پخوانیو روغتیا پالو سره اړیکه ونیوه، روغتون کې یې د اکسیجن دستګاه ومونده او ناروغ ته یې وتړله چې د ناروغ حالت یو څه ورسره ښه شو. زرغونې په خوښۍ سره د هغه زړه ته کتل چې کوګل یې ښکته پورته کېدل پیلوي، لږ ځنډ نه و وتلی چې د ژوند نښې بېرته تتې شوې او په دې ډول سره دغه ناورغ د ډاکټر له را رسېدو مخکې وفات شو.

ډاکټر چې ډېر وروسته را ورسېد، د ناروغ پایوازانو د ناروغ له مړینې وروسته درمل څه کول؟ پایوازان ډېر په غوسه وو، دوو دریو پایوازانو غوښتل پر ډاکتر برید وکړي، خو ډاکتر تړې وتښتېد او د روغتون په یوه خونه کې پټ شو، نور پایوازان د مړي لور ته ورغلل او هغه یې له هغې دستګاه سره یو ځای یووړ چې لږ مخکې زرغونې ورته تړلې وه. له هغه وخت څه کم یو کال تېرېږي خو اوس هم د زرغونې هغه ورځ نه هېرېږي.



د هغې ورځې د را یادېدو یـو دلیـل هغـه لیکونـه دي چـې لـه حوزوي روغتون څخه د زرغونې په نامه راځي او ترې غواړي چې په وینه کې د آکسیجن د اندازې د معلومولو دستګاه «پلـز اوکسـی میټر» را پیدا او روغتون ته یـې وسـپاري. دا هغـه وسـایل وو چـې زرغونې ناروغ ته ترلي وو، خو د ناروغ تر مـرګ وروسـته د هغـې غوسه ناکو پایوازانو له روغتون یوړل. د همدې ناروغ مړینـې هغـه وېره او اندېښنې چې زرغونې ته یې پیدا کړې وې، تر ډېره د هغـې خوب ترې اخیستی و. هغه په کور کې غوسه ناکـه او پـه روغتـون کې بې حوصلې شوې وه، د هغې روحي حالت یې خراب کړی و او دې وضعیت د هغې په جسمي حالت هم اغېزه کړې وه.

زرغونه څو ورځې وروسته خپله هم پـه کرونـا اختـه شـوه. اړ شوه کور کې پاتې شي. هغه دوولس ورځې په یوه بېله کوټه کې وه له ماشومانو او مېړه سره یې اړیکې نه وې او په قرنتین کـې وه. لـه همدې امله یې خپله کـوچنۍ لـور ډېـر ژر لـه شـیدو بېلـه کـړه. د ماشوم او مور تر منځ یو دېوال و، ماشومې به د همدې دېوال شاته ژړل، خو د کرونا له امله له مور او د مور له شیدو بې برخې شوه.

زرغونه لا پوره نه وه روغه شوې، له روغتون څخه ورته ټیلفـون وشو دندې ته ورشي. اړه شوه دندې ته لاړه شي. په دې وخت کې ډېر نور روغتیاپال او ډاکتران هم کرونا شـوي وو، روغتـون د کـار کوونکو له کمښت او د ناروغانو له ګڼې ګوڼې سره مخ و.

زرغونې په روغتون کې یې په لـومړۍ ورځ، یـوه ځوانـه ښـځه ولیده چې وروسته بیا د هغې لیدل دې ته یـوه ډېـره خـوږه خـاطره شوه. زرغونه دغه خاطره د کرونا د ورځو په تیاره کې یوه رڼا بولي.

پېښه داسې وه چې یوه بوډۍ یو ماشـوم غېـږ کـې نیـولی او یـوه

بوډۍ ورپسې روانه وه، یوه ځوانه په کرونا ناروغه ښځه ورسره وه. دوی د سرپل له بلخاب څخه بامیان ته راغلي وو. دغه بوډۍ او بوډا د ښځې خسر او خواښې وو. دغه ښځه د زېږون پر مهال په روغتون کې په کرونا اخته شوې وه چې دا دی اوس د کرونا روغتون ته په راتګ اړ شول. ښځه د زېږون پر مهال له کمزورۍ او وینې بهیدو سره مخ شوې وه او په بلخاب کې درې پنځوس ورځې بستر شوې وه.

په دې ټولو ورځو کې د هغې خواښې او خسر هلته د کور نه لرلو له امله شپه او ورځ د روغتون مخې ته تېر کړي وو، ماشوم له مور سره د روغتون په بستر کې و، په دې موده کې د ښځې حالت ښه شوی نه و، بلکې لا نور هم بدتر شوی و، تر دې چې د کوما حالت ورباندې راغی. زرغونې او د هغې یو شمېر همکارانو وینه ورکړه، خو د ژوند تمه یې په کمېدو وه، داسې برېښېده چې د ښځې خپلوانو هم د هغې له ژونده لاس مینځلی و. دغه ځوانه ښځه تر بستر کېدو پنځه اونۍ وروسته بیا هم، اته ساعته په کوما کې وه، د ژوند نښې پکې ډېرې کمزورې شوې وې.

زرغونه او ډاکټر یې تر خوا ولاړ وو او سترګې یې پر مانیټور ګنډلې وې، خو د ناروغ په حال کې کوم ښه والی نه تر سترګو کېده، ان دا چې یو وخت د مانیټور له مخې د ژوند ټولې نښې ورکې شوې، ډاکتر هم د ناروغ کوټه د هغه د مړینې د اعلان په توګه پرېښوده. زرغونې په الوتې بڼه ناروغې ښځې ته کتل، خو لږ شېبه وروسته پاڼه واوښته او د ژوند نښې ښکاره شوې، زرغونه ډېره خوشاله شوه، غږ یې وکړ: «ډاکټر صیب! ډاکټر صیب! هغه را ژوندۍ شوه»!

# د سلسلې ځان وژنه

د ۱۳۹۸ل کال په پای کې چې د کرونا خبرونه په رسنیو کې ډېر تاوده شوي وو، سلسلې ته مهم او د ارزښت وړ نه وو. هغې هم لکه د ډېرو نورو خلکو په څېر لومړی په کرونا چندان باور نه کاوه، وروسته یې چې باور راغی، دا فکر یې نشو کوی چې یوه ورځ به کرونا راځي، دا او د دوی کورنۍ به هم نیسي.

د ۱۳۹۹ل کال د نوروز ورځې وې، کله چې دولتي مسئولینو اعلان وکړ کرونا تر هرات را ورسېده، ښارونه باید قرنتین شي، له دې سره د سلسلې پر وجود هم وېره او ترهه ګډه شوه، ان دا چې د هغې درې کلن خوریی هم له کرونا و وېرېده. دغه ماشوم به له ټلویزیون خبرې زده کولې او په ماشومانه ژبه به یې ویل: کور کې پاتې شئ او کرونا ته ماتې ورکئ!

هغه وخت چې په هرات کې د کرونایي ویروس د ښو لیدو اوازه خپره شوه، د لوګر ولایت مرکز، پل علم ښار قرنتین شو. ان دا چې د «پایخیل» په کلي کې د سلسلې دوی د کوڅې هټۍ هم وتړل شوه. سلسله د خپل کور د لګښت پوره کوونکې وه، خپله دنده یې له لاسه ورکړه. اوس د هغوی د اووه کسیزې کورنۍ غړي



ټوله ورځ په کور ناست وي، یوازې د هغې کوچنی ورور د کـور د ارتیـا وړ تـوکی راوړي. هـر وخـت چـې هغـه د اړتیـا وړ توکـو د پیرودنې له پاره ښار ته ځي، ماسک تړي. د دوی په کورنۍ کې تـر دې مهاله چا د ماسک تړل لیدلي نه وو. کله یې چې ورور له بازار څخه بېرته راشي، نو تر هرڅه مخکې خپل ماسـک او دستکشـونه لکه د نړۍ تر ټولو نجس شی، ایسته غورځوي، بیا مـخ او لاسـونه په صابون مینځي او کور ته ننوزي.

تر یوې میاشتې چې همدا حال دوام کوي، د سلسلې د کورنۍ ټولې پیسې خلاصېږي. د دوی پلار څو کاله مخکې وفـات شـوی دی. له کرونا مخکې د سلسلې مشر ورور په ښار کـې کـار کـاوه، هره اونۍ به یې پنځه سوه افغانۍ ګټه لرله. سلسلې چې د پل علم ښار، په یوه خصوصي انسټیټیوټ کې د مـدیریت او اداري څانګـه لوستې وه، په یوه خصوصي ښوونځي کې ښوونکې وه.

هغې د یوې رضاکارې په توګه د سرې میاشتې له سـازمان سره هم کار کاوه. له دې ټولـو سره سره دوی درې واړو هڅـه کولـه، د کورنۍ د ژوند څرخ یې ونه درېږي، خـو لـه بـده مرغـه اوس درې واړه وزګار او د کورنۍ د عایداتو ټولې لارې بندې شوې وې.

د سلسلې یو تره په امریکا کې اوسېده، دوی تـه یـې یـوه انـدازه پیسې را ولېږې چې دوی پرې غـوړي، وریجـې او اوړه واخیسـتل. دغې مرستې د دوی کورنۍ ته لویه دمه ورکړه، خو دا مرسته کافي نه وه، بیا هم د دوی لاس د کور د لګښتونو او کرونا پر وړاندې تش و.

څومره چې ورځې تېرېدې، هومره څلورویشـت کلنـه سلسـله ژوند ته ناهیلې کېـده. هغـې یـوه ورځ لـه ځـان سره د یـوه کـار د پیداکولو پرېکړه وکړه. ان که کوم کار کـې د مـرګ خطـر هـم وي،

خو چې کار پیدا شي. سلسلې خپل سوانح چې مخکې یې جوړ کړي وو، خپل لاسي بکس کې واچول او د لوګر له دود او دستور سره سم یې شنه چادري پر سر او له کوره ووته، مخامخ د لوګر ولایت د عامې روغتیا ریاست ته ورغله، هغوی اعلان خپور کړی و چې د کرونا ناروغانو د ځانګړي روغتون له پاره څو تنو روغتیاپالو (نرسانو) ته اړتیا لري. خپله بیوګرافي یې ورکړه او څو ورځې د دوی خبر ته په تمه شوه چې د کار له پاره د ګمارل کېدو خبر ورکړي، خو زړه کې یې په کار د ګمارل کېدو نه ګرځېدل، ځکه چې د لوګر ولایت حالات ورته معلوم و.

هلته یوازې هغه کسان کار موندی شي چې غټه واسطه ولري یا هم بډې ورکړي. د غویي میاشتې منځ کې د سلسلې څو پنځوس کلنه مور په یوې نوې ناروغۍ اخته شوه. مور تبه درلوده او ستوني یې خاربښت کاوه، د ناروغۍ کومې نښې چې پکې لیدل کېدې، ټولې هغه ډول وې چې رسنیو او خلکو به د کرونا نښې بللې.

سلسله خپلې مور ته ډېره خپه شوه او د درملنې له پاره یې یوه ډاکټر ته ورغله خو ډاکټر د دوی له کوڅې څخه یو څه لیرې و او د مور کتنې ته یې حاضر نه شو، یوازې یو څو ډوله درمل یې ورته ولیکل او سپارښتنه یې ورته وکړه چې ویټامین سي لرونکې میوې لکه لیمو، کیوي او مالټې ډېرې ورکړي، خو د دوی په کور کې هېڅ هم نه وو.

سلسله چې د خپلې مور په کرونا ناروغۍ شکمنه شوه او پوهېدله چې د زیات عمر او د زړه د پخوانۍ ناروغۍ له کبله یې تر نورو زیاته له ګواښ سره مخامخ ده، نو هغه یې د خپل ختمین کور له درې کوټو څخه په یوه کې قرنتین کړه. پوره یوه میاشت به یوازې په

خپله چې ماسک به یې اغوست، د مور کوټې ته د ډوډۍ د ور وړلو له پاره ورتله او پوره احتیاط به یې کاوه.

مو یې چې روغه شوه، د کورنۍ نورو غړو کې ناروغي پیدا شوه. په نورو کې د مور په پرتله د ناروغۍ نښې کمې وې. په خپله سلسله چې تر نورو لږ څه ښه وه، درې ورځې په تبه اخته شوه، ټوخی یې درلود، ځان یې خوږېد او ستوني یې خارښت کاوه. په دې وخت کې یې خوراکي توکي هم خلاص شول. دوی یو هم نه پوهېدل چې سبا، بله ورځ او یوه میاشت وروسته به څه وشي.

دوه اونۍ یې له درې وخته ډوډۍ څخه یوازې یو وخت چای او وچه ډوډۍ خوړل. سره له دې چې د ښار له قرنتین کېدو دوه میاشتې تیرې وې، بیا هم په ښار کې کوم ښه والی نه و راغلی. رسنیو د کرونا په اړه هره ورځ بد خبرونه خپرول. دې وخت کې د سلسلې د مور د ماما زوی چې د منځني عمر څښتن و، د کرونا په ناروغۍ ومړ. کله چې هغه پوه شوی و کرونا دی، نو پرته له دې چې خپله کورنۍ خبره کړي، پل علم کې د کرونا روغتون ته ورغلی او ډاکترانو هلته بستر کړی و، خو یوه اونۍ وروسته یې ویروس سږي له کاره وغورځول.

روغتون د هغه د مرګ په هکله د ده کورنۍ ته خبر ورکړ، ده ته یې قبر ژور کړ، ډېر ژر یې د هغه مړی خښ کړ، جنازه یې په کرونایي ډول وشوه.

د پسرلي سختې ورځې یوه پر بله پسې تېرېدې، د وضعیت د ښه کېدو حال نه معلومېده. سلسله د خپلې کورنۍ یوازینۍ د زده کړو خاونده وه له همدې کبله له ټولو ډېره ځورېده. د هغې پر سترګو د ناهیلۍ توره پرده غوړېدلې وه، د سمون کوم څرک ورته



نه ښکارېده. په کور کې به هره وړه خبره هم په شخړه بدله شوه، وروسته تر هرې دعوا او شخړې به يې سترګې له اوښکو ډکې او د کادانې يوه ګوټ ته به لاړه، له ځان سره به يې ژړل. ژوند ورته خپل رنګ بايللی و او هر څه ورته د زندان په څېر ښکارېدل چې دا يې هره شيبه شکنجه کوله.

هغه په واقعيت کې له ژوند ستړې شوې وه او يوه ورځ ژوند هم سخت ورته ښکارېده. نور يې ځان دې ته چمتو کاوه چې له ځان سره يې کړې پرېکړه عملي کړي. هغې له يوې مياشتې راهيسې وخت ناوخت په دې هکله فکر کړی و او ډېر يې ژړلي وو، غوښتل يې له ژوند څخه مرګ ته پناه يوسي.

يوه ورځ مازيګر يې يوه رسۍ را واخيسته او د خپل ختين کور کادانې ته لاړه. له دې پړي يا رسۍ څخه ډېره موده چا کار نه و اخيستی. هغه يې لکه د پانسي د دار په څېر د چت پر يو تير پورې وتړله، وروسته يې يوه تشه بوشکه پښو لاندې کېښوده وربانـدې وخته او ځان يې ځوړند کړ. لا يې سا نه وه ختلې چې ناروغه مور يې راننوته. چيغې يې کړې او د هغې خواته يې ورمنډه کړه، هغه يې کلکه غېږ کې ونيوه، د کورنۍ نور غړي هم راغلل، سلسله يې له پړي را خلاصه کړه، ټولو ژړل خو سلسلې له ټولو ډېر ژړل. څو شيبې وروسته دوی ټول د ناستې کوټه کې وو او د سلسلې سر د مور په زنګون ايښی و. مور يې سلسلې لور ته وويل:

«له پلار جان وروسته دې چې دوه کاله وړاندې يې خپل ژوند تاسې ته در وباښه، د ټولې کورنۍ هيله تاته ده. تا ولې دا کار وکړ؟

دا بد وضعيت اوس په ټولو خلکو راغلی، د نورو حال تر موږ هم بدتر دی. ماته ګرانې لورې؛ دا ټول وزغمه او صبر کوه. دغه

سختې ورځې هم تېرېږي. که خدای مه کړه زه لږ وروسته راغلی وای او ته هغه ساعت مه راولې مړه شوې وای، مخامخ به دوزخ ته تلې».

سلسله ورته وایي:

«مورې! همدا اوس هم دوزخ کې یاستو»!

څو ورځې وروسته چې د سلسلې حال یو څه ښه شو، د ټولو هغو خلکو په هکله یې فکر وکړ چې هغې په لوګر کې پېژندل او له دوی سره یې کومه مرسته کوی شوای. د هغې ډېر دوستان د ښوونځي او انستیټیوټ د دورې وو. د یوې ټولګیوالې پلار یې په پل علم ښار کې د خوراکي توکو هټۍ لرله. هغې ته یې ټلیفون وکړ، ستونزه یې ورته وویله، ټولګیوالې یې ورته وویل: «زمونږ ټوله هټۍ ستا ده».

وروسته تر هغه بیا د زمري تر میاشتې پورې چې قرنتین څه ناڅه و، بیا هم د بازارونو د کار خونده نه وه. د سلسلې کورنۍ د هغې د ټولګیوالې له هټۍ څخه د پور په اخیستو څه ناڅه اتیا زره افغانۍ پوروړې شوه. له دې وروسته د هغې کوچنی ورور چې له یوه ترکاڼ سره شاګرد و، اونۍ کې یې یوازې پنځه سوه افغانۍ اجوره ترلاسه کوله، د کور لګښتونه یې په غاړه واخیستل. سلسلې ملا وتړله او هره ورځ به یې چادري پر سروله، د چادري له کوچنیو سوریو به یې شاوخوا نظر کاوه او هر هغه (فرصتونه) یې چې شوني وو، دې ته یو کار پکې پیدا شي لټول، خو هر هغه ځای ته چې سلسله ورغله یوه هم کار نه درلود. هغې بیا هم له وېرې او اندېښنې سره سره د ۱۳۹۹ل کال تر پایه کار ولټاوه، خو کوم کار ورته پیدا نشو. هغه د همدې کیسې تر کولو پورې لا هم وزګاره او پوروړې ده.

# یو مرګ، دوه تدفینه او عجیبه اوازې

د ۱۳۹۹ل کــال د غــويي مياشــتې پــه پينځــه ويشــتمه چــې د ۱۴۴۱سپوږميز کال د روژې لـه يوويشـتمې سره برابـره وه، پنځـه پنځوس کلن حاجي خپل ستوني کې د خارښت احسـاس وکـړ، د ستوني خارښت حاجي او کورنۍ يې ډېـر انديښــمن کـړل. دوی د غزنی په «نو اباد» کې اوسېدل. د دوی اندېښنه ځکـه هـم زياتـه وه چې خلکو تبه، د ستوني خارښت او ټوخی د کرونا نښې بللې، نـو ځکه د هغو اوازو په ترڅ کې چې په افغانستان او ټوله نـړۍ کـې د کرونا په هکله خپرې شوې وې، ډېر وړوکی ټوخی او پرنجی هم د وېروونکي مرګ او مړينې د خبر په توګه ګڼل کېده.

په هغه ورځ چې حاجي لومړی ځل وټوخېد، پـه هېـواد کـې د قرنتين يوه مياشت او پنځه ويشت ورځې تېرې شـوې وې. پـه دې وخت کې د غزني ښار هم لکه د افغانستان د نورو ښارونو په څېـر رخصت و، کاروونه په ټپه ولاړ وو، ښار تش و، هټۍ او د مسافرو د اوسېدو هوټلونه، ښوونځي او پوهنتونونه هم ټـول تـړلي وو، خـو کوم روغتونونه او درملتونونه چې پرانيستي وو ډېره ګڼـه ګونـه وه. خلک به له ډېرې اړتيا پرته له کوره نه وتل.

په ټلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو او مجازي شبکو کې پرته د کرونا له خبرو بل څه نه وو. د کرونا په هکله خبرې هـم ټـولې لـه وېرې او اندېښنو ډکې وې چې خلکو ته یې پرېشـاني پیـدا کولـه. رسنیو به په پرلپسې ډول دا خبرتیاوې خپرولې:

لاسونه په صابون او تودو اوبو ومینځئ!

له کوره بهر مه وزئ!

ماسک او لاس پوښونې وکاروئ!

له نورو سره دوه متره واټن وساتئ!

د ګڼې ګوڼې ځایونو ته مه ورځئ!

لیمو او ویټامین سي وکاروئ!

د تبې، ستوني درد او ټوخي پر مهـال ډېـر ژر روغتـون تـه لاړ شئ! او...

حاجي چې تر دې مخکې هېڅکله کومه ځانګړې نـاروغي نـه لرله، ان د فشار، شکرې او تنفسي ناروغۍ یـې نـه لرلـې، تـل یـې ځان روغ احساساوه، د ټوخي او ستوني درد له کبله چـې تبـه یـې هم وه یو ناڅاپي روغتون ته یوړل شو. د همدغو نښو په پیدا کېدو سره یې زوی یوه خصوصي روغتون ته راوسـتی و او پـه روغتـون کې بستري شو.

له یوې ورځې او شپې وروسته یې هم حال ښـه نشـو، سره لـه دې چې روغتیا یې ډېره زیاته نه وه خرابه، خو کله کله یـې یـو نـیم ټوخی کاوه. د دې روغتون ډاکټر په کلکه ورته وویـل، نـاروغ بایـد هغه روغتون ته یوړل شي چې دولت یوازې د کرونـا ناورغـانو تـه جوړ کړی دی او هلتـه بایـد د ده د کرونـا ازموینـه وشي، پرتـه لـه هماغه روغتون څخه نورو روغتونونو کې د کرونا د ټسـټ وسـایل

نشته. هلته د کرونا له شکمنو وینه اخیستل کېږي، کابل ته لېږل کېږي او بیا یې پایله راتلل څو ورځې وخت نیسي.

دوی چې ناروغ د کرونا ناروغانو روغتون ته ور وړي، د دوی ټولو اندېښنې لا زیاتېږي. د روغتون د ډاکترانو چلند داسې و چې که په هر چا کې د کرونا یوه یا دوه نښې وګوري، نو ډېر ژر یې بستر کوي، ان د کورنۍ غړو ته یې هم د کتلو اجازه نه ورکوي. په دې توګه د حاجي اړیکې له دوستانو سره پرې شوې، له کورنۍ سره یې یوازې په ټلیفون خبرې کوی شوای. ټلیفون کول هم په سلو جنجالو او واسطو سره شونی و.

د ډېرو کورنیو غړي په هغه روغتون کی بستر وو، خو هېچا ته یې د لیدو اجازه نه وه. د ناروغ خپلوانو به شپه او ورځ د روغتون شاوخوا هڅې کولې، خو د خپل ناروغ له حاله نه خبرېدل، ان د خپل ناروغ له مړي یا ژوندي هم نه خبرېدل. د حاجي په وینا (کوه به کوه میرسد، ادم به ادم نمیرسد). پنځه شپې او ورځې په روغتون کې و، په دې ورځو کې به یې ورور او زامن ورتلل، خو روغتون ته نشو ور ننوتلای. په ورځ کې به یې یو ځل د ډاکتر له لوري لیکل شوي درمل ورته راوړل او بېرته به کور ته تلل، خو ښه خبر دا و چې حاجي به خپلې کورنۍ ته وار په وار د خپلې روغتیا د ښه والي خبر په ټلیفون ورکاوه:

«تبه مې شلېدلې، نور مې ستونی خارښت نه کوي او ټوخېږم هم نه، خو د وینې د ازمېښت پایله لا نه ده راغلې. ترڅو له کابله د وینې د ازموینې پایله راځي زه به همدلته یم، بیا به مې رخصت کړي».

د دې ټولو خبرو په پای کې به یې په ډېره خوشالۍ او ډاډ سره خپلوانو ته ویل، کومه اندېښنه نشته او خدای پاماني به یې ورسره



وکړه. د ده د کورنۍ غړي به په کراره د شپې ویده شول. یو ځل ناڅاپه د پېشلمي پر مهال له روغتون زنګ راغی چې ټولو ته یې ټکان ورکړ. حاجي د کرونا له امله له نړۍ سترګې پټې کړې.

په لږ شېبه کې د ژړاګانو او ساندو غږونو د حاجي د ګمې کورنۍ وربوی ډک کړ. ژړاګانو تر سهاره دوام درلود، سهار چې د کورنۍ نارینه غړي د جنازې د را اخیستو له پاره د غزني د جوز کلا د کرونا د ناروغانو روغتون ته ورغلل، د روغتون چارواکو په سره سینه د جنازې له ورکولو ډډه کوله.

دود- دستور دا دی چې لومړی جنازه جوماتت ته وړل کېږي، هلته غسل ورکول کېږي. بیا کفن ور اغوندي او د جنازې له لمانځه وروسته یې د مړي کور ته وړي چې د کورنۍ غړي یې د وروستي ځل له پاره ووینې، خدای پاماني ورسره وکړي، خو روغتون دا دود بیخي په پام کې نه نیوه.

د عامې روغتیا دوو تنو کار کوونکو چې ماسکونه یې تړلي دي، پر یوه ټوټه پراشوټي جامو یې ټول ځان نغاړلی، غټې عینکې یې په سترګو دي او پېژندل کېږي هم نه، جنازه یې د نواباد هدیرې ته روانه کړه، د حاجي خپلوان په حیرانۍ سره هدیرې ته ور ټول شول، ټولو ماسک او لاس پوښوني اغوستي دي او له یو بل څخه دوه دوه متره لرې ولاړ وو، هغوی هم چې له یوه کوره راغلي له یو بل څخه دوه متره لرې ولاړ وو.

د عامې روغتیا هغه دوه کار کوونکي چې خلکو ته لکه د جلادانو په څېر ښکارېدل، د جسد د ښخولو په چارو کې د خلکو مخه نیسي، هغوی څو ځله خبرداری ورکړ که یو کس هم قبر ته ور نږدې شي، دوی به هدیرې ته پولیس را وغواړي.

راغلو کسانو هرڅه یوازې له لرې څارل. پـه دې وخـت کـې د عامې روغتیا کار کوونکو جنازه له امبولانس را بهر کړه. ویې ویـل چې جنازه یې د مړي له جامو سره پـه یـوه پراشـوټي کڅـوړه کـې «فرېس» کړې ده او هماغسـې یـې پـه هغـه قـبر کـې ږدي چـې د حاجي خپلوانو کیندلی دی. د مړي له خښـولو وروسـته د روغتیـا کار کوونکي لاړل.

دې وخت کې هدیرې ته ټولو د یوه ملا صاحب په امامـت پـه فاصلې سره مخ په قبله د جنازې لمونځ وکړ. د جنازې تلقین چـې له اسلامی شرعیت سره سم په قبر کې له ایښودو مخکې د مـړي د یوه خپلوان له خوا کېږي او په قبر کې د مړي له ایښودو مخکې یې غوږ کې ویل کېږي، هغه یې هم له لرې ترسره کړ. نور نو ټـول لـه قبر څخه روان شول او د حاجي قبر پر ځمکه باندې د یوه ټـپ پـه څېر پر ځای پاتې شو.

دوی چې کله خپلې کوڅې ته ورسېدل، کوڅه یې داسـې تشـه او بې غږ او زوړه وه چې ماشې هم پکې نـه الـوتې، ځکـه چـې د کوڅې خلک له دوی سره د نه مخامخ کېدو له کبله پټ شوي وو. د حاجي له غمځپلـې کـورنۍ سره هېچـا د دوی لـه کـورنۍ بهـر غمرازی ونه کړه، په یوازیتوب کور ته لاړل او خپل ماتم یې وګاله.

درې څلور ورځې تېـرې شـوې، خـو هېچـا د دوی کـور تـه د غمرازۍ او دعا یا ډاډګېرنې له پاره کوم ټلیفون ونه کړ او نه هم چا د دوی خبر واخیست. یوازې یو څو کسانو دوی تـه د غمـرازۍ او ډاډګېرنې زنګونه ووهل، خـو اوازې او انګـازې ډېـرې دي، ځینـې وایي د حاجي ټوله کورنۍ کرونـا نیـولې، ځینـې نـور بیـا وایـي د حاجي زامن او نږندې یې هم نیولې دي. د حاجي د کورنۍ د غړو

شمېر درویشت تنه کېږي. زامن، نږندې او نور یې کوچني لمسیان دي. درې تنه پکې د پاخه عمر لرونکي دي، د کورنۍ ټولو ځوانانو یې زده کړې کړې دي.

د دوی کورنۍ لس - دوولس تنه ټلیفون لري چې شېبه په شېبه ورته زنګونه راځي. یو پوښتنه کوي چې ایا په رښتیا د حاجي مېرمن مړه شوې؟

بل وايي؛ هلو، دا کرونا څه افت دی، پرون حاجي صیب وفات شو، نن یې دا دی ورور وفات شو. زموږ غمشریکي ومنئ. موږ هیله لرو چې دا ټول خبرونه دروغ وي، خو د حاجي کورنۍ چې څومره دوی ته وايي چې موږ یو هم نه یو ناورغ، بیا هم ټلیفونونه راځي او هر څوک هرڅه وايي.

دوی اړ شول خپل ټلیفونونه بند کړي. په دې وختونو کې له هر لوري او هرې خولې عجیبه خبرونه او ګونګوسې اورېدل کېدې. نور نو په خپله د حاجي مرګ هېر، بلکې د ټولې کورنۍ د مړینې خبرې کېږي، د کورنۍ غړي له دغو اوازو په تنګ دي. ماشومان هم له دې غمځپلي پېښې اغېزمن دي، دوی له دې غمجنې فضا څخه د بامونو شا ته ځي. پر بام باندې ترپال اواروي او لمر ته په لوبو بوختېږي. بله ورځ خلکو ګونګوسې جوړې کړې چې د حاجي د کورنۍ غړي دومره کمزوري شوي چې په پښو نشي درېدای او ماشومان هره ورځ د دوی د کور پر بامونو لکه هغه کبان چې له اوبو څخه وچې ته را لوېدلي وي لغړي (اوړي را اوړي).

دا ګنګوسې نورې هم ډېرېږي، خو په خپله د حاجي د کورنۍ یو غړی هم ناروغ نه دی. دوی هر سهار موټر کې کېني او یو ځل د حاجي قبر ته ورځي. هلته ډیوې بلوي او د قران کریم تلاوت

کوي، که کوم ځل خپل ټلیفونونه روښانه کړي، بیا د زنګونو بـاران جوړ شي، خو دوی چاته زنـګ نشيـ وهـلای. یـو پوښـتنه کـوي ستاسې ګاوندي ویل چې نن یې د حاجي ورور روغتون ته بـوت، بل یو بیا د یوه بل ګاونډي له خولې وایي چې پرون ماښـام مـو لـه کوره بله جنازه ووته؟

ګونګوسې دومره ډېرې او تودې شوې چې زیاترو ومنلې. پـه دې کې د نواباد د سیمي ډوډۍ پخوونکي او ملا امام هم دا خبرې کولې.

یو بل دود او دستور دا دی چی نواباد کې خلک اوږه کـور کـې لمدوي او بیا هغه داش یا نـانوایي تـه وړي، د نوابـاد نـانوایي یـوه ډوډۍ په درې افغانیو پخوي، خو له هغې ورځې چې د حـاجي د مرګ خبر خپور شوی نانوای او داش هم د چا ډوډۍ نه پخـوي او ملا امام هم چې هره شپه به په یو کور مېلمه و اوس د حاجي دوی د کوڅې کورونو ته د ډوډۍ له پاره نه ځي.

داسې برېښېدل چې د حاجي کورنۍ او غړي نه یوازې دا چـې د غمشریکي وړ نه دي، بلکې بدنام هم شول. د حـاجي د جنـازې تر ټولو ترخه اوازه دا وه چې ګواکي جنازه یې په درې لکـه افغـانیو خښه شوه. داسې ویل کېدل چې دولت پـه قصـدي ډول د بهرنیـو مرستو د ترلاسه کولو په خـاطر د کرونـا د ناروغـانو شـمېر زیـات ښیي، نو کېدای شي دغه درې لکه افغانۍ د حاجي کور تـه تللـې وي، ترڅو حاجي د هغه د جېب له شیانو سره خښ کړي خلکو دا هم ویل چې وروسته تر دې معاملې د حاجي کورنۍ هره شپه هغه په خوب کې په چیغو ویني چې وایي:

«زما کفن ولې جېبونه لري؟ دا کفن نه دی دا کلاغ دی». حـال دا چې حاجي د سیمې یو شتمن سړی و او هـیڅ کومـه اقتصـادي

ستونزه یې نه لرله.

همـدا گونگوســې او اوازې لا هــم خپرېـدې، خـو د حــاجي کورنۍ په دې لټه شوه چې د حاجي د مرگ دلایل پیدا کړي. دوی ته یوه لویه پوښتنه همدا وه چې ایا پـه هغـه شـپه چـې لـس بجـې حاجي دوی ته د خپلې روغتیا ډاډ ورکړی و، بیـا د سـهار تـر درې بجو څه پېښ شول چې د هغه د مړینې لامل به شوي وي؟

د حاجي د مړي په هکله بېلابېلې کیسې جوړېدې، کورنۍ یـې دا هم ومونډله چې هغه د شپې تر دوولسو بجو هم روغ او ژوندی و، خو د شپې دوه بجې نفس تنگي ورته پیدا شـوې ده، د ا وخـت ډاکټرانو د تنفس ماشین ورته لگولی، نو هره خبره چې ده، همـدا د تنفس د ماشین له لگولو سره تـړاو لـري. ایـا د ده نـاروغي دومـره سخته شوې وه چې نور ناطاقته شوی و او که د اکسـېجن دسـتگاه ډېره هوا پمپ کړې چې د ده رگونه یې چاودلي؟

دغو پوښتنو ته هېڅا هم منطقي ځواب نه درلود. نه د روغتـون ډاکترانو، نه روغتیا پالو او نه هم دولتي بنسټونو، هېڅا دا خبره رڼـه نه کړه. د حاجي مړینه لکه د یوه غیر قصدي قتل په څېر گونگـه او مشکوکه وه. ټولو فکر کـاوه چـې حـاجي د ډاکټرانـو او نرسـانو د نابلدۍ له امله لومړی خپک شوی او بیا وفات شوی دی.

د کرونا د ځانگړي روغتون یوه کار کوونکي ویل په غزني کې د کرونا د روغتون زیاتره ډاکتران د اکسېجن دستگاه نشيـ لگـولای، دغه ماشین درې ډوله او د درې درجو لرونکی دی، لومړی یـې پـه همزمان ډول هم له دستگاه او هم له خولې تـنفس کـوي، دوهمـه درجه یې داسې ده چې په کم فشار سره نـاروغ تـه هـوا ور رسـول کېږي او دریم ډول کې کله چې د ناروغ د تنفس سېستم بیخي لـه


کاره لوېدلی وي، نو ناروغ له دې ماشین پرته ساه نشي ایستی، نـو دغه ماشین یې هوا (اکسېجن) ور رسوي.

همدې کار کوونکي زیاته کـړه، د غـزني روغتـون د ډاکټرانـو د نابلدۍ او د ناروغانو د زیـاتوالي لـه املـه ډېـرې تېروتنـې کېـږي. کېدای شي د حاجي مرګ هم همداسې یوه تېروتنه وي. هغه ویل؛ که دستګاه په لوړ فشار هوا پمپ کړي، رګونه چـوي. دا داســې ده لکه څوک چی په پمپ یو توپ پړسوي. که ډاکـتر او روغتیـا پـال ښه بلد او پوه نه وي، یا خپل کار په سم ډول تـرسره نـه کـړي، نـو ناروغ هم لکه د توپ په څېر له یوې خوا یې د پوزې د بندېـدو لـه کبله څوک غږ نه اوري او له بلې خوا یې رګونه له هوا ډکېږي.

دغه ټولې خبرې له یوې خولې بلې ته تلې راتلـې او ګونګسـې ډېرې وې. دا وخت هېڅا هېڅ هم نشو کوی، خو د حاجي کورنۍ هماغسې حیران پاتې وو.

د حاجي له مړینې او خښولو اووه ورځې وروسته له کابل څخه د هغه د ازموینې پایله را ورسېده، یعنې د هغه مړینه د کرونا له امله نه وه. دې پایلې یې د کورنۍ له پاره د ګناه احساس لا زیات کړ. د حاجي د کورنۍ غړي د افغانستان د شـیعه ګـانو د تقلیـد د مرجـع یعنې ایت الله محقق کابلي دفتر ته ورغلل، کله یـې چـې موضـوع ورته وویله، له هغوی یې هدایت وغوښت. د ایت الله دفتر په درې شرطونو د قبر ببرته پرانیستل او بیا خښول جایز و ګڼل:

لومړی، دا چې جسـد نـه وي پاشـل شـوی، دوهـم؛ مـړي تـه سپکاوی ونشي او درېیم دا چې په سلو کې سل ډاډمن شئ چې د هغه مړینه د کرونا له امله نه وه.



د حاجي کورنۍ د تقلید د مرجع د دفتر پر لارښوونې سربېره، د قبر د بېرته پرانیستو په موخه د کابل د عدلي طب مشوره هم واخیسته. په پای کې دوی د اختر په څلورمه له اوبو، اور، کفن او تابوت سره هدیرې ته ورغلل. د حاجي قبر یې بېرته پرانیست، سره له دې چې د حاجي جنازه یوه اونۍ تر خاورو لاندې وه، په ډېرې ناباورۍ سره په بشپړ ډول سره سلامته وه، د دې دلیل هغه پراشوټ وبلل شو چې پکې نغښتې و.

دا ځل د تدفین مناسک ټکي په ټکي ترسره شول؛ جنازې ته یې غسل ورکړ، د وروستي ځل له پاره یې د هغه مخ وکوت او مخه ښه یې ورسره وکړه. ورپسې د جنازې لمونځ او بیا تلقین وشو. حاجي خاورو ته وسپارل شو. له دې مراسمو او د پایلې له منفي کېدو وروسته اوازې او ګونګوسې کمې شوې، خو بیخي ورکې نه شوې.

یوه ورځ د سیمې نانوای، ملا امام او د سیمې د پرمختیایي شورا مشر څو تنه سپین ږیري راټول کړل او دوی ته یې وویل که تاسې وایاست چې دغه کور کرونا نه لري، نو زه یې ډوډۍ پخوم، پرته له هغه یې ډوډۍ نه پخوم. ټولو مثبت نظر ورکړ او ومنل شوه چې د حاجي د کور ډوډۍ به پخوي، ملا امام لا هم لکه د پخوا په څېر په کورونو کې نه مېلمه کېږي. هغه ټولو ته وویل، د مېلمستیا پر ځای دې هره شپه له هر کور څخه درې درې سوه افغانۍ ورته را ټولې کړي، هغه به هره شپه خپله خپل ځان مېلمه کوي او د خلکو د شریف وخت مزاحم کېږي به نه. خلکو ومنله. دا هغه یواځینی رواج او دود و چې په غزني کې له کرونا څخه وروسته د لومړي ځل له پاره له منځه ولاړ او بدل شو.

د حاجي د کورنۍ غړو څه کم دوه میاشتې د خلکو د ګونګوسو تر تورې تیارې لاندې ژوند وکړ او وځورېدل. دوی ټول په دې موده په یوه ډېر بد روحي وضعیت کې وو. جسمونه یې په کور کې، خو ټولنې د دوی روح هدیرې ته وړی و. دوی داسې ګڼله چې په ډله ییزه توګه ښخ کړل شوي دي. حال دا چې د حاجي تر مړینې وروسته د ده د کورنۍ یوه غړی هم کوم شکمن ټوخی نه درلود سره له دې چې د کرونا په دوهمه څپه کې هم د افغانستان او هم د غزني یو شمېر خلک کرونا ونیول او ډېر مړه هم شول، خو د حاجي په کورنۍ کې څوک ناروغ نه شول، ان دا چې د کورنۍ ډېر بوډا کسان یې هم د کرونا له څپې روغ ووتل.

اوس دا دی د حاجي له مړینې څه کم یو کال تېر شو، کورنۍ یې لږ لږ د هغه نشتوالی منلی دی او پرته له هغه یې له ژوند کولو سره ځان عادت کړی، له دې ټولو سره سره دوی د هغو بدو ورځو له یادونې څخه په کلکه ډډه کوي، هڅه کوي دا غم هېر شي، خو د هېرېدو نه دی.

# جنازې ته وسله وال کمین

درې کاله مخکې تر دې چې د کرونا نوم لا چا نه و اورېدلی، د لوگر ولایت په محمداغه ولسوالۍ کې یوه بوډۍ ښځه ناروغه شوه. ناروغۍ یې د اوسنۍ کرونا درې نښې درلودې: ټوخی، سینه بندي او نفس تنگي. دغو درې نښو او ناروغۍ د مور او د هغې د زامنو ژوند ور تریخ کړی و.

دې بوډۍ درې زامن لرل چې ټولو ته یې ودونه هم کړي وو، خو ټول په یوه کور کې اوسېدل. زامنو خپله مور په پرله پسې ډول ډاکترانو ته وړه چې گوندې درملنه یې وشي. ډاکترانو ویل، مور یې د زړه ناروغي لري، نو ځکه یې د زړه د ناروغۍ درمل ورکول. په دې دریو کلونو کې د درملو ډېر پاکټونه او کڅوړې تشې شوې، خو د مور ناروغ زړه روغ نشو. له دې ټولو سره سره مور د کرونا تر وخته خپل ژوند ته دوام ورکړ.

کله چې د ۱۳۹۹ل کال په پسرلي کې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي له پاره په افغانستان کې سراسري قرنتین شو، د لوگر مرکز، د پل علم ښار هم لکه د هېواد د نورو ښارونو په څېر اجباري قرنتین شو. د محمداغې خلکو هم قرنتین ته غاړه کېښوده

او رعایت یې کړ. د قرنتین لومړۍ ورځې ډېرې د وېرې او اندېښنې ورځې وې. یو څو ورځې د پل علم ښار بیخي رخصت او تش و، له ښوونځیو نیولي، تر جوماتونو او هټیو ټول تړلی وو، خو د ښار خلکو تر ډېره پورې دغه وضعیت زغمی نشو، د حکومت له ډېرو خبرتیاوو سره سره ورووسته تر یوې اونۍ ورو ورو دروازې بېرته پرانیستل شوې، ژوند د نیمه قرنتین حالت په توګه روان شو، خو د بوډۍ ژوند لا هم په یو وېښته پورې تړلی دی.

د کرونا د اړو دوړ دوه میاشتې تېرې شوې، په دې ټوله موده کې د بوډۍ مور حالت ورځ تر بلې نور هم بدتر شو. زامنو یې په سمه توګه پالـله. هغې خوارې ټوله ورځ په زګېروي تېرولـه او خواړه یې هم زړه ته نه کېدل. ورو ورو دومره کمزورې شوه چې یوازې څرمن او هډوکي ور پاتې وو. هر ځل به چې نفس تنګي وربانديې راغله د زامنو ساه به هم تنګه او زړونه به یې ودرزېدل.

زامن د خپلې مور درد ته کړېدل، خو د کرونا له املـه یې نشو کولای روغتون ته یې بوزي. یوه شپه په ناڅاپي توګه د زړه حملـه پرې راغله او له حاله یې وویسته. زامنو یې بله لار نـه درلـوده، پـه شپه کې یې د پل علم د نایب امـین الله خـان لـوګري روغتـون تـه یوړه. په روغتون کې حالت ډېر پرېشان او خلک ټـول د کرونـا لـه امله لار ورکي وو. حالت داسې و تابه ویـل، لـه کرونـا پرتـه بلـه ناروغي نشته. که به څوک د ماتې شوې پښې د درملنې له پاره هـم راغی، د یـوه کرونـایي نـاروغ پـه څېـر چلنـد ورسره کېـده. د دې وضعیت له امله ډاکترانو د بوډۍ له منلو ډډه وکړه، دوی ویل چې د ناروغۍ نښې یې ټولې کرونا ته ورته دي. کېدای شي د کرونا لـه امله په نفس تنګۍ اخته شوې وي، خو زوی یې ورته وویل:



«داسې نه ده، مور مې لا د کرونا له نــاروغۍ مخکــې دا نښــې لرلې. که اوس يې د کرونايي ناروغيو روغتون ته ولېږدوم، هلته بــه هرو مرو په کرونا اخته شي».

په پای کې تر ډېر جنجال وروســته بــوډۍ همالتــه بســتر شــوه. ډاکترانو مخکې تر نورو چارو د کتنې له پاره د هغې وينه د ولايــت کرونايي روغتون ته ولېږله. روغتون وينه د کتنې لــه پــاره کابــل تــه ولېږله. دوه ورځې تېرې شوې، دا وخت مور د کوما په حالت کــې وه. زامن يې د ښه کېدو په تمه وو، خو تر غرمې وروسته يــې مــور وفات شوه.

د مور له مړينې وروسته زامنو غوښتل خپله مور په لازم دود پــه ښه ډول خاورو ته وسپاري. مسلمانان باور لري څومره چې جنــازه کې ډېر خلک ګډون وکړي، هــومره د مــړي روح تــه زيــات ثــواب رسېږي. د جوماتونو ملا امامانو ډېر ځله پــه دې هکلــه جومــاتونو کې خبرې کړې دي او خلک يې هڅولي دي چــې خامخــا جنــازه کې ګډون وکړي. دوی وايي د مړي اروا له الوتو وروسته د مړي تر ښخولو پورې د جسد شاوخوا ګرځي او ټولې پېښې ګوري.

د دې مېرمنې زامن پرته له دې چې ډېر ديندار خلــک دي، ډېــر ولسی خلک هم دي. هر يو يې هلته نوم، ډېر دوستان او دښــمنان لري. يو يې د يوه ښوونځي سرمعلــم دی، بــل يــې نــامتو ســوداګر دی، بل يې د پوليسو قوماندان دی او د سيمې ډېر ځوانــان يــې تــر امر لاندې دي.

دوی ته لکه د لمر په څېر څرګنده ده چې مور يې له کرونا څخــه نه، بلکې د زړه د ناروغۍ له امله وفات شوه، نو ځکه هغه بايــد لکــه د عادي وفات شوو په څېر او لکه هغسې يې چې څو کالــه مخکــې

پلار په درنښت خاورو تـه سـپارل شـوی و، بایـد ادې هـم هغسـې خاورو ته وسپارل شي. دوی نه غوښتل د مور په تدفین کې يې ځنـډ راشي. ځنـډ او خنـډ د دوی د خجالـت او دوی تـه د ګنـاه لامـل ګرځي، نو ځکه يې د چارو سمبالول ژر ژر پیل کړل.

د جنازې خبرتیا يې ولیکه، د جنـازې او هـدیره کـې یـې د قـبر کیندلو چارې پیل کړې. د جنازې پـه خبرتیـا کـې یـې د زامنـو لـه نومونو پرته د نسبي او سببي خپلوانو نومونه هم یاد شـول. خبرتیـا دوه ځله د جومات په لوډسپیکر کې یو ځـل د ماښـام لـه لمانځـه څخه وروسته او بل ځل د سهار له لمانځه وروسته خپره شوه.

زامنو يې په پام کې لرله چې سهار به جنازه لـه روغتـون څخـه کلي ته راوړي او په محمداغه کې به غسل ورکـړل شي، تکفـین او تابوت به شي او په جومات کې به د جنازې لمونځ وشي. یو ځـل به تابوت کور ته د ننه شي چې د کورنۍ غړي د وروسـتي ځـل لـه پاره مور وویني او له هغې سره خدای پامانی وکړي، بیابـه تـابوت پورته او د کلي خوا کې به يې هدیره کې خاورو ته وسپارل شي.


دوی دا ترتیبات په داسې حال کې نیول چـې دولـت او عـامې روغتیا د خلکو هـر ډول ګڼـه ګوڼـه منعـه کـړې وه. بایـد د عـامې روغتیا له سپارښتنې سره سم، جنازه کې ډېر خلک را ټول نـه شي، لنډه وي او باید له روغتیايي پلوه پاملرنه وکړي.

که څوک د کرونا له امله یا په مشـکوک مـرګ مـړه شي، بایـد د هغه د خپلوانو له مداخلې پرته د عامې روغتیـا د کـار کوونکـو لـه خوا خـاورو تـه وسـپارل شي. کلـه چـې د لـوګر د روغتـون کـار کوونکو د جنازې خبرتیاوې واورېدې، نو د هغه وخت لـه اصـولو سره سم يې د روغتیا چارو ریاست ته راپور ورکړ. راپـور کـې یـې

ورته وويل، له محمداغې څخه يوه مېرمن په روغتـون کـې وفـات شوې ده، خپلوان يې وايي چې دا په طبيعي مرګ وفات ده، خـو د ډاکترانو له نظره هغه د نفس تنګۍ له امله وفات شوه، نو دا د کرونا يوه نښه ده، که د جنازې وخت کې د کرونا سپارښتنه په پام کې ونه نيول شي، کېدای شي د کرونا د خپرېدو او ناورين لامل شي.

د عامې روغتيا کار کوونکي سودا کـې شـول، نـو ځکـه يـې د ولايـت امنيــې قومانــدانۍ تــه خــبر ورکــړ. د دغــه ولايــت د يــوه اوسېدونکي او د پېښې د شاهد د وينا لــه مخــې امنيــې قومنــدانۍ درې رېنجره پوليس روغتون ته را ولېــږل چــې د دې وفــات شــوې ميرمنې امبولانس تر هديرې ورسوي او جنازه بــه د کرونــايي مــړی په څېر وي، خو دې پرېکړې نه يوازې دا چــې جنــازه لــه کرونــايي شرط سره سمه سمبال نشو کړای، بلکــې وســله والــه شــخړه پــرې وشوه او نږدې وو لويه پېښه وشي. هــديره کــلي تــه نــږدې وه او د وفات شوې مېرمنې زامنو هديره کې قبر کينــدلی و، خــو روغتــون ډېر لــرې و. د روغتــون مخــې تــه څــو رېنجــر وســله وال پــوليس ودرېدل چې جنازه تر هديرې پورې امبولانس ورسره ورسوي.

له بلې خوا د مړي کور ته نږدې ډېر زيات خلک راټــول شــوي دي، لا نور هم را روان دي، تر زرو ډېر خلک راغلــل چــې جنــازه لکه د پخوا په څېر وشي، خو دولت وايي، جســد بايــد امبــولانس کې پرته له غسل او جنازې هديرې او قبر تــه لاړ شي. دلتــه د کــلا تر مخ خلک ارام او په ادب سره ناست دي، انتظار زيــات شــو. دا چې د امنيتي کسانو او د متوفي د زامنو تــرمنځ څــه تېرېــږي چاتــه معلومه نه ده.



د دوی خبرو کومه پایله نه لرله، امنیتي پولیسو جنـازه د هغـې د زامنو له خوښې پرتـه امبـولانس تـه پورتـه کـړه او لـه وسـله والـو رېنجرونو سره مخ په هـدیره روان شـول. د غبرګـولي د میاشـتې د یوې ورځې د سهار نهه بجې دي. د متوفي غوسه ناکو زامنـو ډول ډول وسلو ته لاس کړ او په موټرو کې د مرکز خوا تـه روان شـول، ۳۵ کیلومتره لار یې شلو دقیقو کې ووهله ځانونه یې پـل علـم تـه ورسـول د امبـولانس او رېنجرونـو لاره یـې مخکـې تـر دې چـې هدیرې ته ورسېږي، بنده کړه.

هغه زوی چې د پولیسو قومندان دی له څو تنو په پیکـا وسـلو سنبال افرادو سره یو ځای کمین کې شول او سـنګر یـې ونیـو. یـو ساعت نور هم کشمکش کې تېر شو، خو یو هـم لـه خپـل دریـځ شخه نه په شا کېږي. د عامې روغتیا کار کوونکي چـې پـه سـپینو پراشوټي جامو او غټو عینکـو او کرونـایي لاس پوښـونو سره خلکو ته لکه نکیر او منکر غوندې ښکاري، وایي چې همـدا اوس هم دکرونا ناروغان ډېر دي، که د بې احتیاطي له املـه کرونـا نـوره هم خپره شي د دې ناورین ځواب به څوک وایي؟

دا یې هم اضافه کړه چې:

«له جنازې سره په ډېر لږ تماس کرونا خپرېـږي، ټـول ښـار بـه ونیسي هدیرو کې به ځای پاتې نشي د دې مسئولیت څوک په غاړه اخلي»؟

پولیس څه نه وایي، خو اړ دي لارښوونې عمـلي کـړي. دوی د روغتیا د کارکوونکو د خبرې پلوي وو. لارښـوونه ورتـه شـوې وه چې جنازه یې باید خپلوانو ته ونه سپارل شي او پرته له کوم دود او شرعي مراسمو دې خاورو ته وسپارل شي، خو یـو د بـل خـبره نـه

مني، د متوفي يو زوی په زور د امبـولانس دروازه پرانيسـته، جنـازه يي را وايسته، دا وخت د ټوپکو غړونه شول، جنازه په ميـدان پـاتې شوه او دواړه لوري هوايي ډزې کوي وروسته يې د ټوپکـو ميلونـه يو بل ته مخامخ کړل دواړو لوريو ګوتې پر ماشه ايښي، خو ماشې نه کشوي، مخکې تر دې چې څو نورې جنازې پر ځمکه پرېوزي، چارواکي مداخله کوي او پوليسو ته وايي سيمه پرېږدي.

له غرمې مخکې يوولس بجې د روغتيا کارکوونکو يو ځل بيا د متوفي زامنو ته اخطار ورکړ چې تاسـې سپاربښـتنه پـه پـام کـې نـه نيسئ، نو که په کرونا اخته شوئ، هېڅ روغتون به ستاسې ناروغان ونه مني. د متوفي يو زوی ورته وويل ژر له دې ځايه لاړ شـئ. تـر شخړې وروسته د متوفي زامنـو جنـازه د محمـداغې ولسـوالۍ تـه ورسوله، هلته يې د خپلې مور جنازه له ټولو مراسـمو سره سـم پـه درناوي خاورو ته وسپارله.

# كرونا وهلي واده

زه «مختار علي نوري» یم. تر نهم ټولګي مې زده کړې کړې دي، له هغه پورته تحصیلات نه لرم. دا د بامیان د څووم درجه ښــوونځي زده کړې د نړۍ له اوسني معیار سره څومره برابرې دي چې زه یــې په زده کړو کې وشــمېرم. هرڅــه چــې دي، مــا دا نــه غوښــتل، مــا غوښتل لکه د خپلو ډېرو نورو همزولو پــه څېــر زده کــړې وکــړم او پوهنتون ته لاړ شم، د کوچنیــوالي لــه هیلــو سره ســم، کــورتۍ او پتلون واغوندم، خو د بېوزلۍ له امله دغــو هیلــو تــه ونــه رســېدم. اوس د بامیان په «شش پل» کلي کې په همدې هم خوښ یم.

په۱۳۸۷ل کال مې نور د لوست د دوام له هیلې لاس واخیست او لاره مې له ښوونځي څخه د بامیان د ښځینه بڼ لور ته کږه کړه. پنځلس یا شپاړس کلن به وم چې خپــل لــومړنی کاروبــار مــې پــه همدې بڼ کې پیل کړ. دا کوم لوی کاروبار نه، بلکې د کاروبار یوه شاګردي وه. زه دلته په دې بڼ کې د ژېــړو وېښــتانو لرونکــې یــوې ښایسته کاناډایي مېرمنې سره د پخــلي او پخلنځــي پــه چــارو کــې شاګرد شوم. هغــه پــه بامیــان کــې د یــوې نړیــوالي موسســې کــار کوونکې وه.

هغې یوې شپږ میاشتنۍ دوره کې ماته هم د پخـلي کولـو درس را کاوه او هم یې هره میاشــت څلوېښــت امریکـایي ډالـره معـاش راکاوه. هغـه وخـت څلوېښــت ډالـره لکـه د اوس پنځـه لـس زره افغانۍ داسې وې، دا د یوه بامیاني ځوان له پاره چې کـوم مهـارت او حرفه نه لري، ډېرې زیاتې پیسې وې. په دې سره ډېر خـوښ وم له ژوند مې پوره خوشاله وم او د ګټې احساس مې کاوه.

په دې بوختیا سره مې چې د لوست هیله هېره کړه، یوه بله هیله راته پیدا شوه چې هغه د پیسو پیدا کول وو. پیسې را ته له هره پلوه مهمې وې، یو خو دا چې په هغو سره خپلې مینـې تـه رسـېدم، لـه کوچنیوالي مې د ماما لور راته ګرانه وه. څو کاله کېـږي چـې مامـا مې مزار شریف ته کډه کړې ده، زړه مې هم ورسره مزار شریف تـه تللی دی. له کلونو را په دې خوا چې یوازې شم، خیال پلو وهـم. په خیالونو کې زوم کېږم او د ماما لور مـې نـاوې کېـږي. سـلګونه ښځې او نارینه زموږ شاوخوا ته دي او دوستانو او ملګرو سره مې خوښي کوي. که دا خیالونه راسره نه وای، نو ما بـه دا څـو کلونـه څنګه په پخلي او پخلنځي کې تېرول.

کله چې په ښځینه بڼ کې د پخلي زده کولو شپږ میاشــتنۍ دوره پوره شوه، د بامیان د کمپ (بودا هوټل) کې په کـار بوخـت شـوم. هلته هم لومړی شاګرد وم، وروسته بیا اشـپز او بیـا د هوټـل مـدیر شوم.

په بودا کمپ کې وروسته تر دوو کلونو او څو میاشتو مې پـوره پر ځان باور، تجربه او پوره زیـاتې پیســې درلـودې. غوښـتل مـې ډایکنډي تـه لاړ شـم او پـه نـیلي ښـار کـې یـو ښـکلی هوټـل او مېلمستون جوړ کړم. کله مې چې ډایکنډي کې د «بـادام ګـل» پـه



نوم مېلمستون پرانیست، ډېرى داسې ښځې مې لیدلې چې زه یې نېکمرغه کولم. لومړۍ ښځه د هغه رنګین خوراک مینو وه چې د ډایکنډي د هوټلونو په تاریخ کې یې سارى نه و.

مسافرو چې د ډایکنډي له خوراکونو څخه څه په ذهن کې لرل، هغه یوازې وریجې، قورمه او ښوروا وه چې په دیګ کې یې له نورو موادو او مسالې سره په ګډولو سره چندان ښه شی نه جوړېدل، خو ما غوښتل د قابلي، کباب، قورمې او نورو بهرنیو خوراکونو په ور زیاتولو سره پخوانۍ موازنه ګډه وډه او داسې خواړه برابر کړم چې له ډېره خونده مېلمانه ګوتې په شوق سره وڅټي.

بله ښځه چې د ډایکنډي بازار یې تود کړى و ټاکنې وې، دا وخت مو ډېر پیرودونکي لرل، خو وروسته تر هغه بیا بازار سوړ شو. زما د «بادام ګل» پیرودونکي لږ شول. او بیا یو وخت له ماتې سره مخامخ شوم، همدا وخت پوه شوم چې ځینې وخت ښې ښځې یو څوک بېلارې کولاى هم شي.

وروسته له هغې مې له ډایکنډي کډه بار او بېرته بامیان ته راغلم. هلته مې د بامیان یو نامتو هوټل ته چې «غُلغُله» نومېږي، د کار کولو غوښتنلیک ورکړ. هغوى ډېر ژر مثبت ځواب راکړ. اووه لس زره افغانۍ یې معاش راته مقرر کړ. څو میاشتې مې کار وکړ، پوه شوم چې د میاشتې په اووه لس زره افغانیو ژوند نشم کولاى. که په دې معاش قناعت وکړم، پوروړى به شم او د ژوند ټول خیالونه به مې لکه د زده کړو د خیال په څېر له منځه لاړ شي. پرېکړه مې وکړه باید داسې لار غوره کړم چې بل هر هغه څوک هم هماغه کار وکړي لکه زما په موقعیت کې چې وي. هغه لار چې

زړورتوب غواړي، هغه بدلون منل دي. دا که ژوند وي او که مرگ، البته ما پکې هغه لار غوره کوله چې ښه ژوند وي.

غوښتل مې د ایران، ترکیې او یونان له پولو واوړم او د غوره هوا لرونکو اروپایي سیمو خواته چې ښه کاروبارونه هم پکې شته، ورسېږم. دوه ځله مې زړه غټ کړ ور روان شم، خو له بده مرغه بریالی نه شوم، یوازې د ایران تر پولو ورسېدم. لومړی ځل ایراني ځواکونو له زاهدان ښخه په ډبولو بېرته را وشړلم، دوهم ځل یې له کرمان ښخه بېرته را وشړلم. البته دا تلل لکه د دې جملو په څېر اسانه نه وو.

د کرمان په پندغالي کې یې داسې بلا را باندې راوسته، په دې قانع شوم چې تر هر ځای زما خپل وطن غوره دی که مرم که ژوندی پاتې کېږم، باید خپل گران هېواد کې و اوسم. له دوه ځله ناکام تگ وروسته په دې پوه شوم چې یو څوک کولای شي د خپل هېواد له ښه او بد دواړو سره گوزاره وکړي، خو پردي وطن کې گوزاره نه کېږي، بلکې یو غم یې دوه او دوه یې څلور کېږي.

بامیان ته چې را ورسېدم د کار موندني له پاره یو ځل بیا هماغه پخواني ځای د بامیان غُلغُله هوټل ته ورغلم، خو دا ځل د سر اشپز په توگه مقرر شوم. وروسته تر دوه کاله کار کولو د (گل بادام) د مېلمستون او دوه ځله ایران ته تگ له پوروونو خلاص شوم. له دې سره یو ځای مې وکولای شول، د ماما له لور سره مې په مزار شریف کې کوژده وکړم. له دې وروسته مې د واده کولو په هکله خیالونه نور هم زیات شول. د ۱۳۹۷ل کال لوی اختر را نږدې و چې خپل معاش مې مخکې تر مخکې واخیست او مزار شریف کې مې خپلې کوژدنی ته اختریز سوغاتونه ور وړل. کله

چې بېرته راغلم، د هوټل له مالي څانګې سره مې حساب او کتاب وکړ، له دوی څخه شپږ پنځوس زره افغانۍ پوروړی شوی وم.

که د نوي کال تر نوروز پورې مې کار کړی وای، ایله له پور خلاص شوی وای. دغه پور ماته یوه بله پوښتنه را پیدا کړه، ایا کولای شم په دغه معاش سره په هوټل کې ژوند وکړم؟ البته ځواب «نه» و.

زړه مې و په دایکنډي کې یو هوټل ولرم، نو د ۱۳۹۸ل کال لومړۍ ورځې وې چې نیلي ته لاړم او د نیلي په زاړه بازار کې مې یو هوټل پرانیست. دا په دایکنډي کې زما د هوټل جوړولو دوهمه تجربه وه. دغه دوهمه تجربه مې ډېره بده نه وه. ورو ورو مې کارونه ښه شول او د (قلب اسیا هوټل) کارونه مې مخ پر وړاندې وو، پیرودونکي پیدا شول، دومره کچې ته ورسېدم چې له خپل کار ډېر خوښ وم.

د ۱۳۹۹ل کال له نوروز مخکې مې پرېکړه وکړه نور نو باید واده وکړم. نوروز ته یو څو ورځې پاتې وې چې د دایکندي پر اوږده لاره را روان شوم، لومړی بامیان ته، بیا کابل ته او له هغه ځایه مزار شریف ته لاړم. د ۱۳۹۹ل کال په نوروز کې چې مزارشریف ته ورسېدم، کرونا هم په بیړه له چین څخه ایران ته او بیا له ایران څخه هرات ته را ورسېده، خو وېره او اندېښنه یې لا زیاته او له هغې مخکې را روانه وه. دغې وېرې په ټولو ښارونو او خلکو سیوری غوړولی و. ماما ته مې چې وویل باید د واده له پاره ځان تیار کړم، راته ویې ویل: «زویه، صبر وکړه چې کرونا تېره شي».

نور نو کرونا داسې پېښه نه وه چې په پام کې ونه نیول شي. د هغې له وېرې ټولو ځانونه په کورونو کې بندیان کړل. دا هغه

ناپېژندلی دښمن و چې ډېر خلک یې سودايي کړي وو. هر څوک له خپل ځان هم وېرېدل. هر سړی په دې وېره کې و چې کرونا یې تر پوستکي لاندې ننوتې او همدا اوس به یې ژوند ورختم کړي.

کله چې له مزار شریف بېرته بامیان ته راستون شوم، د دنیا بڼه بیخي بدله وه. بامیان هم بدل شوی و. تا به ویل په بامیان کې هېڅ ژوندی موجود نشته. ټول په سوریو ننوتي وو. لکه کرونا خلکو ته امر کړی و چې ژوند نور منعه دی. یا یې په یوه فرمان سره ویلي وو، تاسې نور د دې حق نه لرئ، د ځمکې مخ ډک او ناولی کړئ.

وروسته تر څو میاشتو چې خلک په سوریو ننوتي وو، خوراکي توکي یې خلاص شول، په دغه ډول سرګردانه ورځو کې یوه ورځ زما یو ملګری «غلام» له پاسپورټ سره یو ځای را ورسېد. هغه ویل چې نور نو بامیان کې نشي پاتې کېدای. غلام ویل غواړم خامخا ایران یا پاکستان ته لاړ شم.

غلام ته مې وویل هر ځای ته چې لاړ شې، همدا ځمکه او همدا اسمان او همدا کرونا ده. دواړه یو ځای ډایکنډي ته لاړو. نیلی ښار تړلی و، زما هوټل هم کوم مشتري نه درلود. خوراکي توکي او سبزیجات نه موندل کېدل. یو من پیاز په پنځه سوه افغانۍ وو. زه او غلام له یو څه پیسو سره چې په سود مو پور کړې وې، غوښتل مو د قحطۍ له دې وضعیت ګټه وکړو او ډایکنډي ته سبزیجات راوړو، نو د یو سل او دېرش زره افغانیو په بیه مو سبزیجات له کابل څخه نیلي ښار ته راوړل. سبزیجات مو چې د خرڅلاو له پاره کېښودل، کوم پیرودونکی به چې راغی له جیب څخه به یې د مکروب ضد درملو بوتل را وکیښ او په بانجانو به یې وشینده هغه به یې ضد عفوني کول، لږ وخت کې زموږ

سبزیجات وراسته او شپېته، اویا زره افغانۍ تاواني شوو. له دې وروسته پوه شوم چې سبزیجات خرڅول تر ټولو سخت کار دی.

له نوروز دوه میاشتې تېرې وې، خو زما د ماما په وینا؛ لا هم کرونا پای ته نه وه رسېدلې، بلکې نوره هم وېرووونکې شوې وه، زه یې دومره وېرولی وم ما ویل له نړۍ څخه به ناکام لاړ شم. له همدې وېرې مې په خپلې کورنۍ او د ماما په کورنۍ فشار راوور هر ډول چې وي باید واده راکړي. حق مې و بېره وکړم. په ټلویزیونونو او فېسبوک پاڼو کې خبرونه راتلل چې کرونا هره ورځ ډېر خلک وژني.

د نړۍ د حالاتو د ښه کېدو کوم څرک نه لګېده، هره شېبه مې فکر کاوه که زموږ د یوه تن تر پوستکي لاندې کرونا ننوزي زموږ ستونی بندوي. اوس نو که په دې ډول مې کرونا ووژني څه؟ او که لوکسه کورتۍ او پتلون او سره عاشقانه نېکټايي پر غاړه مې ووژني څه؟

بله لار نه وه، په سلو کې شل سود باندې مې درې لکه افغانۍ پور کړې او د واده کولو له پاره مزار شریف ته لاړم. هلته چې ورسېدم، ښار ټول قرنتین و، ټول ځایونه رخصت وو. دوه اونۍ مې صبر وکړ چې پلورنځي پرانیستل شي او موږ د واده له پاره اړتیاوې پوره کړو، خو زموږ انتظار بې ګټې و. د مزارشریف د ښار وضعیت داسې و چې هټیوالو به له مجبوریته د خپلو هټیو لږ جنس بهر راوور او پټو ځایو کې به یې لکه نشه یې توکي څو برابره په لوړه بیه پلورل. پولیسو د بازار د پرانیستو اجازه نه ورکوله.

ما او زما کوژدنې پرېکړه وکړه، د اړتیاوو د پوره کولو له پاره کابل ته لاړ شو، خو یو ناڅاپه اوضاع بدله شوه او قرنتین څه ناڅه کم شو. خلک بازارونو او سړکونو ته راووتل. اوس نو زموږ د

پیرودلو وخت و. اړتیاوې مو پوره کړې او د واده نېټه وټاکل شـوه. کله چې سینګارتون ته د تلو وخت شو، هېڅ سـنګارتون پرانیسـتی نه و. د دوستانو او اشنایانو په مرسته مو د سینګار کولو له پاره یـوه مېرمن پیدا کړه. ناوې د هغې کور ته ورغله او سینګار شوه. زما وار چې راغی، سلماني مو ونه مونده، نو یو اشـنا مـو وموند چـې پـه ږمنځ او بیاتي کې لاسبری و، هغه مو د «علي چوپان» د کوڅې پـه پته را وغوښت، همدغه کوڅه کې زما د ماما کور و. زه بهر ووتلـم د یوه دیوال خواته ورتـه کېناسـتم، هغـه ماسـک او لاس پوښـوني اغوستي وو، زما تر غاړه یې یـو څـادر وتـاړه قیچـي او ږمـنځ یـې راوکښل، زما وېښتان یې په رېږدېدلو لاسونو را جوړ کـړل، خـو زه خوشاله نه وم، بلکې ډېر په غوسه وم، ځان سره مـې ویـل چـې دا دی اوس نو زوم شوم؟

دا څنګه زوم یم؟

ما څه خیالات لرل او څه وشول؟

زما وېښتان تر جوړولو مخکې ښه وو، خو له مخکې یې بـدتر کړل.

زما څو کلوښتې وېښتان یې چې قیچي کـړل نـور پاڅېـد او زه هم لاړم د خپل خسر کور کې حمام کولو تـه ننـوتم. هلتـه پـه دې ډول واده کولو ژړا راغله له اوبو سره مې اوښکې هم وبهېدې. فکر مې کاوه، ژوند د زهرو د یو سمندر په څېر دی چې پـه لویـه سـارا کې بهېږي او لکه یو تږی چې وروسته تر کلونو کلونو تنـدې پـرې ور برابر شي.

یو ډېر ساده واده مو د خسر په کور کـې وکـړ. زمـا لـه کـورنۍ څخه یوازې زما مور، دوه خوینـدې او یـوه ورور ګـډون کـړی و.

پلار مې بوډا دی او د شکرې ناروغي لري، سره له دې چې ډېر یې غوښتل، د خپل زوی واده وګوري، خو د کرونا له امله یې په لیدو ونه توانېد. هغه وخت ټولو ویل چې کرونا بوډاګان او د شکرې ناروغان ژر نیسي. ما څو ځله له خپل پلار اورېدلي وو چې یو ارمان یې زما د واده لیدل و. دا چې دا خبره یې ډېره تکراروله، نو زه پوهېدم وېره یې دا ده چې زما له واده مخکې وفات نشي- او دا ارمان به ګور ته یوسي. ما به ډاډ ورکاوه چې زما واده به پرته له تاسې هېڅ کله ونشي، خو کرونا زما له ژوند سره داسې یو څه وکړل چې پلار مې له روغتیا سره سره په کور کې پاتې شو او واده ته یې راتګ ونشو. هغه خپل ارمان، زما د واده مراسم ونه لیدل.

د واده په ورځ یوازې زما د خسر یو څو ګاونډیان او یو څو نور اشنایان راغلي وو، نور څوک نه وو. ټولو ماسک او لاس پوښــوني لرل. پرته له لاس ورکولو مو سترې مشي او مخه ښه وکړل. د دې نو یوازې نوم د واده و، نور یې هېڅ شی د واده نه وو. زما له نظره واده یو څو ضروري شرطونه لري چې یو یې د ټولو دوستانو شتون، بل یې ځانګړې خوشالي او بې غمي، بل یې په فېشني جامو کې د خلکو په خندا او خوشالۍ سره ګډون کول، همدا خوشالي یو چا ته د «شاه» یا زوم کېدو احساس ورکوي، خو زما واده دا یو هم نه لرل.

زه چې یو کلیوال یم، ماته ژوند له خلکو او ولس سره ښه ښکاري. هغه ولسي خلک چې یو یې هم نه له ما زیات او نه له ما کم وي. هغه خلک چې که ډېر تارونه یې سره شلېدلي، خو ډېر یې بیا یو بل سره اوبدلي دي. ماته د ژوند کیفیت په همدې اوبدل شوو اړیکو او تارونو کې دی.



د واده له شپې وروسته چې دوستانو، مېلمنو او زما د مېرمنې له کورنۍ سره کابل تـه را روان شـوو، یـوه مـوټر کـې کېناسـتو. د غبرګولي د میاشتې یوه ورځ وه. د کابل- بلخ لویه لار چـې تـل بـه پرې ډېره ګڼه ګوڼه وه، اوس تشه وه. د سـهار نهـه بجـې شـمالي سالنګ ته ورسېدو، د هوټلونو او مېلمستونونو دورازې تړلـې وې، که درواغجن نشم، موږ په ټوله لاره کې یوازې یـوه کـوچنۍ هټـۍ پرانیستې وموندله چې له ډېرې غوسې خنـدا راغلـه، د هغـې ټـولې مېوې او کیک مو واخیست، دا په داسې حال کې چې د کرونـا پـر بې رحمۍ غوسه وم، نو خندا راتله. مېلمانه مې په کیک او د مېوو په جوس بدرګه کړل. د کیک نېټـه هـم تېـره او وچ وو، پـوښ یـې چنګاسو وهلی و او د مېوې د جوس خوند هـم نـه و. غرمـه مهـال کابل ته را ورسېدو.

له کابل څخه بې له کوم ځنډ مخ په بامیان روان شوو. پـه هغـه مازیګر چې کله د شېبر غاښې ته ورسېدو، ټلیفون مې را پورته کـړ او پلار ته مې زنګ وواهه. ډېر خوښ شوم چې د کورنۍ غـړي او دوستان به په لاره کې راته ولاړ وي.

پلار پوښتنه وکړه چېرې یاست؟

ما ورته په ډېره خوشالۍ وویـل بامیـان تـه را ورسـېدو. تاسـې چېرې یاست؟

پلار مې په خپګان او دروند غږ وویل:

«موږ ولې درشو، ورور دې زنګ وهلی چې له کوره قطعـا مـه وځئ کرونا خطرناکه ده».

موږ چې د «شش پل» کلي ته ورسېدو، څه ناڅه شل تنه نارینـه او ښځې د کور مخکې راته ولاړ وو. پلار مې په کوټه کې و او لـه

کړکۍ یې راکتل، خو د کرونا له وېرې را بهر نشو. موږ هم د شـلو تنو شاوخوا کې وو، یوه هم یو بل سره په لاس روغبړ ونه کړ. ټولو ماسکونه لرل، ځینو ښځو ټیکري پـرمخ پـېچلي وو او نارینـه وو د لنګوټې شملې پر مخ تاو کړې وې. ما او ناوې هم ماسکونه مخ ته واچول. دواړو لوریو یو بل سره له لرې لرې سترګي مشي وکړه، څو تنو له دې کبله سخت وخندل چې د خوښۍ په دې ورځ لا لـه یـو بل سره سترګي مشي نشو کوی.

لږ وروسته کله چې په خپل کور کې د خپلو خیـالونو لـه نـاوې سره کېناستم، خلکو یو بل سره کیسـې کـولې چـې کېـدای شي د لاس ورکولو او په غېږ کې نیولو رواج بیخي ورک شي. وروسته تر دې به خلک یو بل په ښنه وهي او روغبړ به سره کوي. ما ځان سره ویل خدای دې دا هر څه ورک کړي. پرېږده څه چې کېـږي، هغـه به کېږي، زه اوس زوم یم، خو پوهېدم چې ډېر پوروړی شـوی یـم او ....

# کرونا او کربلا

د ډایکنډي له مرکز «نـیلي» څخـه اتـه ویشـت کیلـومتره لـرې او د «شهرستان» د ولسوالۍ له مرکز «القان» څخه شپږ شپېته کیلـومتره لرې د «کرم زار» په نوم یـو کلـی دی. سره لـه دې چـې دا کلـی د ولایت مرکز ته یو څه لنـډ دی، خـو لـه اداري پلـوه لـه شهرسـتان ولسوالۍ سره تړاو لري. په کرم زار کلي کې اووه دېـرش «دود» یـا کـورنۍ ژونـد کـوي. دود د سر شـمېرنې واحـد دی. دغـه واحـد (کورنۍ یا دود) هم د نغري او هم د ژوند جریان دی. پـه دې کـلي کې هر سهار او مازیگر اووه دېرش ځایه د پخـلي او نغـري لـوگي پورته کېږي.

د ۱۳۹۸ل کال د مني وروستۍ ورځې وې چې د کرم زار کـلي څلور تنه د کربلا د زیارت په موخه مخ په کربلا روان شـول. دوی هر یو «یعقوب جوادي»، مېرمن یـې «خدیجـه»، «نایـب عـلي» او مېرمن یې «معصومه»[1] نومېدل. د څلورو واړو عمرونه تر پنځوسـو کلونو اوښتي وو. دوی د ژمي په لومړیو ورځو کې له یـوه زیـارتي

۱ـ په دې کیسه کې د شخصیتونو نومونه خیالي دي.

کاروان سره یو ځای مخ په عراق په الوتکه کې والوتل.

لومړی له کابل څخه دوبۍ، بیا له هغه ځایه عراق ته تلل. دوی به په عراق کې د کربلا له زیارت کولو وروسته، نجف او د شیعه ګانو نورو سپېڅلو ځایونو ته هم ورشي، بیا به د شیعه ګانو د سپېڅلو ځایونو د زیارت له پاره ایران ته ورځي. کله چې ایران ته ورسېدل، د خپلو مسافرو دوستانو د لیدو له پاره د کربلا د زیارت له نورو کاروانیانو بېل شول او یو څو ورځې هلته پاتې شول. هلته دوی قزوین ولایت ته لاړل، دا ځکه چې خپلوان یې قزوین کې اوسېږي. په واقعیت کې د کرم زار له نیمايي ډېر خلک په قزوین کې دي.

هلته کربلایان د قزوین د خلکو له هرکلي سره مخامخ کېږي. له دې امله چې د وطن بوی ورسره دی، نو ټول غواړي له دوی سره ووینې. دوی چې کله بېرته خپل کور او کلي ته د راتلو تکل کوي یو خپلوان یې ورته وايي چې تاسې ایران کې د پاتې کېدو درې میاشتنۍ ویزه لرئ، نو ژمي کې موږ سره پاتې شئ. کله چې هوا توده شوه بیا به لاړ شئ. دوی یې ورسره مني، خو څوک خبر وو چې د کرونا وبا به راځي؟ د پسرلي په راتګ سره کرونا پیدا شوه او هره خوا یې وېره خپره شوه.

کربلايي مېلمنو ټول ژمی په قزوین کې تېر کړ او ټولو یې درناوی کاوه، دوی هلته کډوالو ته د هېواد کیسې کولې. کله که به د کرونا خبر ټلویزیون کې راغی، دوی هېڅ فکر نه کاوه چې دا وبا به د دوی هېواد ته هم راشي. تر دې چې یوه ورځ د ایران راډیو ټلویزیون په «قم» کې د څو تنو په ویروس د اخته کېدو خبر خپور کړ.



دا خبر لکه د بمب په څېر وچاودېد، ټول ایرانیان، ګاونډیان یې او افغانستان ولړزېدل. په ایران کې سخت قرنطین وضعه شو. ټول افغان کډوال او په تېره د کـرم زار پـه ځـانګړي ډول چـې تـر دې مخکې یې هم چندان ښه او ارام ژوند نه درلود، خو د دې خبر پـه اورېدو سره یې یو ځل وارخطا او حیران شول.

دوی ټول له کاره بېکاره شول. چا سره یې چې کورنۍ یو ځای نه وې، په خپلو پښو مخ په افغانستان راغلل، خو د کـربلا زیـارت کوونکو د دوی د زامنو په ټینګار او د کرونا د غـلي کېـدو پـه تمـه حرکت ونه کړ او یو څه صبر یې وکړ، خو کرونا نه یـوازې دا چـې کمه نه شوه، بلکې زیاته او لا پراخه شوه.

د ۱۳۹۹ل کـال نـوروز تـه لا څـو ورځـې پـاتې وې چـې د کربلایانو د صبر کاسه ډکه او زړونه یې وطن ته په تنګ شول. نـور نو د دوی د خپلوانو ټینګار ګټه نه کوله، څلورو واړو پرېکـړه وکـړه بېرته افغانستان ته راشي. دوی همدا ویل چې مورږ کرم زار ته ځـو، زمورږ ژوند هلته دی. مورږ مهم نه یاستو، خو زمـورږ خپلـوان بـه پـه کرونا مړه شي. دوی وطن ته په راتګ ډېر ټینګار کاوه او ویـل یـې که په پښو هم وي، خو هرومرو ځو. دوه ورځې نوروز ته پاتې وې چې کربلایانو د خوراکي توکو دوو بوخڅـو او یـو څـو روغتیـایي اړتیاوو، ماسکونو، لاس پوښونو او له ضد عفـوني مـوادو سره لـه قزوین د مشهد خواته حرکت وکړ.

په ایران کې یې وروستی کار مشهد کې د حرم امام رضا زیارت کول وو. دوی دغه هیله له پنځوس کلونـو راهیسـې د کـرم زار پـه غرونو کې لرله، خو په مشهد کې وضـعیت داسـې و چـې دوی اړ شول، له خپلې دغې هیلې لاس ومينځي، ځکه چې پرتـه لـه هغـه

خپل ژوند له لاسه ورکوي.

د حوا حرم امـام رضـا لـه سـړک چـې تېرېـدل، د خـدیجې او معصومې سترګې له اوښکو ډکې وې، وروسته له دې د افغانسـتان د پولو خواته را روان شول.

دوی د ۱۳۹۹ل کال په لومړۍ ورځ ځانونه د هغـو ګـڼ شـمېر کډوالو منځ کې لیدل چې هېواد ته را ستنېدل. د هغـوی شـمېر لـه زرګونو ډېر و. اسلام کلا ته نږدې یوه ورځ وځنډېـدل نیمـه شـپه د دوی د تېرېدو وار ورسېد. دوی هغو کسانو لـه پـولې واړول چـې کرونایي د پراشوټ جامې، ډبل لاس پوښوني او عینکې یـې لرلـې او کربلایـانو تـه لکـه «نکیـر او مُنکـر» غونـدې ښـکارېدل. ټـول راستنېدونکي کډوال هلته له معاینه کېدو وروسته را واوښتل.

په ټوله لار یې، ساعت په ساعت، لاسونه ضـد عفـوني کـول، ماسک او لاس پوښوني یې بدلول. ان د موټر په چـوکۍ یـې ضـد عفوني شیندل. مسافر یې موټر کې لرې لـرې کېنـول، نـو ځکـه د موټر کرایه هم ډېره زیاته شوې وه. هرات تـه چـې ورسـېدل، ښـار ټول تش و. ټول هوټلونه او هټۍ تړلې وې. کـه پرانیسـتې هـم وو، دوی نه غوښتل څه وپېري یا کومه کوټه کرایه کـړي. اوازه وه چـې دې ښـار کـې څـو کسـان کرونـا نیـولي دي. او اوس د کرونـا پـه ځانګړي روغتون کې بستر او پرته له کوم پایواز څخـه تـر درملنـې لاندې او زنداني دي.

سره له دې چې د کومې فوتي پېښې ګزارش نشته، خو وېـره او وحشت لکه هوا هر ځای خواره دي. سړی له سړي تښتي. څـوک د چا سلام ته ځواب نه وايي، په تېره څوک چې لـه ایرانـه راغـلي، دوی هم لکه له کربلا څخه یې چې بـلا راوړې وي، خلـک ځـان

ترې پټوي، دوی سترې ستومانه ځانونه د کابل د موټرو اډې ته رسوي. د کربلا مسافر هم اډه کې ټوله شپه تېروي، د سهار څلور بجې د یو ۵۸۰ بس موټر ټیرونه مخ په کابل تاوېږي او روانېږي.

په کابل کې پنځه شپې ورځې د میرویس میدان (کوټه سنګي) په یو مېلمستون کې په بې تابۍ سره په دې تمه پاتې کېږي چې د ډایکنډي کوم موټر پیداکړي. د ډایکنډي موټر چې پیدا شي، دوی ځکه نه سپروي چې له ایران راغلي دي. خبره زاریو او واسطو ته رسېږي او په پای کې یو ډرېور پیدا شو او دوی یې سپاره کړل، په دې شرط چې د موټر نوره سپرلي پوه نشي، دوی له ایران راغلي دي. که وپوهېدل دوی به نیمه لاره کې له موټره کوز کړي. دوی له همدې وېرې دوه شپې او ورځې موټر کې غلي ناست وو تر هغو چې د نیلي بازار ته ورسېدل.

له هغې ورځې چې له قزوین وتلي وو او بیا تر دې چې نیلي ته را ورسېدل. په دې دوولس ورځو کې کربلایانو د میرویس میدان له هوټل پرته چې دوی پکې دېره وو، دوی د بازار یا هوټل یوه مړۍ ډوډۍ هم نه ده خوړلې. پاتې ټول وخت په مزل یا موټر او یا هم په سپېره میدان وو.

دوی سل واره خپل لاس پوښوني او ماسکونه بدل کړي دي. کوم لس بوتلونه ضد عفوني یې تش کړي دي. پرته له اوبو چې هغه یې هم ډېرې په احتیاط اخیستي، نور یې هېڅ هم نه دي اخیستي ان کومه ژاوله یې له کومې هټۍ نه ده اخیستې. ترڅو د ضعف احساس ونه کړي، ډوډۍ هم نه خوري. دوی دا دوولس ورځې پر هغه لږ خوراک تېرې کړې چې له ایران یې ځان سره را اخیستي وو. په هر پړاو کې یې هغه کسان معاینه کوي چې عجیب

لباسونه یې دي، له هر ښار څخه تر بل پورې بیې وار په وار لوړېږي. له هر چا سره چې مخامخ شي د کرونا خبره کوي. په ټلیفون، راډیو، او ټلویزیون کې هم پرته له کرونا بله کومه خبره نشته.

کله یې چې د نیلي پر ځمکه گامونه کېښودل، لمر د «چوگانی» د غره شاته د پټېدو په حال کې و. دوی پرته له تشو شوو بوخڅو نور هېڅ هم نه لرل. دوی پرته د ځان له جامو نور شیان ایران کې پرېښي، نور یوه ستن هم ورسره نشته. ډېر ډنگر او خوار شوي وو. د پسرلي لس ورځې تېرې دي نیلي کې د بادامو او نورو ونو گلان غوړېدلي دي، دوی ډېر خوشاله دي چې نیلي ته را ورسېدل.

له قزوین څخه تر نیلي پورې د کربلایانو د سفر ټولې ستونزې یوه خوا، خو تر کرم زار پورې یې د څو ساعتونو مزل بل خوا، نیلی کې موټر نه پیدا کېږي. یو څو زاړه فلاینگ کوچونه چې د نیلي د بازار په گراجونو کې دي، یو هم کرم زار ته نه ځي کـه دوی څومره زیاتی پیسې هم ورته ومني ډرېور نه ځي. هر یو په پېغور ورته وایي:

«په دې مهال ولې ایران ته تلـئ؟ کـه تاسې د کرونا ویروس راوړی وي، قتل عام به پیل شي، د دې مسئولیت څوک اخلي»؟

خپلوان یې له کرم زار زنگونه ورته وهي او ورته وایي چې په موټر سایکل ورپسې راځي چې دا اسانه او د حل ښه لاره وه. خو د هغې لوی مسولیت له کبله چې چلوونکي به یې لري، خپلوان یې موټر سایکل لرونکي له راتگ منع کوي. کربلایي جوادي خپل زوی ته وایي، هغه یو تش بې خاونده کور چې د کرم زار له نورو کورونو لرې دی، دوی ته ورکړل شي او له را رسېدو سره سم دې

هلته قرنتین او همالته دې دېره شي. هغه کور له پورته خوا څخه ښکته لور ته د کرم زار د کلي لومړی کور دی، اوسېدونکي یې له څو کلونو راهیسې له بېوزلۍ څخه قزوین ته تللي دي، دا څو کاله کېږي چې له دغه کور څخه لوګی نه دی پورته شوی. کړکۍ یې ترلې او نغری یې سوړ دی.

د هغې ورځې په ماښام څلور تنه ستړي ستومانه، کم توانه او بوډا مسافرین پلي له نیلي څخه د کرم زار په لوري روان شول. دوی باید ټوله شپه مزل وکړي، په لاره کې دوه نسبتاً ټیټ غاښـي، څو ناوې (درې)، څو کلي او یو ډېر لوړ غاښی مخـې تـه راځـي، ترڅو چې له هغو څخه په تېرېدو کرم زار ته ورسېږي. دوی چې له هرې درې تېرېږي، په هغې کې یو دوه ژرندې اوبه بهېږي. له هر کلي چې تېرېږي د زردالو او بادامو د ونو د غوټیو ښایسته ورږم پکی چلېږي، خو دا ښایسته ورږم د دوی ستوماني کموی نه شي.

دوی په لاره کې له هېچا هم چای یا ډوډۍ نشي غوښتی. که څوک پوه شي چې څلور تنه له ایران راغلي او په دې لاره تېر شوي دي، بیا نو ستونزې ورته پیدا کېږي. د لارې په بهیر کې اړ کېږي د یوه غاښي پر سر تر شنه اسمان لاندې په تپه تیاره کې لږ دمه وکړي او کېني. هغه لاره چې موټر او موټر سایکل یې په یو یا یو نیم ساعت کې وهي، دوی اړ دي په شپاړسو ساعتونو کې پرې لاړ شي. د هغې شپې په سبا هغه له واورو ډک غاښي ته ورسېدل چې تر هغه لاندې د کرم زار کلی دی، اوس له دې ځایه کرم زار کلی ښکاري.

د سهار نهه بجې هغه بې خاونده کور ته رسېږي، ګوري چې د کلي یو څو نارینه، ښځې او ماشومان د دوی د ستړي مشي له پاره

د هغه کور مخې ته راغلي دي، خو هېڅوک دا جرات نشيـ کـوی او نه اجازه لري چې له شل متره څخه دوی ته ورنږدې شي. د کلي ملا «شیخ عیسی رضایي»، د باد لوری معلوم کړ او خلکـو تـه یـې وویل چې پـه هغـه لـوري ودرېـږي چـې کـه بـاد ولگېـږي، نـو د کربلایانو له خوا به د دوی په لوري نه بلکې په هغه بله خـوا ځـي، نه چې باد ویروس د دوی خواته راوړي.

ټول دغه احتیاطي تدابیر خلکو ته لکه یـو تـور او وېرووونکـی، خو خندوونکی طنز غوندې ښکاري. کربلایانو له لـرې څخـه لـه خلکو سره لنډه ستړي مشي وکړه بیا نو هغـه بـې خاونـده کـور تـه ننوتل. خلک بېرته خواره واره شول، کربلایان لـه ډېـرې سـتومانۍ بې هوښه شول.

په کرم زار او د ډایکندي ولایت په ټولو سیمو کې دود دی چې که یو څوک د حج، مشهد یا کربلا له زیارت څخه راشي، د خلکو له خوا په ډېرو ولولو بدرگه کېږي، خلـک د غاښــي تـر سر پـورې ورځي، قند او خواږه وربانـدې شـیندي، غـاړې تـه یـې گـلان ور اچوي، غېږ کې یې نیسي او لاسونه یې مچـوي. زیـارت کـوونکی هم خلکو ته سوغاتونه راوړي. دوی تر شلو ورځو پورې د خلکـو په کورونو کې مېلمانه وي، خو له دغو څلورو کربلایانو سره چا ان سمه ستړي مشي هم ونه کړه. بلکې زموږ دغه کربلایان نـه یـوازې په درناوي بدرگه نه شول، بلکې شل ورځې په هغه بې خاونده کور کې زنداني شول. کور له کلي څخه لږ لرې دی، خو دومره هم لرې نه دی چې د کلي خوا ته د ټلونکو اوبو غږ، د کلي د خرو هنگار او د چرگانو د اذان غږ ورنه شي.

د دغه کور څنگ ته یوه چینه ده چې د کـوزړې د چوښـتي پـه

اندازه اوبه ترې راوزي، د کور شاوخوا د توت، زردالو، ولې او بادامو ونې دي. په ښاخونو کې يې تل مرغان او چڼچڼې کنسرت ورکوي. په دې ورځو کې د توت او زردالو ونو د نرۍ له هیاهو لرې لکه د هر بل کال په څېر غوټۍ کړې وې.

د دې کربلایانو له را رسېدو لس ورځې مخکې «زوار» کلي ته یو بل مسافر هم له ایران څخه راغلی و. د هغه کور له کلي څخه لرې پورته دی. له را رسېدو يې یوه شپه مخکې د کورنۍ غړو کور پرېښی و او د کلي نورو کورونو ته تللي وو. ان دا چې ګاوندیان يې هم د کلي نورو کورونو ته لاړل، ځکه چې له دې کور سره يې چینه شریکه وه. اوس هغه هم په خپل کور کې داسې زنداني دی چې له کوره را وتلی هم نه شي. د کلي ملا «شیخ عیسی رضایي» هغه ته هره ورځ ټلیفوني خبر ورکوي چې له کوره ونه وځي. د هغه د قرنتین لس ورځې لا پاتې دي او دا دی اوس به د کربلایانو قرنتین پیل شي.

د کربلایانو د قرنتین په پیلېدو سره به، د خدیجې او معصومې لورګانې او نږور دوی ته خوراکي توکي راوړي. دوی به دغه خوراک په ځانګړي دیګ کې په ډېر پام سره راوړي، د دغه بې خاونده کور د دروازې شا ته به يې بږدي، دوی به ډېر ژر لرې کېږي او بیا به کربلایان هغه خوراک را اخلي، خو داسې چې هېڅ شی به له بل سره نه لګېږي.


احتیاط لا له هماغه پیل څخه ډېر جدي او حتمي دی، خو احتیاط هغه وخت د اندېښنې تر برید پورې رسېږي چې کله کربلایان وروسته تر دوه ورځو بېهوشۍ او ستومانۍ څخه له ژور خوبه را پاڅېږي، په حال راځي چې ګوري ټول بدن يې درد کوي

او لږ لږ تږوخېږي. دا نښې د کرونا دي، دوی او کليوال يو هم دا فکر نه کوي چې دا دردونه او تږوخي د هغې ستومانۍ له امله دي چې دوی دوه اونۍ اوږد او سخت مزل کړی و او ورسره هوا او خوراک هم بدل شوي وو.

دا وخت د نيلي د«کويد ۱۹» ځانګړي روغتون ته د کرونا ډاکټران مقررېږي، دوی ته زنګ وهي، هغوی ورته وايي چې دا تږولې نښې د کرونا دي، نو دا چې له ايرانه راغلي شونې ده په کرونا اخته وي. وروسته تر دې خبرې کلي کې دومره سخته وېره پيدا شوه چې د کرم زار په تاريخ کې نه وه ليدل شوې. د کلي ډېرو خلکو و انګېرله چې دا دی د کرونا ويروس چې نه ليدل کېدونکی دی، له چين څخه ايران، له ايران څخه هرات، له هرات بيا کابل او له کابله باميان او له باميان څخه نيلي او دا دی اوس له نيلی څخه مستقيم کرم زار ته را ورسېد.

د دې وېرې او سختې انديښنې بل دليل دا و چې د کرم زار خلکو له يوې بلې ناروغۍ څخه ډېره بده خاطره لرله، هغه د ۱۳۷٦ل کال په ژمي کې پېښه شوې وه. په هغه کال د طالبانو اسلامی امارت د وينو په تويولو او تاوتريخوالي سره افغانستان کې واک ترلاسه کړی و، د کرم زار خلکو هېڅ ډول روغتيايي اسانتياوې نه لرلې.

په هغه ژمي دلته د شري ناروغي راغله، د کرم زار خلکو له لسو زيات د ښځو او ماشومانو تابوتونه هديرې ته وړي وو. دوی د هغې کال په ژمي په يوه مېتر واورو کې قبرونه وکيندل او تر زنګنو پورې په واوره کې يې مړي يوړل. په هغه کال د کلي خلکو د شري پر وړاندې پرته له نذر او دعا بله هېڅ وسيله نه لرله. سره له دې



چې اوس له هغه وخته درویشت کلونه تېرېږي، نږۍ بدله شوې، د کرم زار کلی اوس پوخ سړک، ښوونځي او هرڅه لري، خو لـه ناروغیو سره د مبارزې طریقه یې لا هماغه پخوانۍ ده؛ یعنې نـذر، دعا او خیرات.

دا د کرونا یا بلې وبا پـه وړانـدې یـوازې د کـرم زار د خلکـو د مبارزې لار نه ده، بلکې د شاوخوا ټولو کلیو خلک همداسې دي. دوی د فزیکي واټن، ماسک او د نورو وسایلو ترڅنګ د کرونـا پـر وړاندې د هغې د مخنیوي لـه پـاره نذرونـه، دعـا او خیراتونـه هـم وکـړل. ان دا چـې د کلیـو ځینـو خلکـو د خپلـو کلیـو مخـې تـه ساتونکي وګومارل چې کلي ته په ویروس اخته کس را نه شي.

د کربلایانو د قرنتین په ورځو کې د کلي خلک د کلي د حسینیه شـاوخوا را ټـول شـول. ټـول وېرېـدلي دي د وېـري او ګـواښ د کمښت له پاره یې په یو اتفاق نذرپـه غـاړه واخیسـت. دوی وویـل چې «د کربلایانو د سلامتي او د بلا د دفعې له پاره موږ یـو غـویی حلالوو او دعا کوو.» پیسې یې ټولې کړې او له یو کلي څخـه یـې یو قولبه یي سخوندر وپېره. اوس نو ټول په تمـه دي چـې څـه بـه وشي؟ ورو ورو دکربلایانو حال ښه کېږي، او بله ورځ روغ رمـټ شول.

د شلمې ورځې پر سهار چې قرنتین یې پوره شو د کلي لـه اووه دېرش کورونو اووه دېرش لوګي پورته کېدل، هر کور یو تنور نذري ډوډۍ پخوي. له لمر څرک سره سم ښـځې، نارینـه او واړه او زاړه ټول حسینیه ته راټولېږي. څو تنـه هغـه اخیسـتل شـوی سـخوندر حلالوي، څو تنه نور د پخولو کار ته ملا تړي.

د غوایي غوښې یې د حسینیه لوی دېګ ته واچـولې او اورونـه

یې پسې بل کړل. ترڅو چې غوښه پخېده څو تنه سپین ږیري، د کلي ملک او شیخ عیسی رضایي د قرنتین شوو کربلایانو ځای ته ورځي، هغوی له ځان سره حسینیه ته راولي. کله یې چې هغوی ته تود هرکلی ووایه ټولو یو ځای په یو غږ د «توسل دعا» او «امام زمان فرج اقا» د را څرګندېدو (ظهور) دعا وکړه او د قران کریم دېرش سیپارې یې ختم کړې. د قران شریف له ختم وروسته شیخ عیسی رضایي منبر ته پورته شو، د عاشورا د ماسپښین له درد او سوز ډکه روضه یې ولوسته.

د روضې په پای کې یې د قاضي الحاجات دربار ته لاسونه پورته کړل، ټولو د زړه له تل څخه دعا وکړه. په دعا کې وویل شول چې خدایه د ټولې نړۍ مسلمان ناروغان جوړ کړې، بیا د افغانستان او په ځانګړي ډول د مجلس حاضرو ناروغانو ته شفا ورکړې. ټولو په یو غږ امین وویل. د امین غږ یې دومره اوچت و چې د حسینیه له چته خاورې را وپوښېدې. په پای کې ټولو د غوښې ښوروا وخوړه او کربلایان یې تر کوره بدرګه کړل.

## پلار ته مې خپله غسل ورکړ

زما نوم نورالله[1] دی. د کورنۍ تر ټولو ځوان غړی نولس کلن یم. د جاغوري ولسوالۍ د یوه کلي په یوه ختیځ کور کې ژوند کوم چې زما د خدای بښلي پلار د لاس نښه دی. پلار مې تر تېر کال پورې روغ جوړ و. تېر کال د قرنتین په ورځو کې د غبرګولي پر شپږویشتمه وفات شو.

په کوم کلي کې چې ژوند کوو، په نهو کورونو کې دوولس کورنۍ اوسېږي. انسانانو، څارویو، کرنې او ټول کلي ته له یوه کاریز اوبه اخلو. کاریز د یوې وچې غونډۍ ارخ ته کلیوالو خپله کیندلی دی. د ټول کلي د اوبو سرچینه همدا یو کاریز دی.

د کلي کورونه ټول یو برابر یو بل ته نږدې دي. کلي له کاریز لږ پورته، د دوو غونډیو منځ کې ودان دي. د سیمې خاوره تر تیږو کمه ده. تر ټولو هغه پخوانۍ خاطره او انځور چې له دې کلي یې لرم؛ هغه د شپاړسو کلونو مخکې دی:

---

۱ـ په دې کیسه کې د شخصیتونو نومونه خیالي دي او د یو شمېر کسانو د هویت د ساتلو له پاره د دوی د اصلي نومونو پر ځای خیالی نومونه راغلي دي.

«یوه ورځ مې له خپل مشر ورور شمس‌الله سره پسـونه او وري د کلي مخامخ غونډیو ته بېولي وو، له لیرې مو چې کلي تـه کتـل، کورونه لکه د ختو د خښتو پـه څېـر کـوچني ښـکارېدل، لـه هغـه وخته تر اوسه زموږ کلی دومره بدل شوی نه دی. یـوازې پـر هغـو اتو کورونو یو بل کور ور اضافه شوی دی.

البته پلار مې هم نیت لاره له اوسني کور ښکته یو بل کور هـم جوړ کړي، خو مرګ وخـت ورنـه کـړ. دغـه کـور یـې زمـا ورور، شمس‌الله ته اباداوه. هغه ایران کې کار کوي. په پام کـې وه شـمس الله به د ۱۳۹۹ل کال په نوروز کې کور ته راسـتون شي، پـلار لا د مخه ورته ویلي وو چې ډک لاس به کور ته راځـي چـې واده ورتـه وکړي. پلار به مې تل ویل:

«کله مې چې لـه خیـره لورګـانې پـه خپـل بخـت پسـې لاړې، شمس‌الله او نورالله ته هم ودونه کوم، زړه به مې را ټول شي، نو بیـا که هغه وخت مړ شم، هډوکي به مې ارام وي».

لومړی ځل مې د ۱۳۹۸ل کال په ژمي کې د خپل پلار له راډیو د کرونا خبر واورېد، ما هغه وخت د کانکور د ازمـوینې لـه پـاره د چمتووالي لارښود کتابونه لوستل. ښه مـې یـاد دي، راډیـو چـې د کرونا خبر وړاندې کړ، کتاب مې پرېښود، پـلار مـې هـم وارخطـا شو. خپله اندېښنه او وېره یې داسې راته بیان کړه:

«ټلویزیون دې ولګوه»!

هوا لا روښانه وه، ما لمریزه بېټرۍ روښانه کړه. پلار مې دومـره ټلویزیون نه ګوري، خو راډیو تل اوري، هغه لومړۍ شـپه وه چـې ټلویزیون ته کېناست. په هغه شپه مې مور ټلویزیون ته نه وه ناسته، پخلی یې کاوه او ډېر کار یې درلود. زه او پلار مې د یو متر په واټن



ناست وو، د ټلویزیون تر ټولو مهم خبرونه د کرونا په اړه وو.

خبرونه چې خلاص شول، پلار مې لمانځه ته پاڅېد. په هغه شپه مې پام شو چې د پلار دعاګانې مې ډېرې شوې وې. د هغه پخوانۍ دعاګانې به د قران شریف یو څو ایتونه او بیا به یې د ظالمانو له ظلم او د بلاګانو له خلاصي دعا وه. په دغه شپه یې دا هم ور اضافه کړه:

«خدایه! دغه لاعلاجه ناروغي ورکه کړې».

خو داسې ښکارېده چې کرونا داسې ژر نه ورکېده. د هرې ورځې په تېرېدو سره زما د پلار راډیو او زما ټلویزیون؛ په کرونا باندې د لا زیاتو اخته کسانو او د هغو د مړینې خبرونه خپرول، خو پلار به مې هر لمانځه کې د کرونا د ورکې دعا کوله.

په ژمي کې چې کلیوال د کروندو له چارو وزګار شي، نو زموږ د کور مخې ته پېټاوي ته را ټولېږي او له یو بل سره کیسې کوي. د دوی کیسې خوږې او پر ما ښې لګېږي. تل به مې غوښتل له دوی سره کېنم. زموږ د کلي سپین ږیري ډېری وخت د خپلې ځوانۍ د وخت کیسې کوي. هغوی چې د عسکرۍ د مکلفیت دوره تېره کړې وه، د خپلې عسکرۍ دورې د خدمت کیسې به یې کولې، د دوی کیسې به زما ډېرې خوښېدې، خو د ۱۳۹۸ ل کال د پای د ورځو کیسې، نورې هغه کیسې نه وې، بلکې ټولې د کرونا او د راتلونکي په هکله وې.

په دې کیسو کې له کرونا څخه له وېرې پرته نور څه نه وو. خلکو به چې خبرې پیل کړې دویم، درېیم یا څلورم ټکی به د کرونا و. زموږ د باور خلاف ویروس ډېر ژر هرات، کابل او د خبرونو له مخې په کم وخت کې د افغانستان ټولو ولایتونو ته را

ورسېد. ان دا چې زموږ جاغوري ته هم راغی. پلار مې د کلي په ټولو نهو کورونو وګرځېد چې د یوه خیرات له پاره چمتووالی ولري. دا خیرات یې د کرونا د مخنیوي له پاره د سې شنبې د ورځې له پاره په پام کې و.

کلي پرېکړه وکړه، د غوایي میاشتې په دوولسمه به یو پسه په ګډه خیرات کړي. مخکې تر دې چې دغه سې شنبه را ورسېږي، زموږ له ګاونډي کلي څخه یو سړی زموږ کلي ته راغلی و، ویل یې دواړه کلي به په ګډه یو غویی یا پسه خیرات کړي. پلار یې وړاندیز ومانه. په هغه جومات کې چې اووه کلي سره شریک دي او ټول اتیا کورونه کېږي، دا خبره وشوه.

د خیرات تر ورځې، دوه اونۍ تېرې شوې. تر دې وخته ډېر کسان له ایران، هرات، پاکستان او کابل څخه کلي ته او ډېر نور زموږ له کلي هرات او کابل ته لاړل او راغلل. د خیرات تر چمتو کولو پورې زما ټینګار په دې و چې پلار مې نه باید هلته ورشي. دا ځکه چې د هغه عمر پنځه شپېتو ته رسېدلی و، نه مې غوښتل هغه په کرونا اخته شي. سره له دې چې هغه روغ و، خو ما احتیاط کاوه، هغه یوازې د نسوارو عادت درلود.

د کلي له خیرات څو ورځې نه وې تېرې چې زموږ ګاونډي کلي کې یو ناروغ چې خلکو حاجي باله ومړ. هغه زما د پلار د عسکرۍ د دورې ملګری و. ما چې څومره خوارۍ وکړې پلار مې یې له جنازې منعه کړم، خو ونه توانېدم. له بده مرغه پرته زما له پلار، د کلي د جومات له امام او د مړي له خپلوانو نور هېڅوک هم د جنازې او غسل مراسمو ته ورنغلل.

حاجي ته مې پلار د هغه د زوی او د کلي له ملا سره یو ځای

غسل ورکړ او هدیرې ته ورسره لاړل. دا نه وه معلومه چې حاجي کرونا و که نه؟ خو خلکو ویل چې هغه کرونا نیولی و. په هغه ورځ چې خیرات و، هم ناروغ و او خیرات ته هم په کرونایي حالت راغلی و.

یوه اونۍ وروسته مو پلار ناروغه شو، زما یقین نه و چې هغه به کرونا نیولی وي، هغې کرونا چې نوم مو یې څو میاشتې مخکې یوازې زموږ په راډیو کې اورېدلی و. مور مې پرله پسې سپېلنی دود کاوه، خو پلار مې سره له دې چې تږخېده، بیا یې هم کار کاوه. د غونډۍ په ډډه کې یې خاوره سستوله، ترڅو د کور جوړولو ته ځای اوار شي، خو له بده مرغه چې په بستر پرېوت.

شمس‌الله لا ایران کې و، خو پلار مې غوښتل کور ورته جوړ کړي. که رښتیا ووایم، په هغه ورځ چې شمس‌الله مې پلار سره په ټلیفون خبرې کولې، ورته ویې ویل:

«اوس مه راځه، پرېږده چې نړې د دې ناروغۍ له لاسه لږ په کرار شي»!

پلار مې د بزګرۍ ترڅنګ ټغرونه هم اوبدل. خلکو په کلي کې هغه ته «ګلیم‌باف» وایه. هر کال، به له پسرلي مخکې خلک د جاغوري له هر ځای راتلل او زما پلار به یې ټغر اوبدلو ته بېوه. د ۱۳۹۹ ل کال د پسرلي په راتګ سره، خلک د کرونا له امله ډېر نه ګرځېدل، له بلې خوا زما پلار د غونډۍ په اوارولو بوخت و، نو ځکه د ټغرونو د اوبدلو له پاره چېرته نه لاړ.

هغه کور چې غوښتل یې شمس‌الله ته یې جوړ کړي، یو دهلیز یې درلود چې دوو خواوو ته یې یوه کوټه او یو پخلنځی و. پلار مخکې تر مخکې د کوټې اندازه درې په څلور متره په پام کې

نیولې وه، هغه ټغر چې دغې کوټې ته یې په پام کې نیولی، همدومره و.

زما د خدای بښلي پلار د ناروغۍ شدت یوازې درې ورځې و، د سې شنبې شپه، د غبرګولي شپږ ویشتمه یې د ژوند وروستۍ شپه وه. په هغه شپه یې ډېر درد درلود. د سهار څلور بجې یې لاس او پښې له واکه ووتل. بېواکه یې خوارۍ کولې، د مور د ژړا غږ مې اوچت شو، په وارخطايۍ یې راته وویل، یو موټر راولم، روغتون ته یې یوسم. زړه مې ډېر درزېده، ډېر خواشینی وم. هره خوا مې منډې وکړې، خو هېڅ موټر کې زموږ ناروغ نه ووړ، هر چا یوه پلمه کوله.

پوهېدم چې ټولې پلمې د کرونا له کبله دي. د جاغوري په ډېرو سیمو کې خلکو د کرونا د مخنیوي له پاره د پوښتنې او پلټنې ځایونه ټاکلی وو، پرته د کلي له خلکو نور څوک یې نه پرېښودل. د سهار څلور بجې چې شوې، په ناهیلۍ د کور خواته راتلم، ځان سره مې ویل:

«په شا یې وړم.».

روغتون زموږ له کلي څلور کیلومتره واټن درلود. کور ته چې را ورسېدم، مور مې په تیاره کې په چیغو چیغو لاسونه په تندي وهل. یو ځل لکه برېښنا چې نیولی وم، لاسونه او پښې مې شل شول ولوېدم. په حال چې شوم، رڼا خوره شوې وه، ژر مې ځان پلار ته ورساوه، مور مې یې مخ قبلې ته اړولی و. د هغه مخې ته یې قران کریم ایښی و. تر لمر خاته پورې مو ژړل. یو ځل مې مور راته په ژړا وویل:

«زویه! څوک نه راځي، اوبه ته دې زنګ ووهه».



پوه شوم چې مور مې د پلار د کفن او خښولو په فکـر کـې ده. له نهو څخه یو څو دقیقې تېرې وې چې یو - دوه تنه مـو کـور تـه راغلل. مخکې تر دې چې جومات ته د مـلا صـاحب خبرولـو تـه ورشم، د جومات ساتونکي راته وویل:

«ملا صیب پرون خپل کور ته لاړ».

زموږ له کلي ښکته هغه د بل جومات په ملا پسې لاړم چې ډېر مشهور و. د هغه ښځې له کړکۍ څخه سر را بهر کړ ویې ویل:

«ملا صاحب مالستان ته د لور کور ته تللی.»

پوه شوم ملا په کور کې دی او چېرته تللی نه دی خو چاره څـه وه. هک حیران وم. هغه کور ته ورغلم چـې د ۱۳۹۸ل کـال منـي کې نوي زموږ کلي ته راغلي وو، د هغې کورنۍ مشر ملا نه و، خو یو هوښیار تجربه لرونکی او پوه سړی و. هغوی د ارزګان ولایـت اوسېدونکي، بې ځمکې او بېوزله خلک وو او اوس پـه جـاغوري کې اوسېدل.

پوښتنه مې ترې وکړه د مړي په کفن او دفن پوهېږي، مخکې له دې چې ځواب راکړي ویې ویل:

ولې د جومات ملا نه خبروئ؟

ورته ومې ویل:

«ملا تښتېدلی!»

سر یې د افسوس په بڼه وخوځاوه، ویې ویل:

«ته درځه زه ډېر ژر در رسېږم».

موږ څلور تنـه شـوو، دوه مـې اوښـي ګـان، زه او زمـوږ دغـه ارزګانی کلیوال. موږ په څلورو تنو د خپل پلار جنازه تـر جومـات یوړه. د جومات ساتونکي د جنازې مینځلو تخته چمتو کړې وه. د

هوښیار ارزګاني له لارښوونې سره سم به مې اوبه پرې اچولې، پلار ته مې په خپلو لاسونو غسل ورکړ.

ډېر خواشینی او ناهیلی وم. د پلار مرګ د یو چا ملا ور ماتوي. مخکې تر هغه به چې څوک په کلي کې وفات شول، کورنۍ ته به یې خلکو ډاډګېرنه ورکوله او کلیوالو به په تدفین او تکفین کې برخه اخیسته، خو اوس هغسې نه وو، د غسل ورکولو په حال کې په ځان نه پوهېدم. څوک نه وو چې مرسته راسره وکړي، یوازې وم. ځان سره مې ویل:

«خدایه! ولې اوس، ولې په دې بد وضعیت کې؟ ولې په دې یوازېتوب کې»؟

زموږ په څلورو تنو کې یوازې ارزګاني مشر، ډېر کوښښ کاوه چې جنازې ته ډېر نږدې نشي، خو موږ درې نور لګیا وو د تدفین او تکفین چاره مو کوله. اوبه مو له سره اوښتې وې او د کرونا پروا مو نه کوله.

خبره د غرمې له یوې بجې تېره وه چې د پلار پر قبر مو وروستی بېل خاوره واچوله، ښه مې وژړل او کور ته راستون شوم. زما په یاد دي چې اوښې ګانو مې پر لاره له متو نیولی وم. ما ته یې ډاډګېرنه راکوله. ارزګانی مشر کلیوال په لاره کې رانه بېل شو او خپل کور ته لاړ.

په کور کې یوازې زه او مور مې وو. کور تش شوی و. د قرنتین په ورځو او لا یو څه مخکې به چې څوک مړه کېدل، دعا او فاتحه به ورته کېده، خو له کرونا سره سم څوک دعا او فاتحې ته نه تلل. ایله د ۱۳۹۹ل کال د وږي د میاشتې له پای ته رسېدو وروسته بېرته د دعا او فاتحې اخیستل پیل شول. دغه وخت کې زموږ کلي

کې شل دعاوې یو ځای په جومات کې وشوې. شمس‌الله ورور مې هم د وریي د میاشتې پر پنځمه را رسېدلی و. مور د مور په مشوره پرېکړه وکړه چې د وریي میاشتې پر پنځه ویشتمه جومات کې د خپل پلار فاتحه وکړو.

د فاتحې اخیستو له پاره زه او ورور په تورو جامو کې د جومات له وره سره ناست وو، زمور یو شمېر دوستان او خپلوان هم را سره وو. خلک له لرې او نږدې راتلل لاسونه به یې پر ټټر کېښودل. ډاډګیرنه به یې راکړه او بېرته به تلل، خو ماته ډاډ نه ترلاسه کېده. دا مې نه هېرېدل چې د کفن او دفن په ورځ یې څنګه یوازې پرېښی وم.

## له نباره تېښته

هر کال چې به نوروز راته، انرژي، خوښي او ډېر ښه احساس بـه ورسره و. د پسرلي راتگ ته به زړونه درزېـدل او دروازې بـه ورتـه پرانیستل کېدې. موږ د زر او سل کلونو له دود او دستور سره سم، د ۱۳۹۹ل کال له نوروز هم همدا تمه لرله، خو له بده مرغـه دغـه پسرلي کرونا راوړه. خلکو په خپل ټـول زور خپلـې دروازې تړلـې وې او تنبې یې ور اچـولې وې. ټـول پټېـدل، خـو بیـا هـم کرونـا کورونو ته ننوته، هېڅوک په امن نه وو، ان دا چې په دشت برچـي کې د «سیما»[1] دوی کورنۍ چې کابل کې یې تر نورو ټولو کورونو زیاته سخت‌گیري کوله، هم اندېښمنه وه.

د سیما پلار له ټـولې سـخت‌گیرۍ سره سره نشـو کـوی، ټولـه کورنۍ شپه او ورځ په کور بندیان کړي. کله به خپلـه او کلـه بـه د کورنۍ نور غړي اړ شول له کوره ووزي. په دې حـال کـې کېـدای شوای چې دوی هر یو د کرونا د کوچنۍ ذرې لېږدوونکي، کور ته یې راوړونکي او د ټـولې کـورنۍ د اختـه کولـو لامـل شي. همـدا اندېښنه د دې لامل شوه چې د سیما پلار، محمد موسی، ځان سره

---

۱ـ په دې کیسه کې د شخصیتونو نومونه خیالي دي نو ځکه د کلي نوم او نښې پکـې نشته.

یو سوچ وکړي چې په څه ډول خپله کورنۍ د کرونـا لـه شر څخـه چې د وېښته له څوکې څو ځله کوچنی دی وساتي.

دا کېدای شي، له داسـې دښـمن تېښـته وي چـې کېـدای شي همدا اوس دې په لسـتوڼي، د ګوتـو مـنځ یـا دې د مـخ او ږیـرې وېښتانو کې وي. کېدای شي دغه دښمن څوارلس ورځې وروسـته له یو ځای څخه را څرګند او تاسې پر ناروغۍ اختـه کـړي. د دې وېرې او اندېښنې له لاسه پـه سـختو او تیـاره ورځـو کـې هـر چـا غوښتل د ځان ژغورنې یوه لاره پیدا کړي. د سیما دوی کـورنۍ دا وپتېیله، له کابل ښار څخه بامیان ولایت د پنجاب ولسوالۍ ته لاړ شي.

د محمد موسی له پاره یې د خپـل پـلار او نیکـه کـلي تـه چـې دېرش کاله مخکې له هغه ځایه راغلي وو، د یوې کوچنۍ ذرې پـه اندازه هیله پیدا کړه، نو ځکه یې د نوروز په ورځ خپلې کـورنۍ تـه وویل، د بامیان، پنجاب ولسوالۍ تـه د تـګ لـه پـاره ځـان چمتـو کړي. د پلار دغه پرېکړه ټولو ته ښه ښکاره شوه او یو ښه خـبر یـې وګاڼه، په تېره بیا سیما او د هغې ورونه ډېر خوشاله شول چـې دوه یې ایران کې، بل یې مزار شریف او دوه کوچني یې پـه کابـل کـې زېږېدلي وو او هېڅکله یې پلرنی کلی نه و لیدلی.

دوی یوازې د پلار په کیسو کې د پلرني کلي انځور کتلی و، نو ځکه هلته تګ د دوی له پاره ډېر په زړه پورې و. د ۱۳۹۹ل کـال د نوروز پر نهمه ورځ د محمد موسـی د کـور مخـې تـه هغـه مـوټر درېږي چې د دوی د وړلو له پـاره راغلـی و. د موسـی اتـه کسـیزه کورنۍ په موټر کې د سامانونو پـه اېښـودو پیـل کـوي. پـه دشـت برچي کې د خپل کرایي کور دروازه تړي او مخ په بامیان روانېـږي.



د لارې په اوږدو کې له بې ځښتنه سپیانو، هغو الوتونکو چې پسرلي کې بېرته را ستانه شوي او د پولیسو له پوستو پرته نور څه نشته. پولیس ځای ځای د دوی موټر دروي، ډرېور هر ځای هغوی ته وايي، دا مې کورنۍ ده، بامیان ته یې بیایم.

د ورځې یوولس بجې چې پر (خدایان) دره تود لمر راختلی و، دوی د بامیان مرکز ته ورسېدل. تا به ویل د بامیان ښار له اوسېدونکو تش دی. په هغه ماسپښین یې یو بل موټر کرایه کړ او له بامیان د پنجاب په لوري روان شول چې ماښام هلته ورسېدل.

د پلرني کلي غرونه لا هم په واورو ډک وو. د کلي څو تنه راغلل چې موټر ته لاره جوړه کړي. د دوی له موټر پرته تر دې وړاندې کلي ته کوم بل موټر نه دی راغلی، نو ځکه لار بنده وه. کله چې موټر کلي ته ورسېد، سیما، ورونه یې او ټوله کورني د خپل نیکه کور ته ننوتل. په دې کلي کې ټول د شلو په شاوخوا کې کورونه وو. شپږ یا اووه کورونه نوي دي، نور ټول هماغه پخواني ختین کورونه وو.

هغه کورنۍ چې هر کال خپلې ځمکې کري، کورونه هم ساتي. د سیما انا او ابا د دې د پلار د کیسو له مخې همدې کور کې اوسېدل. د سیما پلار همدې کور کې نړۍ ته سترګې پرانیستې او بیا یې د هغوی له مور سره دلته واده کړی او د ځوانۍ عمر یې په دې کور کې تېر کړی دی، خو سیما او د هغې ورونه په اول ځل دا کور ویني او کېدای شي د یوې نامعلومې مودې له پاره به پکې اوسي.

څو کلونه مخکې چې دوی په کابل کې وو، محمد موسی به ټوله ورځ د معاملاتو لارښود دفتر کې کار کاوه، د دوی له ځمکو

به يې حاصلات بزګر ټولول. محمد موسی به په کال کې يــو ځـل پنجاب ته ته، که به نه ته بزګر به کابل ته راته. که به محمد موســی کلي ته لاړ، نو بيا هم ده خپل پلرني کور کې کوم کار نشــو کــوی، نو ځکه کور مخ په خرابېدو و، اوس چې وروسته تــر ډېــرو کلونــو دوی ورته راغلل، د غنو ځالې او د موږکو سوري پکې جوړ شوي دي.

چت يې سوری شوی، کړکۍ يې ماتې دي او پــاکولو تــه اړتيــا لري. سيما او ورونو يې متې بډ وهلې چې خپل پلرنــی کــور پــاک کړي. په ټول کلي کې يوازې يو کور دی چې د کرونا ډېر پــه کيســه کې نه دي، هغوی دوی ته يو، دوه ورځــې ځــای ورکــوي. پــه دې دوو ورځو کې محمد موسی او زامن يې د سوځولو له پــاره خــس او لرګي برابروي. په درېيمه ورځ ســيما او د هغــې ورونــه د خپــل نيکه کور کې يو نوی ژوند پيلوي.

د سيما مور چې نيم عمر يې په کلي کــې تېــر کــړی، ډېــر ژر د کور چارې په لاس کې نيسي، لومړی تنور تودوي، بيا پــه کليــوالي دود سره د ډوډۍ پخولو، اوړو لمدولو او په نغري په پخــلي کولــو پيل کوي. د سيما پلار او ورور په کرونده کې کار پيلــوي، غــنم او کچالو کري، خو سيما او د هغې کوچني ورونــه پــه هــېڅ کــار نــه پوهېږي، خو بيا هم ټوله ورځ له مور، پــلار او ورونــو سره مرســته کوي.

ورو ورو سيما او د هغې کوچينو ورونو ته د پلار او نيکــه کــور ستومانه کوونکی کېږي او زړونه يې پکې تنګېــږي. دوی پــه کلــی کې کوم اشنا او ملګری نه لري. سره له دې چې د کلي نجونې هــم ښوونځي ته ځي، خو د هغوی ټول سروکــار لــه تنــور، مالــدارۍ،

چرګانو او نورو کليوالي چارو سره دی. هغوی یوه هم سیما سره د صادق هدایت، کافکا، د کارامازوف وروڼو او نورو اثارو په هکله بحث او خبرې نه کوي. څو ځله چې سیما د کلي له نجونو سره کېني، هغوی سره ګډ ټکي نه مومي. بله چاره نشته، د دې له پاره چې د سیما وخت لږ ښه تېر شي، د رومان کتابونه اخلي.

سیما لس ټوکه د رومان کتابونه له کابل وړي وو. په هغو کې د محمود دولت ابادي کلیدر او د لیو تولستوی جګړه او سوله کتابونه هم وو. سهار وخته کله چې ټول له خوبه پاڅي او خپلو کارو پسې روان شي، سیما خپل ځان تر هغې پورې هغه پرېړه بړستن لاندې را نغاړي چې د پسونو د وړیو بوی کوي، بړستن نوره هم پر ځان را ټولوي او کابل کې د خپلو ټولګیوالو په هکله فکر کوي. مور به یې راغله ورته ویل به یې ورځ شي بېرته شپه شي او ته لا ویده یې!

سیما لا هماغسې چې په کېڼ اړخ پرته وي، له ځایه نه پاڅېږي، په ستومانه غږ مور ته وايي:

«چې ویښه شم څه وکم»؟

مور به یې هم لور ته کوم ځواب نه درلود، غلې به ورځخه لرې شوه، دروازه به یې داسې پورې کوله چې ورځخه ښکارېده د سیما له وضعیت او ځوابه خوښه نه ده.

وروسته تر یوې میاشتې نور سیما په کلي کې بیخي په تنګ وه او سهار یې ویښېدو ته هېڅ انګېزه نه لرله. فکر یې کاوه چې ټوله ورځ هم د هغې له پاره څه نه لري، نه کومه خبره د ویلو له پاره لري او نه هم د اورېدو څه اوري. په کلي کې څه په زړه پورې شیان هم ورته نشته. غواړي داسې سهار را ویښه شي چې نړۍ له

کرونا پاکه شوې وي، دا به هغې ته داسې وي لکه یـو معتـاد چـې وروسته تر ډېرې مودې له اعتیاد څخـه روغ شـوی وي او لـه څـو میاشتو ستونزو وروسته د معتادینو له کمـپ راوزي، خـو یـوازې د هیلو په لرلو هېڅ هم نه کېږي. سـیما چـې هـره ورځ لـه خوبـه را ویښېږي، له پرونۍ ورځې سره یې توپیر نه وي. ټوله ورځ د خپلـو دوستانو او ټولګیوالو په فکر کـې وي. دا دی څـو میاشـتې شـوې چې هغوی یې نه دي لیدلي او ترې خبره هم نه ده.

سیما چې کله د کـور لـه ختېنـو دېوالونـو او د هغـه لـه لـوګي لرونکي چت په تنګ شي، نو ټـول کلـی ورتـه تنـګ ښـکاري. لـه کوټې وزي خپل سمسونګ ټلیفـون را اخـلي، د کـلي څنـګ تـه د هغې غونډۍ سر ته ځي چې ټلیفون یې انټن ورکړي، نو د ټلیفـون د فعالېدو له پاره یوه خوا بلـه خـوا ګرځـي، څـومره چـې ټلیفـون اوچت نیسي او تر ټولو لوړ ځای ځي بیا هم ټلیفون زنګ نه تېروي او انټن کار نه کوي. ستومانه کېږي، په یوه لوړه لویه تیږه کښني، پـه فکر کې ځي، د کابل پل سرخ، کافي، کـوڅې او ټولګیـوال او لـه کرونا مخکې ښې ورځې وریادېږي. ځان سره وایي:

اوس به مې دوستان چېرې وي؟
دوی به څه کوي؟
ایا هغوی ته به هم زه په یاد یم؟
هغوی به ژوندي وي؟
کرونا سره به څه کوي؟
کورنۍ به یې څنګه وي؟
اوس به په کورونو که په روغتون کې وي؟

د غونډۍ له پاسه چې کلي ته ګوري، هـر کـور ورتـه لکـه یـو

سوری او وګړي يې د چينجيو په څېر ښکاري چې هر يو پـه تنـګ ځای کې له خپل شاوخوا سره تاوېږي را تاوېږي. دا هغه ډله خلک دي چې ټوله نړۍ يې يوازې د دوو غونډيو تر منځ يو کلـی دی پـه دې نه پوهېږي چې کوم نيکه يې لومړی ځل دلته راغلی او دا ځای يې د ژوند له پاره غوره کړی دی؟

سيما پنځه مياشتې خپل پلرني کلي کې تېرې کړې، په دې موده کې يې ډېر وخت د غونډۍ پر سر په ګرځېدو تېر کړ. په وروسـيتو ورځو کې به چې په غونډۍ ګرځېده، ډېری وخت به يې لـه ځـان سره ژړل. کله به يې هم ټيليفون کې سندره اورېده او کلي ته به يـې کتل، خو خلکو ته په کتلو به يې زړه له غمه شين او اوبه اوبه شـو، سر به يې په لاسونو ونيو او اوښکې به يې بهېدې.

ځينې ورځې به يې يوه سپينه سپۍ ځان سره غـره تـه خېژولـه، سپۍ به لکه سيوری ورسره وه. (سايه) نوم يې پـرې ايښـی و. يـوه ورځ يې تر څنګ کېناسته، لاسونه يې د هغې غاړه کـې واچـول او خپل يوازېتـوب يـې ورسره ووېشـه. سـايه او سـيما پـه دې پنځـو مياشتو کې له يو بل سره عادت شوي وو، سيما به فکر کاوه په دې ټول کلي کې تر سايه بل هېڅوک ورته نږدې نه دي.

سيما، سايه لومړی ځل کلي ته تر راتـګ شـل ورځـې وروسـته وليده، په هغې ورځ دوی کرونده کې کچالو کـرل. سـپۍ دوی تـه شل ګامه نږدې پر ځمکه پرته وه سيما د پولې خواتـه لـه سـترخان ډوډۍ ورته واچوله، خو سپۍ و وېرېده، دوی همداسـې پـه خپـل کار لګيا وو. ماښام دوی د کور خـوا تـه روان شـول چـې ګـوري سپۍ هم ورپسې ده، له هماغه ورځې ورسره اموخته شوه.

د سيما پلار چې هر وخت لـه کرونـدې کـور تـه راشي، راډيـو



ولګوي، نو لومړی خبر د کرونا په اړه وي. ځینې خبرونه یې ډېر خواشینوونکي وي، لکه:

«په امریکا کې د کرونا د قربانیانو شمېر د دوهمې نړیوالې جګړې له مړو ډېر دی».

او یا:

«په افغانستان کې په کرونا د اخته کسانو شمېر شل زرو ته ورسېد».

سیما د دې خبرونو په اورېدو سره ناهیلې شي، ځان سره فکر کوي، د سپی غږ د دغې راډیو له غږ ښو ځله ښه دی، فکر کوي نور به کرونا ورکه نه شي، دوی به تل په همدې کلي کې اوسېږي.

وروسته تر پنځو میاشتو یوه ورځ سیما د بامیان مرکز ته راغله، هلته یې کابل کې له خپلو ټولګیوالو او ملګرو سره ټلیفون کې اړیکه ونیوه. هغوی ورته ډاډ ورکړ او ورته ویې ویل، ډېرو خلکو قرنتین مات کړی او دا دی خلک لکه د پخوا په څېر ژوند ته ور ګرځېدلي، خو ښوونځي لا هم پیل شوي نه دي، خو ژر به پیل شي.

سیما چې د شپې کور ته راغله، ویې ویل، کابل کې هرڅه سم دي، له ځانه یې د ښوونځیو د پیل په هکله اضافه وویل چې پیل شوي دي. په هغې شپه خبرونو کې هم راغلل چې ښوونځي به پیل شي. له دې څرګنده شوه چې کلي کې به د سیما د بند شپې پای ته ورسېږي او ډېر ژر به سیما او خویندې یې د کابل په لور روان شي.

یوه اونۍ وروسته چې کله سیما، مور یې، دوه خویندې او مکتبی ورور یې د کابل په لور روان شول، سیما ته ډېره سخته ښېبه وه، ځکه چې سایه ملګرې یې په پښو کې رغړېده، د هغې لمن یې

نیوه کله چې له کلي راوتل د سایه غـږ هغـه وروسـتی غـږ و چـې سیما واورېد.

د هغې ورځې په ماښام د دوی موټر د «چهـل دخـتران» د غـره شاته کابل ته را نږدې شو، کابل له پنځه میاشتې مخکې وخت سره فـرق نـه و کـړی، کـوڅې، هټـۍ او بازارونـه پرانیسـتي او خلـک ګرځېدل. دشت برچي کې چې خپل کور ته ورسېدل، سـیما ډېـره خوشاله وه، خو کور داسې شوی و ته به وایـې څـو کلونـه څـوک پکې نه وو. په انګړ کې د اوبو څا وچه وه، یـو دوه هنـدارې مـاتې شوې وې. وروسته له هغه به سیما او خویندو یـې تـر څـو ورځـو پورې د ګاونډي له کوره اوبه راوړې. پلار اوورور یې کـلي کـې د کال تر پایه د ځمکو حاصلاتو ته پـاتې شـول. سره لـه دې چـې د سیما کورنۍ په پلرني کلي کې په کرونا اخته نه شول، خو کابل کې د دوی ډېر ګاونډیان په کرونا اخته وو. یو شمېر نـورو همـدا اوس کرونا تېروله. په دې ډول سره کرونا اوس د پنځو میاشتو مخکې په څېر ډېره د اندیښنې وړ نه وه.

# د غواګۍ (حلزون) په مزل ځنډنی ژوند

## لومړی

زه فرزانه یم، «فرزانه فراسو»؛ یوویشت کلنه یم. د دایکنډي ولایت د «میرامور» ولسوالۍ په «ډاله» کلي کې اوسېږم. په همدې ولایت کې زېږېدلې یم. ښوونځی مې تر دوولسم په کلي کې ویلی دی. له ۱۳۹۲ل کال وروسته کابل ته راغلم. د لوړو زده‌کړو په یوه خصوصي موسسه کې مې حقوق او سیاسي علوم ولوستل او لېسانس مې واخیست. د ۱۳۹۸ل کال په مني کې د نړۍ د ښځو د ژوند د مطالعې له پاره د یوې موسسې له خوا د نورو ولایتونو له نجونو سره څو میاشتې ترکیې ته لاړم. څو میاشتې په استانبول، قونیه، انقره او سیواس ښارونو کې وم.

اووه ورځې چې په سیواس ښار کې وم، په فېسبوک کې مې د چین د ووهان ښار یوه وېډیو ولیده؛ په وېډیو کې د ووهان ښار کوڅې تشې وې. په سړکونو نه انسانان او نه هم موټر ښکارېدل. د وېډیو په شرحه کې راغلي وو چې ټولو د کرونا له امله ځانونه قرنتین کړي دي.

همدا لومړی ځل و چې د «کرونا» او «قرنتین» په هکله مې

واورېدل. اندېښنه را ولوېده، خو فکر مې نه کاوه چې يو وخت بـه ټوله نړۍ نيسي. څو ورځې وروسته زموږ يو ترکی استاد ټولګي تـه راغی پنځه دقيقې يې د کرونا په هکله خبرې وکړې، د هغـه خـبرو هم په وېره کې واچوم. بيا مـې هـم فکـر کـاوه، د روغتيـا نړيـوال سازمان به دا توان ولري چې دغه ويروس هماغه چـين کـی مهـار کړي، نو ځان مې لږ ډاډه کړ.

څو ورځې وروسته هغه وخت ډېره وويرېدم چـې ټـولګي تـه د تګ پر مهال مې زموږ ترکی استاد وليد چې ډېـر پرېشـان و. غرمـه وه، زموږ درس يوه بجه پيل کېده، خو ټولګي ته تـر ننوتـو مخکـې استاد وويل:


«نور نو تاسې درسونه نه لرئ.»

يو څه چې له موږ لرې شو په لوړ غږ يې وويل:

«درسونه مو وځنډېدل، بېرتـه بـه افغانسـتان تـه ځـئ. د ترکيـې دولت د کرونا د مخنيوي له پاره پوهنتونونه، ښوونځي، هوټلونه او بازارونه تړي».

له دې خبرو و وېرېدم. په مجازي شبکو کې هم له دې خبرونو خبره شوې وم. افغانستان کې هم همدا وضعيت راغلی و، خو پـه ايران، اروپا او يو شمير نورو هېوادو کې کرونا دومره ډېره شوې وه چې انساني ناورين او فاجعه يې جوړ کړي وو.

بايد بېرته افغانستان ته راغلې وای. ډېر لږ له ليليـې بهـر کېـدم. ډېر ژر هغه شپږ ليليې وتړل شوې چې زمـوږ مخـامخ وې. تـر دې وړاندې به مې چې هر سهار له کړکۍ ليدل ډلـې ډلـې نجونـو بـه ورزش کاوه، خو اوس هېڅوک هم نه ګرځي. ته به وايې ټول اوبـه شوي او پر ځمکه ننوتي. ټول هغه محصلين چې د ترکيې له نـورو



ښارونو او له اروپا او نورې نړۍ راغلي وو بېرته تللي. يوازې موږ پاتې وو. له کابل څخه د الوتکې راتګ ته په تمه وو.

د غواګۍ (حلزون) د مزل په څېر ژوند له هماغه وخته پيل شو. درې ورځې غمجنې او تورې ورځې تېرې شوې. له کړکۍ څخه مو د ليليې تش انګړ ته کتل. په تمه وم چې کله به کور ته رسېږم. د څلورمې شپې لس بجې وې چې موږ ته يې خبر راکړ، له کابله الوتکه راغلې، بايد هوايي ډګر ته روان شو. هوايي ډګر ته له روانېدو مخکې، اړوند سازمان موږ ته ماسک او نور د ساتنې وسايل راکړي وو. زموږ بکسونو کې ډېر همدا شيان وو، نيم ساعت هوايي ډګر کې پاتې شوو.

د هوايي ډګر وضعيت تر پخوا ډېر توپير کړی و. ټولو پوليسو، نورو کار کوونکو او مسافرو ماسکونه لرل. يو شمېر نورو ځانګړې پراشوټي سپينې جامې اغوستې وې او غټې عينکې يې اچولې وې. داسې ښکارېدل لکه له ځمکې څخه بهر له کوم بل ستوري چې راغلي وي. زموږ پر تندي يې د تبې معلومولو وسيله کېښوده، له معاينې وروسته مو اجازه لرله له يو بل لرې لرې روان شو. هېچا دا جرات نه کاوه، يو بل ته نږدې شي، هوايي ډګر تش و، ترکيې بهر ته الوتنې بندې کړې وې. په وېرې سره الوتکې ته وختو، الوتکه چې له ځمکې پورته شوه د شپې درې بجې وې. مخ په کابل را روان شوو هم خوشاله او هم په وېره کې وو.

د کابل هوايي ډګر ته چې را ورسېدو، د ۱۳۹۹ ل کال د نوروز دوهمه ورځ د غرمې مهال و. کابل د ترکيې په پرتله سوړ و. سره له دې چې وضعيت کرونايي و، خو شاوخوا ځينې خلک ګرځېدل چې کرونا ته يې دومره پام نه کاوه. يو څو ډاکتران وو چې له سپينو

پراشوټي جامو او ماسکونو سره ښکته او پورته گرځېدل، نورو خلکو لا ان ماسک نه درلود. دلته هم دغو سپينو پراشوټي چپن لرونکو د تبې سنجولو ماشينونه زموږ پر تندي کېښودل.

موږ يوه هم تبه نه لرله، نو خپلو کورونو ته تلی شوای. له هوايي ډگره را ووتو، ما له خپلو نورو ملگرو سره خدای پاماني وکړه او د دشت برچي لور ته د ټکسي په لټه شوم. ټکسيوان وويل:

«دولت څلوېښت ورځې سرتاسري قرنتين اعلان کړی دی، خو افغانستان کې دا اصلاً امکان نه لري، ځکه خلک ډوډۍ نه لري چې يوه ورځ کار ونه کړي وږي کېږي. لوږه به خلک تر کرونا مخکې ووژني، له بلې خوا افغانان لکه د نورو هېوادونو د خلکو په څېر قوانينو ته دومره پاملرنه نه کوي، څوک د دولت او عامې روغتيا د وزارت خبرو ته غوږ نه ږدي، خدای دې پر دې خلکو ورحمېږي»!

پنځه ورځې مخکې له دې چې کابل ته را ورسېږم، په کابل کې مې د کورنۍ ځينې غړي ډايکنډي ته تللي وو. ځکه چې د ښار په پرتله کلي کې قرنتين ښه رعايت کېږي. پلار مې زنگ راته وکړ ويې ويل:

«ته په ترکيه او کابل هوايي ډگرونو کې معاينه شوې يې، نو په کرونا اخته نه يې. د موټرو تمځای ته مه ځه، زه په ټليفون يو موټر درته پيدا کوم او درلېږم يې».

هغه شپه مې په دشت برچي، زموږ په تش کور کې تېره کړه او ځان ته مې خوراک برابر کړ. په سبا يې له غرمې وروسته ډايکنډي ته تلونکی فلاينگ کوچ، له ميرويس ميدان (کوټه سنگي) زموږ تر کوڅې راغی، موټروان زما وسايل د موټر سرته پورته کړل،

خوراک، جامې او ضد عفوني مې ځان سره وو، زړه مې نـه و لاره کې کوم هوټل کې خوراک وکړم.

## دويم

د نوروز دريېمه ورځ وه، له ما او مـوټړوان سره څـوارلس تنـه نـور مسافر هم ډايکنډي ته تلل. ټولـو ماسـکونه لـرل، زه او دوه نـورې ښځې چې يوې سره يې څلور کلن زوی و، د موټړوان شاته سـېټ کې ناستې وو، زه د موټر د کړکۍ خوا تـه وم. لـه کابـل ووتـو، لـه ميدانښار او جلرېز هم واوښتو . دوه يا درې بجې وې چې د سـياه خاک بازار ته ورسېدو. د سفر پر مهال مې هغه ماشوم غېږ کـې و، منې مې ورکړې چې بکس کې مـې وې. ورسره خوشـاله وم، ډېـر خوږ او شوخ ماشوم و، ماسک يې پر مـخ نـه پرېښـود. لـه خپلـو همزولو ډېر هوښيار و، ښه ورسره بوخته وم. خلکو له يو بل سره د کرونا په هکله خبرې کولې. په سياه خاک کـې لـږ شـېبه ودرېـدو، موټر چې روان شو، يو ناڅاپه تبه را باندې راغله. سـتونی مـې وچ شو او لړزې واخيستم اوبه مې وڅښې. يو پراسټامول ټابلېـټ مـې له نورو پټ خولې ته واچـاوه، دوا کومـه اغېـزه ونـه کـړه تبـه مـې زياتېده.

چاته مې حال ويلای نه شوای. د جمپر خـولۍ مـې پـر سر را کش کړه سر مې د موټر هندارې ته تکيه کـړ او لـه مـوټر بهـر مـې کتل، له طبيعي منظرو مې د پخوا په شان خوند نه اخيست. سـخته تبه مې وه او بدن مې ټول خـولې و. اندېښـنه کـې وم چـې کرونـا

ونیوم او که بله ناروغي ده؟

کلي ته به څنګه رسېږم؟

که کرونا له ځان سره یوسم هلته مې مور او پلار او ډېر خلک بوډاګان دي هغوی به ونیسي. که دوی ناروغ شي څه به کوم؟

د وجدان عذاب او نوم بدوالی به څنګه کوم؟

اخېر مې فکر وکړ کله چې بامیان ته ورسېدم، روغتون ته به ورشم او د کرونا ټېست به وکړم. خبره نه وم چې لاره کې روغتیايي پوستې جوړې شوې دي. تبه او د ستوني خاربښت او درد په ډېرېدو و. ماشوم چې څومره شوخي کوله او زما د خولی له بندونو سره یې لوبې کولې زما هېڅ ورته پام نه کېده. له ځان څخه مې لرې کړ، نه چې هغه هم ونیسي. وېرېدم چې که دا نور خلک پوه شي چې ځان مې خوږېږي او تبه لرم، نو دوی مې له موټره کوزوي، ځکه چې د یوه تن له پاره خو پنځلس تنه نه کوزېږي.

په یاد مې نه دي، څو بجې وې چې د بامیان ښار دروازې ته ورسېدو، خو هوا تیاره وه. پخوا به چې دغه ځای ته ورسېدو پولیسو به د موټر تلاشي اخیسته چې څوک وسله یا نشه یي توکي ونه لري، خو په دې ورځ سپینو پراشوټي ماسک لرونکو د خلکو تبه کتله. لومړی یې نارینه له موټر ښکته کړل، زما وضعیت خراب و، نورې ښځې یې د موټر له کړکۍ معاینه کړې، کله چې مامور تومانچه ډوله تبه سنجوونکې زما مخې ته نږدې کړه، ویې پوښتل:

«تبه دې ده»؟

بیا یې د تبې سنجولو ماشین ته وکتل، ټولو ته یې وویل:

«دغه نجلۍ تبه لري! ربږدي.»

بیا یې راڅخه وپوښتل:

«ځان دې خوږېږي»؟

ټول وجود مې درد درلود، هغه شېبه مې داسې احساسوله چې درد مې نور هم زيات شوی. ورته مې وويل، تبه لرم او ځان مې هم خوږېږي. له موټره يې ښکته او يوې غرفې ته يې بوتلم. هلته يې زما د وينې فشار کنټرول کړ او د نښو پوښتنه يې وکړه. هرڅه مې چې ورته وويل، ډاکتران ووېرېدل. ستونی مې وچ و، ټوخېدم. نه پوهېږم د ناروغۍ او که د وېرې له امله و، خو کله کله به مې نفس هم تنګ شو. دا ټولې نښې ځو شېبو کې له سياه خاک څخه تر باميان راته پيدا شوې وې.

هغوی ډېر ژر د باميان روغتون ته خبر ورکړ. هغوی ورته امر وکړ چې ما ته د تلو اجازه رانه کړي. ويې ويل چې ډېر ژر امبولانس رالېږي. پوه شوم نه مې پرېږدي، د موټر نورې سپرلۍ مې هم کېدای شي موټر کې پرې نه ږدي، تمه مې وشکېده. د ډاکترانو دې کور ودان وي! زه يې په زور را ونه ګرځولم، مشوره يې را سره وکړه هغوی پوښتنه وکړه:

«خوښه دې ده، د درملنې له پاره دې روغتون ته ولېږدوو»؟

ما د ښه او بد فرق نشو کوی ورته مې وويل:

«هو خوښه مې ده».

ډاکترانو موټروان ته وويل:

«دغه نجلۍ نه ځي او بايد لاړه هم نه شي، د کرونا ټولې نښې لري».

د موټر سپرليو شور ماشور جوړ کړ، زه يې ملامتولم:

«له بهر چې راتلې له موږ سره ولې موټر کې کېناستې»؟

زما نور وسايل موټر کې لاړل، خو يو بکس مې را سره و،

موټروان مې په تیاره کې د موټرو څراغونو ته لیده چې په پلاستیکي کڅوړه کې یې خپل سر نه ویست، په کلکو تارونو یې وتاړه له لاسونو یې هم پلاستیکي کڅوړې تاو کړې او بیا یې زما سامانونه راکړل.

نیم ساعت په هغې غرفه کې منتظره وم. امبولانس را ورسېد. تر دې وخته د غرفې شاوخوا دوه پولیس په څار بوخت وو، اوس مې احساسوله چې ناروغه نه یم؛ بلکې تورنه یم. هره شېبه وروسته به یې راته ویل:

«خورې، خورې!»

خو ما د دوی د ځواب حوصله نه لرله. وروسته یوه یې بل ته وویل:

«ته یې وګوره چې تبنتېدلې نه وي»!

دواړه د غرفې دروازې ته راغلل. یوه یې د ټوپک په شپېلۍ د غرفې دروازه ټېله کړه او پرانیستل شوه او بل عسکر د ټلیفون تېزه رڼا را واچوله. ورته ویل مې:

«هې ساده ګانو! له تبې او ځان درد سره څنګه تبنتېدلای شم»؟

هغوی بېرته لاړل. دا وخت یوه وویل، څو ورځې مخکې دوه تنه کرونا نیولي وو، هغوی هم په همدې غرفه کې کېنول شوي وو، خو د امبولانس له را رسېدو مخکې وتښتېدل.

امبولانس چې راغی ور وختم، په امبولانس کې یو د سپین پراشوټ او ماسک لرونکی ډاکټر ناست و، د موټروان شاوخوا یې تړلې وه. د هغوی شاته تړلي چاپېریال کې د امبولانس په کټ وغزېدم. احساس مې کاوه، سر مې د درد له لاسه چوي.

امبولانس ګړندی تګ کاوه چې د پلار زنګ مې راغی ویې پوښتل:
«کوم ځای کې یې»؟

فکر مې وکړ په هماغه شپه به روغتون کې معاینه، بېرته به رخصت او سبا به ورسېږم، نو پلار ته مې وویل:

«په لاره یو سبا در رسېږو».

پلار مې وویل:

«موټروان زنګ وهلی وایي لور دې بامیان کې ډاکټرانو کوزه کړې. هغه ډېر خپه و، دا ځکه چې سپرلیو شخړه ورسره کړې ده».

خپل پلار ته مې هېڅ ځواب نه درلود. د شپې نهه بجې وې، په بامیان کې یې د کوید ۱۹ روغتون ته بوتلم. هلته له ما پرته بل ناروغ نه و. زه یې یوه بېله کوټه کې بستري کړم. ښځینه او نارینه روغتیا پالان له پراشوټي جامو او ماسکونو سره ګرځېدل چې ماته د مرګ د پرښتو په څېر ښکارېدل، دوی زما پر مټ سیروم وتړل.

پلار مې زما د عمه زوی ته چې بامیان کې د دولت مامور و، زنګ وهلی و چې زما خبر واخلي، خو هغه ته هېچا زما د لیدو اجازه نه وه ورکړې. هغه له روغتون سره انتظار و، زنګ یې راته وکړ ویې ویل:

«تېست دې شوی»؟

ورته ومې ویل:

«تر اوسه نه».

په هغې شپه مې د عمه زوی زما عکس پر فېسبوک خپور کړی و او ورته یې لیکلي وو:

«فرزانه یې بامیان د کوید ۱۹ روغتون کې د کرونا په شک بستري کړې، خو لا تر اوسه یې تېست نه دی شوی».

دې پوست پر فېسبوک جنجال جوړ کړ. داسې جنجال چې ان د باميان والي، د روغتيا چارواکي او ټول باميان خبر شو. زه يې هم ارام پرې نه ښودم او ټوله شپه مې ټليفون ته زنگونه راتلل. ترڅو مې چې ځواب نه ورکاوه هېڅا ټليفون نه پرې کاوه. ټولو بيا بيا زنگونه وهل.

شپه مې ټوله له لړزې او تبې سره تېره کړه. سبا يې د عامې روغتيا چارواکي له څو ډاکترانو سره راغلل، زما پوښتنه يې وکړه او ډېر خپه وو چې دا کيسه ولې فېسبوکي شوه، خو حال دا چې ما نه غوښتل څوک دې خبر شي، هغوی زما د وينې نمونه واخيسته کابل ته يې د ټېسټ له پاره ولېږله، څلور ورځې وروسته پايله منفي راغله. زه دا ټول وخت هغې کوټه کې يوازې وم.

کله به له تبې رېږدېدم، کله به زياته او کله به کمه شوه، خو وروسته ډاکترانو زما د کوټې څارنه کوله. کله به مې د تبې له لاسه چيغې وهلې، نرسان به راغلل ويل به يې:

«خوب کې وېرېدلې يې ځان دې خوږېږي»؟

خو زه به نه پوهېدم چې څه پېښ شوي دي. د باميان د روغتون د ډاکترانو چلند او خدمت ډېر عالي و، د ټېسټ پايله چې منفي شوه، دوی راته وويل څه تکليف لرې؟

دا مهال يې د عادي ناروغانو روغتون ته بوتلم. ډاکټرانو وپوښتل:

«کوم خپلوان لرې»؟

هو ډېر لرم، خو په دې حالاتو کې څوک د چا پوښتنه نشيـ کوی. له شک پرته پوهېدم چې کورنۍ مې له ما هم ډېره رنځېده. هر نيم ساعت وروسته به يې خبر اخيست. ټول راسره په عذاب

شوي وو، خو يو هم نشو راتلی. هوټلونه تړلي وو، هېڅ څوک خپل کور ته نه پرېښودل، له يوې نيمې ورځې وروسته د روغتون په عادي برخه کې له درملنې وروسته باميان کې د مازيګر پنځه بجې له کابل څخه يو له سپرليو ډک فلاينګ کوچ راغی، پلار مې ورته ويلي وو، دوی له روغتون په موټر کې را واخيستم.

## درېيمه

د ۱۳۹۹ ل کال د وري په اتمه نېټه په باميان کې يو بل فلاينګ کوچ ته پورته شوم، ټول ډک و ځان ته مې ځای په سختۍ ومونډ، پر يوه درې کسيزه چوکۍ مو ږ څلور ښځې ناستې وو. په دې ښځو کې يې دوو ماشومان هم لرل، په موټر کې نور ټول نارينه وو ټولو ماسکونه پر مخ تړلي وو چې پرته له سترګو نور مخونه يې پټ وو، پېژندل يې هم ستونزمن وو، اشنا او نااشنا يې نه ښکارېده. که بله ورځ ورسره مخامخ شې، کېدای شي هېڅ يې ونه پېژنې.

پنځه شپې او ورځې روغتون کې پاتې شوم، درمل مې وخوړل، خو بيا مې هم تبه وه او درملو مې تبه ونه شکوله. ما هم ماسک لاره، خو دا چې له روغتون راووتم، سپرليو فکر وکړ ډاکټره يم. په لاره کې ټولو راته ډاکټره ويل. ما نشو کوی ووايم ډاکټره نه، بلکې ناروغه يم، که مې ورته ويلي وای ټېسټ مې منفي دی، بيا هم کېدای شي وېرېدلي وای. د کرونا په هکله چې دوی کومې خبرې خپلو منځو کې کولې، له پنځو ورځو مخکې څخه لا ډېرې

وېرووونکې وې.

ټوله شپه مو په موټر کې مزل وکړ، د سهار خواته مو لار د یکاولنګ د ولسوالۍ له بازار څخه کږه شوه او د خامې نرۍ لارې خوا ته تاو شوه. دغه لاره له ختو ډکه وه. هوا ډېره سړه وه. تېره شپه مو چې مزل کاوه، د بامیان، پنجاب ولسوالۍ د شاتو په کنډو کې نږدې و موټر چپه شي، خو خدای رحم وکړ روغ را ووتو. ټول یې له موټر ښکته کړو د غاښي تر سر پلي راغلو، زه ناروغه هم وم. په تیاره کې مزل راته سخت و. هوا چې لږ څه روښانه شوه، د قوناق غاښي ته ورسېدو، همدا د دایکنډي ولایت او بامیان تر منځ پوله ده. له دې وروسته موږ دایکنډي ته ننوتو او مزل مو لا پاتې دی.

سهار و، له لیرې مو د کرونایي روغتیا پالانو یوه ډله ولیده، داسې راته ښکاره شوه لکه طالبان مو چې لیدلي وي، ووېرېدم. پوهېدم چې بیا مو تبه ګوري. لا مې هم تبه وه، یخنۍ مې تبه نوره هم زیاته کړې وه. د کرونا ټېسټ کوونکې ډلې ټول له موټر ښکته کړو، دوی تبه سنجوونکې تومانچه ډوله وسایل زموږ تندي ته نیول، کله یې چې زما تبه ولیده، له نورو یې بېله کړم. دوی ته مې وویل ټېسټ مې منفي دی، ډېر مقاومت مې وکړ له نورو مې بېله نه کړي، خو دوی وویل غرفې ته راځه هلته د فشار د کتلو په ماشین ستا فشار ټېسټ کوو. زه یې په دې پلمه غرفې ته بوتلم. دوی راته وویل:

«که نوره سپرلۍ پوه شي ستا تبه ده، یا به یې زړونه ودرېږي، یا به تاسې له موټر ښکته کړي او شخړه به درسره وکړي».

دا چې زما عکس د کرونایي ناروغ په توګه پر فېسبوک خپور

شوی و، نو په بامیان کې ډېرو پېژندلې وم، یوه کرونایي روغتیا پال وپېژندم، راته یې وویل:

«ته هماغه نجلۍ یې چې بامیان کې یې له موټر ښکته کړې وې»؟

ځواب مې ورکړ:

«هو هماغه یم، خو ټېسټ مې منفي دی».

ویې ویل:

«نو تبه ولې لرې»؟

ورته ومې ویل:

«هېڅ نه پوهېږم».

هغوی وویل:

نور بدن دې هم ناروغي لري.

ومې ویل:

«څوک چې تبه لري، خامخا یې نور بدن هم ورسره خوږېږي».

دوی راته ویل چې د بامیان په ټېسټ کې تېروتنه شوې، ته باید دویم ځلي وکتل شې، داسې نه چې خپل کلي ته کرونا یوسې باید ډېر احتیاط وشي، ستاسې وجود کې په سلو کې نوي د کرونا نښې دي.

ورته ومې ویل:

«زه له ترکیې راغلې یم کېدای شي د اقلیم د بدلون له امله وي».

دوی بیا وویل:

«نو احتمالاً کرونا لرې، ته چې له ترکیې راغلې یې په هوایي ډګرونو کې د نړۍ ډېر خلک ښکته پورته کېږي چې یو بل ته

ناروغي لېږدوي، نو کېدای شي تاسې هم پرې اخته وئ».

د دوی له خبرو وروسته مې د خپل بوډا پلار او مور په هکله سوچ وکړ، د ماما د مېرمنې سینه تنګي را یاده شوه، وروسته په دې سوچ کې شوم چې که څوک کور کې کرونا ونیسي ټوله ملامتي به پر ما راشي. خپل وجدان ته به څومره ملامته یم. بیا هم حیرانه وم څه وکړم. پلار ته مې زنګ وواهه:

«پلاره! زه د قوناق غاښي پر سر یم. ډاکټران وایي د بامیان ټېسټ اعتبار نه لري، دوی غواړي نیلي ته مې بوزي».

پلار مې خپه شو ویې ویل:

«څومره بدبخته یې لورې! دا څه بلاوې دي چې پرې اخته کېږې، د ډاکټرانو خبر ومنه څه چې هغوی وایي همغسې وکړه. مور به له دې ځایه هېڅ هم نشو کوی».

له ځان سره مې پرېکړه وکړه نیلي ته لاړه شم. ډاکټر پولیس ته غږ وکړ زما بکس را واخلي، په دې وخت کې سپرلیو اعتراضونه را باندې پیل او ملامته یې کړم چې ولې له دوی سره ناسته وم. یوه خو ښکنځلې هم راته وکړې او زه یې مطلقاً کرونایي ناروغه وبللم. ښځو هم ښېراوې راته وکړې. ډاکټرانو د هغوی د ډاډ له پاره پر هغې چوکۍ چې زه پرې ناسته وم یو بوتل ضد عفوني وشیندل، بیا یې ټولو ته ډاډ ورکړ. هغه ښځه چې زما ترڅنګ وه، خپل ټیکری یې ور وړاندې کړ ورته ویې ویل:

«دلته ښه ډېر وشینده چې زه یې ټوله په کورونا لړلې کړې یم».

موټر لاړ او زه پاتې شوم. اوس زه؛ یوه ځوانه نجلۍ، ناروغه، په کرونا مشکوکه او یوازې، زه بدبخته له دریو پولیسو او دوه ډاکترانو سره د قوناق غاښي پر سر پاتې یم؛ دا هغه غاښی و چې

هوا يې تر جنوبي قطب هم سړه وه. ډاکټرانو نيلي ته زنګونــه وهــل او زما د نيولو راپــور يــې ورکــړ. لــه نــيلي يــې ځــواب ورکــړ چــې امبولانس به ژر را ولېږي.

له سهاره د غرمې تر يوې بجې په يوه کوچنۍ غرفه په سړه هــوا کې بنده او ايساره وم. عسکرو په نغــري د بخــار دېــګ اېښــی و او مايې فش فش ته غوږ نيــولی و. دوی غرمــې تــه لوبيــا او وريجــې پخولې، هر موټر چې راته دوی يې پلټنه کولــه. امبــولانس چــې را ورسېد، زه يې ور وخېژولم، د ننه پکې ښې ډېرې خځلــې، بېــل او کلنګ، بوجۍ او ډېر نور بلا او بتر پراته وو، د تېلــو زړه بــدوونکی بوی پکې و او چوکۍ يې له خاورو ډکې وې.

د امبولانس ډرېور ماسک تړلی و، هېڅوک ورسره نه وو، د شــا خواته يې يوازې زه ورسره ناسته وم. د امبولانس د شا خوا د ډرېور له سيټ سره لار نه لرله، بېخي بېله وه، نو خــبرې مــې هــم ورسره نشوای کوی. لږ شېبه کې له غاښــي ښــکته او د «جَـوُز» بــازار تــه ورسېدو.

دلته هوا لږ څه توده وه. وروسته تر غرمې لمر و او هوا ښه لګېده. ما د امبولانس له هنداري بهر کتل. ونو غــوټۍ کــړې وې. د کورونــو مخې ته ماشومانو لوبې کــولې. د غونــډيو لمنــو کــې وزې او مېــږې څرېدې، د غونډيو له اړخونو اوبه را روانــې وې او ښــکته را لوېــدې، خو ما تبه لرله، لړزېدم او ډېره ناهيلې وم. ځان سره مې ويل:

که کرونا وم نو خامخا مرم، ځکه پوره يوه اونۍ کېږي چې تبــه لرم. ايا يو ځل بيا به مور، پلار، خويندې او وروڼه ووينم؟

ايا يو ځل بيا به خپل دوستان ووينم؟

د خپل ژوند پروګرامونه به مخکې يوړای شم؟

زه به ځوانیمرګه او که به روغه شم؟

ځان سره مې ویل، نه لا خو ځوانه یم ډېر ارمانونه لرم. ډېره بـه بده وي چې بې ځایه مړه شم.

سړک لکه د کچالو د کروندې په څېر ویاله ویاله و، دغه زوړ او ککړ امبولانس چې پر لاره روان و، پورته پورته يې غورځولـو. سره له دې چې زه استراحت ته اړه وم، خو د جمپونو له امله نـوره هـم ستومانه او یو خوا بله خوا کېدم. زړه مې ډېر په تنګ و، یو ناڅاپـه مې بې واکه له سترګو اوښکې راغلې. ډېره خپه وم، ډرېور مـې لـه حاله خبر نه و، د ژړا په حال کې د «چپراسک» بازار ته ورسېدو.

که ناروغه نه وای باید همدلته کوزه شوې وای، له خپل پـلار او اوښي سره به په هغه موټر سایکل کلي ته تللې وای چې پر ما پسې راغلي وو. اوښي مې وویل:

«بېولای دې نشم، ډرېور ته ووایه امبـولانس ودروي، یـو ځـل دې ووینم».

د بازار په منځ کې مې د ډرېور شـا تختـه وډبولـه، هغـه مـوټر ودراوه، له اوښي سره مې د پنځه متره په واټن په اوچت غږ سـتړې مشي وکړه، د نږدې خبرو اجازه نه وه، له امبولانس د کوزېدو اجازه هم نه وه. بازار تر پخوا تش و، خو بیا هم یو څـو هټـۍ پرانیسـتې وې، خلکو راته رډې رډې کتل او را څخه وېرېـدل. د څـو تنـو پـه سترګو کې مې ولوستل:

«یوه ځوانه نجلۍ، یواځې په امبولانس کې له یوه پردي نارینـه سره».

د خلکو کتل له معنا ډک وو. داسې و لکه همدا اوس مې چې هدیرې ته وړي.

له لرې مې اوښـي تـه لاس وخوځـاوه، او امبـولانس لـه بـازار ووت. ماته بيا هم ژړا راتله، له چپراسک څخه د القان تر بازار، بيـا د شهرستان ولسوالۍ تر مرکز پورې، له يو ساعت څخه زياتـه لاره ده؛ دومره ښکلې منظره او لاره ده چې پـه پسرلـي کـې يـې نـو د ښايست پوښتنه مه کوه، خو زما سترګې له اوښکو ډکـې وې. څـو کلونه کېدل ډايکنډي ته نه وم راغلې. څو مياشتې چې ترکيـه کـې وم، يوه بېله نړۍ راته ښـکارېده. بهـر تـه مـې چـې کتـل، د خپـل ماشومتوب نوستالژي او د کوچنيوالي دوره را يادېـده. لـه دې سره مې نوره هم ژړا زياتېده.

په القان بازار کې مو امبولانس بدل شـو. هلتـه يـې زه يـوه بـل امبولانس کې چې له نيلي راغلی و کېنولم. هغـه هـم د شهرسـتان ولسوالۍ له امبولانس سره ډېر توپير نـه درلـود، تـوپير دا و چـې د دې ډرېور يو څه زلمکی و، نو ځکه يې امبولانس ډېر بې احتياطـه چلاوه او له بلې خوا يې امبولانس کې موسـيقي چالانـه کـړې وه چې غږ يی ډېر اوچت او ازاروونکی و.

د لارې نيمايي کې وو چې لمر پرېووت، کله چـې هـوا لـږ لـږ تياره شوه وېرې واخيستم، اندېښنه مې شوه ډرېـور راتـه مزاحمـت ونکړي. بيا مې ويل که ډېر لږ عقل هم ولري، داسې کوم کار به نه کوي، له کرونا خو به ډارېږي، خو چې پوه شوم هغـه يـو مهربانـه ځوان و په لاره کې يې څو ځله راته وويل چې کـه هرڅـه پـه کـار وي غږ کوه.

د لزير سيند له پله تېر شوو، تر پله لاندې توند سـېلاب روان و او له د ځای وروسـته سـړک پـوخ و. د شـپې اتـه بجـې نـيلي تـه ورسېدو.



ډرېور د نیلي د زاړه بازار منځ کې د امبولانس الارمونه ولګول، دا د خطر او ناروغۍ نښه وه، خو بازار تیاره او تش و. وروسته تر هغه یوې غونډۍ ته وخوت او د یوه کور مخې ته ودرېد، یو تن راغی د موټر دروازه یې پرانیسته. راته ویې ویل:

«را کوزه شه! دا د کرونا ځانګړی روغتون دی».

د امبولانس الارم لا هم چیغې وهلې، موټروان خپل ټلیفون غوږ ته نیولی و، خو له هغې خوا هېڅ ځواب نه ورکاوه، چا موږ ته دروازه هم نه خلاصوله. زه دروازې ته وړاندې ورغلم چې ویې ډبوم، یو سپینې چپنې والا چې ماسک او غټې عینکې یې اچولې وې راغی، د دهلیز اخېر کې یې زه یوې لویې کوټې ته بوتلم. شاوخوا څو کټونه وو. د کوټې په منځ کې یوه د تېلو بخارۍ وه چې د تېلو بوی ترې پورته کېده. پر یوه بستر پرېوتم. لږ ځنډ وروسته ډاکټران راغلل؛ زما فشار یې وکوت او «کنول» یې راته د لاس په رګ وتاړه سیروم یې راته چالان کړل. یوه سپین ږیري ملازم بخارۍ ولګوله. هغه یوازې یو ماسک درلود، نور څه یې نه لرل. زه په دې کوټه کې یوازې وم.

په سبا یې زما د وینې نمونه کابل ته ولېږه، نورو کوټو کې یو څو نور مشکوک ناروغان هم بستر وو. یو که دوو یې د کرونا مثبت ټېسټ درلود، هغوی بیخي بېله کوټه کې وو. دلته یوه اونۍ د خپلې پایلې په تمه وم. د روغتون ډوډۍ یوه ټوکه وه، خو د ډاکټرانو چلند ښه و. بوډا ملازم کیسه راته وکړه چې دا روغتون تر دې وړاندې د معتادینو د درملنې له پاره و.

ما سره پرته له ټلیفون او دغه مهربانه بوډا ملازم بل څوک د خبرو نه وو. مور، پلار او ورونو مې هر یو ساعت وروسته خبر

اخیست او زنګونه به یې راته وهل، مور مې غوښتل نیلي ته راشي، خو ما په ټینګه له راتګ منعه کړه، غوښتل یې خامخا راشي، سره له دې چې بازار کې هوټلونه ټول تړلي وو، خو مور مې ډېر ټینګار کاوه چې هرومرو به راځي په خواریو مې ډاډ ورکړ. په دغه یوه اونۍ کې به کله تبه را باندې راغله کله به ښه وم.

ما په فېسبوک لیدل چې افغانستان کې د کرونا په ناروغۍ د اخته کسانو او د کرونا له کبله د تلفاتو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي. په ډایکنډي کې د شپږو تنو ازمایش مثبت وخوت، خو څوک مړه نه وو. دغه شپږ تنه د همدې روغتون، خو په یوه بېله کوټه کې بستر وو.

وېرېدم چې اووم تن نشم، خو یوه شپه دغه شپږ پنځه شول. په هغه شپه دهلیز کې ګڼه ګوڼه زیاته شوه، ډاکټرانو وارخطا هره خوا منډې وهلې، بوډا ملازم ماته ډاډ را کاوه چې مه وېرېږه څه خبره نشته، خو خواشینوونکې خبره وه، په هغه شپه یوه بوډۍ مېرمن وفات شوه. په هغه سبا یې د هغې مېرمنې دوه لورګانې زما د کوټې تر څنګ کوټه کې قرنتین کړې، بوډا ملازم به هغوی ته هم چای او ډوډۍ ور وړل. د هغوی بخارۍ یې تودوله. کله کله به یې سهار سهار ماته ویل:

«ته د شپې په خوب کې لاس او پښې وهې او غږ زوږ جوړوې».

په پای کې دا ځل هم زما د ټېسټ پایله منفي راووته. د ډایکنډي د عامې روغتیا رییس ډاکټر اسحاق علي چې زما د ورور ملګری و، د کرونا روغتون ته راغی او زه یې خپل شخصي موټر کې کېنولم او د دوی کور ته لاړو. یوه شپه مې هلته وکړه، هغه یو ډېر لایق ډاکټر و، راته ویل یې ته محرقه یې، نو د محرقې

پيچکاري يې راکړه.

په سبا يې له نيلي څخه موټر کې کېناستم او د چپراسک خوا ته روانه شوم. زما بکس د محرقې لـه شربـت او پيچ‌کـاريو ډک و. زما د لاس کنول څو ځله بدل شو، خو يو يې لا اوس هم ترلـې و. کله چې د چپراسک بازار ته ور لنډ شوو، هلته مې اوښې را تـه پـه تمه و، په خوشالۍ سره يې شاته پر موټر سايکل کېناسـتم او خپـل کلي «ډاله» ته روان شوو. سره له دې چې دوه ځله مې ټېسټ منفي وخوت، خو بيا هم هر چا چې ليـدم، راڅخـه لـرې کېـدل. د دې کليو خلکو پېژندم، ځکه چې دوی ټول زموږ کلي ته نږدې وو بـل لامل يې دا و چې زه اوس ډېره مشهوره شوې وم.

او په پای کې د غواګۍ په څېر له يوه ډېر ځنډني مزل وروسته پـه شپاړسـمه ورځ خپـل کـور تـه ورسـېدم. دا د وري د مياشـتې څوارلسم و. مور او پلار مې غېږ کې ونيوم. لا بـه هـم کلـه تبـه را باندې راغله او ځان مې هم خوږېده. وروسته تر شـلو ورځـو مـې بيخي تبه وشکېده او روغه جوړه شوم.

## ورکه شوې جنازه

د ۱۳۹۹ل کال د غبرګولي پر شپاړسمه چې «ملا محسن عـارفي»[۱] مړ شو، سرګردانه اروا یې چې د کرونا کوم اثر پکې نـه و، د غـزني په «نو اباد» سیمه کې د دوی د کور پر سر ګرځېده چـې د جسـم د خښولو څرنګوالی یې ووینې. ډېره ترخه لیدنـه وه! د مـلا محسـن زړه د روزګار له نامردۍ ناخوښ و. ښځې یی ژړل او شپږو یتیمـو اولادونو یې د پلار د جنازې اوچتولو له پاره هېڅ هم نشو کوی.

اروا یې ځان سره ویل، څومره کم طالع وم؛ کلونه مـې د نورو مړیو د جنازې لمونځونه وکړل، د خلکو د مړي تلقـین مـې د دې له پاره وکړ، کله چې نکیر او منکر په وېروونکې بڼه راکوزېږي، نو د خدای (ج) له کمزورو بندګانو هرڅـه هېـر نـه شي او د خپـل خـدای پـه بنـدګۍ او د رسـول الله (ص) پـر امـت والي یـې ژبـه وګرځي، خو اوس دا دی خپله هم په دې ورځ اخته شوم، د خدای پاک دغه دوه مقربې ملایکې را روانې او په یوه قبر کې راته په تمـه

۱ـ په دې کیسه کې د شخصیتونو نومونه خیالي دي او د ځایونو مشخصات هم بدل شوي دي .



دي، هېڅوک نشته چې زما تابوت اوچت او قبر ته کـوز کـړي. لـه جنازې مې تښتي او رانه وېرېږي.

د ملا اروا له دې امله ولړزېده او د دنیا پر سـپکوالي یـې لعنـت ووایه. دغه لعنت یې ډېر په قهر او غوسې سره وو.

مخکې تر دې چې دوه اونۍ وړاندې ملا محسن ځان عزراییل ته تسلیم کړي او اروا یې په نړۍ او د نـړۍ پـه اوسـېدونکو لعنـت ووایي، د خواجه عمري ولسوالۍ پـه مرکـز کـې اوسـېده، هلتـه د خلکو د شرعي چارو په سـمبالولو بوخـت و. د هغـې ورځـې پـه سهار چې د ده د بدمرغۍ سریال پیلېده، د هماغه جومات منبر و. ده هلته ماشومانو ته قران ورښود او لویانو ته یې د جمعـې لمـونځ ورکاوه چې یو ناڅاپه یې کمزوري حس کړه، له حاله ووت ورپسـې څو ورځې سر درد و.

وروسته له هغې ورځې د جومات د شاوخوا خلکو یو بل ته پـه غوږ کې ویل، وېره به یې څرګندوله چې ملاصیب په کرونا نـه وي اخته شوی. په همدې خاطر خلکو ملا صیب ته وویـل، پـه غـزني کې یې خپل کور ته لاړ شي. مـلا یـو پیـاوړی او ځـوان سـړی و، داسې یې نه ګڼله چې د یو سر درد او یو ځل کمزورۍ له املـه بـه ځان له کاره باسي. خلکو ته یې ویل چـې جـوړ او روغ دی، خـو خلک ورته وایي چې نه، بهتره ده کور ته یې لاړ شي.

د خلکـو لـه ټینګـار وروسـته مـلا نـه غـواړي د دوی بدګمانـه سترګې پرې ولګېږي، موټر کې کېني او په څلوېښت دقیقو کې یې له خواجه عمري څخه، د غـزني مرکـز تـه رسـوي. کـور تـه چـې رسېږي هڅه کوي څوک ډېر پرې پوه نه شي، خـو د سر دردۍ تـر څنګ یې سینه هم تنګه کېده. احساس یې کړه، وجود یې تود

دی او تبه لري.

یو دوه ورځې تېرېږي، خو مــلا ښــه ډوډۍ خــوري، د کــور پــه چارو بوختېږي. یوه ورځ چې د تودې هــوا د پیلېــدو لــومړۍ ورځ وه، په دې فکر کوي چې د انګړ پر ونو د خزندو دوا وشــیندي. لــه دې کار چــې وزګــارېږي، دوه ســاعته وروســته ټــوخی ورتــه پیــدا کېږي، اړ کېږي روغتون ته لاړ شي.

ملا، ټوخی د درملو د شیندلو لامل بولي. هغــه پخــوانۍ نښــې هېڅ ته نه وايي. ډاکتر ورتــه د کیمیــاوي توکــو د حساســیت ضــد پېچکارۍ ورکوي. ملا بېرته خپل کور ته ځــي. د ډاکټــر لــه لــوري ورته تجویز شوي درمل خوري، خو حال یې نه ښه کېــږي. ټــوخی یې زیات او نفس ایستل ورتــه ســخت شــول. دا ځــل ډاکــتر ورتــه وویل چې باید د کرونا له پاره ځانګړي شــوي روغتــون تــه ورشي. دغه روغتون په ملا وېره خوره کړه او زړه یې نه و چــې ور ننــوزي، سره له دې چې پوره نږدې ورغلی و، خــو بېرتــه تــرې وګرځېــد او کور ته ستون شو.

ځان سره وايي که رښتیا هم خلک د کرونا پــه نــوم وژني او بیــا یې د بدن غړي په قاچاقي ډول پلوري، نو بیا به څنګه شي؟

که په دې ډول یې روغتون کې ووژني، بیا خو یې هېڅوک هم جنازه نــه کــوي. د مــلا پــه ذهــن کــې همداســې ډول ډول خــبرې ګرځېدې، روغتون ته له تګ تېر شو، د تقدیر په تمه کور کې کــرار ویده شو. خو تقدیر مهربان نه و.

ملا صیب تر نورو ټولو ورځو کمزوری او بې حاله و او حالت یې شېبه په شــېبه بــدتر کېــده. نــور یــې د مــرګ پــر وړانــدې هــېڅ مقاومــت نشــو کــوی. د غبرګــولي میاشــتې پــه شپاړســمه نېټــه د

ماسپښین درې بجې وفات شو. داسې مرګ چې که څو کاله مخکې یې له چا اورېدلي وای، نو خامخا به یې ویلي وای، مسلمان څه چې خدای دې کاپر هم داسې نه وژني. د شرم او یوازېتوب مرګ! اوس یې اروا وایي چې د اخرت په ورځ به د دغه شوم کال د راز پوښتنه وشي.

د کورنۍ او خپلوانو په زړونو کې یې داسې څه نه دي چې د ملا اروا یې فکر کوي. د ملا ځوانه مېرمن لیلا چې کله د ملا محسن مړی ویني، نو دا چې د هغې مشر زوی ایله شپاړس کلن دی، هغه ډېره ځوروي، د هغې اروا د ملامحسن تر اروا هم بدتره سرګردانه کېږي. د ملا محسن اروا د تدفین او تکفین له پاره لالهانده وه، خو مېرمن یې لا هم واقعیت نه مني. هغه د روزګار دې ناځوانۍ ته حیرانه وه.

د ملا ښځه ټولو دوستانو او خپلوانو ته د پېښې په اړه ټلیفون کوي. د ملا ورور او خویندې هم خبروي. هغه غواړي چې د مېړه له پاره یې داسې د تکفین او تدفین مراسم ترسره شي، لکه څنګه چې یې حق دی، خو داسې بد وخت راغلی ته به وایې چې اخر الزمان دی. دا د داسې محشر نښې وې چې ملا صیب به پر منبر خلکو ته انځورولې، خو هغه داسې فکر نه کاوه چې یوه ورځ به همداسې یو حالت د خپل سرګردان روح په سترګو ګوري.

په غزني ښار کې د ملا هېڅ خپلوان نه وو، ټول له غزني بهر په کلیو کې وو. یو شمېر نور یې کابل کې دي. دوه سپین ږیري مشران ورونه یې په کابل کې اوسېږي. یو یې خپله په کرونا اخته دی او د دشت برچي په محمدعلي جناح روغتون کې بستر دی. له بلې خوا لارې بندې دي، هېڅوک له یو ځای څخه بل ځای ته

نشي تلای.

هر ځای خلکو ته کرونا کمین نیولی، په داسې مهال د ملا ورونه له خپلو کورونو نشي وتلای. په دې ډول سره هغوی غزني کې د ملا د جنازې بندوبست ونشو کړی. د کرونا له امله د مړینو خبرونه لکه د پسرلني تالندې په څېر هر ځای پرکېږي، کرونا په خلکو عام وژنه راوستې. وضعیت دومره خراب دی چې یو مسلمان د بل زارۍ او غږ نشي اورېدای.

په داسې وضعیت کې د ملا هېڅ خپلوان د خپل ځان له وېرې د ملا د کونډې مېرمن زاریو ته ځواب نشي- ویلای او نه هم د جنازې دود- دستور ته راتلای شي. څه موده وروسته د ملا ښځې ویل چې په هماغه ورځ د ملا محسن ورونو د غزني د کرونا روغتون ته زنګ وهلی و او ورته ویلي یې وو چې ملا په کرونا مړ دی، تاسې یې جنازه واخلئ او له انسانانو ډېر لیرې یې خښ کړئ، خو د دې خبرې دروغ او رښتیا معلوم نه شول. د ملا محسن ورور وایي دا خبره دروغ ده. مانه بلکې د ملا یو ګاونډي زنګ وهلی و. په دې خبرې سره د ملا ښځې ته کینه پیدا کېږي او د ملا له ټولو خپلوانو سره مړی او ژوندی پرېږدي. دا چې چا زنګ وهلی و، معلومه نه شوه، خو په هغه ورځ د کرونا د ناروغانو د روغتون موظفین راغلل او د هغه مړی یې پرته له غسل او جنازې په کوم ډېر لیرې ځای کې خښ کړ.

د ملا اروا ډېره وکړېده چې د هغه جنازه دې د غزني د نو اباد په هدیره کې د نوموړي له پخوانیو اشنایانو سره خښه کړي، خو د هغه د اروا هلې ځلې کومه ګټه نه کوي او ورکه شوې جنازه یې یوه داسې قبرستاني (هدیرې) ته ورل کېږي چې هلته له زرګونو



مړیو څخه یو هم دی نه پېژني. له دې پرته هغه هدیره دومره ښه امنیت هم نه لري، تګ - راتګ هم ورته ستونزمن دی.

له همدې امله د ملا اولادونه لکه څنګه چې دود دی، د هغه قبر ته د دعا له پاره نشي ورتلای او د هغه د قبر د لیدو ارمانجن پاتې شول، خو لیلا ورځي د قبر پر سر ژاړي او ژمنه ورسره کوي، اولادونه به یې یوازې نه پرېږدي چې برخلیک یې خراب شي. په دې ډول سره لیلا د خپل خاوند له تبعید شوي قبر راستنېږي، خو هېڅا ته نه ګوري او تر ډېره په یوازېتوب سره په ویر کې پاتې کېږي او له کور نه وزي.

ژوند تر یو وخت پورې همداسې چلېږي، ډېر نور خلک هم کرونا نیسي، یو شمېر رغېږي، نور بیا لکه د ملا محسن په څېر مري او هدیرو ته وړل کېږي. مهمه دا چې هر کور ته د کرونا خپرېدل د خدای وهلو له پاره الهی عذاب و نه ګڼل شو، بلکې هر چا ته یوه داسې بد چانسي تعبیر شوه چې په ټولو، په هر هېواد او په هر نژاد راغله.

ورو ورو له کرونا څخه د خلکو وېره کمه شوه، ژوند بېرته خپل بهیر ته ور وګرځېد، اوس خلک له کرونا څخه په شرم کولو خاندي، که څوک وروسته تر دې کرونا هم شي، کېدای شي پټه یې نه کړي، خلک هڅه کوي هغه خپګانونه چې هغه وخت رامنځ ته شوي وو، جبران کړي.

د ۱۳۹۹ ل کال د تلې په میاشت کې لیلا په دې فکر کې شوه چې د خپل مېړه د اروا خوشالولو او خپل وجدان د ارامۍ له پاره یو ختم وکړي.

د نو اباد په جومات کې د دعا او ختم اعلان وشو او په غزني

او د هغه شاوخوا ته دوستانو ته بلنلیکونه واستول شول. نور نو قرنتین پای ته رسېدلی و او د خلکو وېره هم تښتېدلې وه، نو ټولو د کرونا قربانیانو ته د درناوي او د دوی له خپلوانو سره غمرازۍ ته ځانونه چمتو کړي وو. لیلا نور نه غوارې، د ملا محسن له خپلوانو سره خپلوي وپالي، دا ځکه هغه وايي چې په سخته ورځ یې غم ته رانغلل او ملا محسن یې یوازې پرېښود. دا کار د دې لامل شو چې د هغه بزرگوار مړی بې له غسل او جنازې دفن او له ښار لرې تبعید شي.

ویریدلې زلاله

د ۱۳۹۸ل کال د ژمي په یوه ورځ د «زلاله صافۍ»[۱]، پـه نـوم یـوه مېرمن، د هغې په کور، د لوګر ولایت، پل علم ښار د «خم هنـدو» په سیمه کې د خپل ټلویزیون د مېز خاورې څنډې او په کوټـه کـې یې برسېرنې او توشکې هم ګډې وډې پرتې دي. زلاله دا ډېره مـوده عادت لري، د وسایلو ښه چمتو کولو، د کوټو نظم او نوي کولو، د لوښو پاکولو او د کړکیو او دېوالونو رنګولو تـه پاملرنـه وکـړي. پـه هغه ورځ یې هم د کوټې هرڅه سمبال کړل. شنه برېستن یې د هغې بلې ژېړې له پاسه کېښوده، هغه نورې سرې او برګې یې هم ورسره برابرې کړې چې د ټلویزیون خبرونـو تـه یـې پـام شـو. خبرونـه د «کرونا» په نوم د یوې خطرناکې ناروغۍ په اړه وو. زلالـې لاسـونه تر ملا ونیول او په پام سره خبرونو ته ځیر شوه.

زلاله دوه دېرش کلنـه ده. بچیـان یـې نهـه او څلـور کلـن دي. خاوند یې «فېروز» نومېږي، په ښار کې د یو ښوونځي مدیر دی پـه

---

۱ـ په دې کیسه کې د شخصیتونو نومونه خیالي دي او د ځایونو له پاره هم نوم بـدل او د راوي د پېژندنې د پټ ساتلو په خاطر دندې هم بدلې شوې دي.

خپله هم په یوه روغتیایي موسسه کې ښوونکې ده. د ښوونکو هغه مشهوره جمله چې وایي «پاکوالي ته پام وکړئ»، د هغې تکیه‌کلام دی. په واقعیت کې دغه تکیه کلام ټولو ته د مکربونو بـدې اغېـزې په ګوته کوي. کله چې له ټلویزیون څخـه د کرونـا ویـروس د ډېـر ګړندي خپرېدو او د کرونا د مرګونې ناروغۍ په هکله اوري، نو تر نورو خلکو زیاته وېرېږي، خو بیا هم ځان پـه دې ډاډه کـوي چـې کرونا به لوګر ته هېڅکله هم را نه شي. په همدې ډاډ ېېرتـه ځـان د کوټې په سمبالولو بوختوي.

ورو ورو د ژمي هوا پسرلنۍ کېږي، د کور د انګړ ونې او بـوټي شنه کېږي، زلالې ټول ژمی په دې تمه ښه تېر کـړ چـې پسرلـی بـه انسټیټیوټ (د دوی موسسه) شروع شي او خپلـو شـاګردانو تـه بـه لوستونه پیل کړي، خو پسرلی پرته لـه دې چـې درسـونه پیـل شي راغی. ورپسې په ټول ښار ټول بندیز ولګېد. ان د کورونـو دروازې هم بندې شوې. وروسته خبرونه راغلل چې کرونا لـه چـین څخـه کابل ته هم را ورسېده، کېدای شي لوګر ته هم راشي، ټول پل علم کې وېره خوره شوه، خو د زلالې وېره او اندېښنه تر ټولـو ډېـره ده، پرله پسې خبرونه اوري او وېره یې زیاتېږي. په ټلویزیون کې پرته له کرونا بل څه نشته.

کابل کې چې په کرونا د اخته کسانو شمېر وار پـه وار زیـاتېږي او ناروغي څو نورو ولایتو تـه هـم خپرېـږي او بیـا لـوګر تـه هـم راځي، نو له زلالې څخه ټولګی او شاګردان بیخي هېرېـږي. ټولـه پاملرنه یې دې ته اوړي چې ځان څنګه له کرونا وساتي.

د قرنیتن په لومړیو ورځو کې له خپل مېړه سره درملتون ته ځي، د لس زره افغانیو ماسکونه، لاس پوښوني، ضد عفـوني سـپرې او



ډیټول صابون اخلي. دا شیان لکه سره زر په ښار کې ناپیدا او بیې یې لوړې شوې وې. سره له دې چې نورې هټۍ تړلې دي، خو درملتونونه پرانیستي وو. ډېری خلک درملتونونو ته راتلل. هر یو چې درمل واخلي، په منډه کورونو ته ستنېږي. کله چې د زلالې ښېنه انګړ ته ننوته یوه سپرې یې را وکښه ټول اخیستل شوي مواد او خپل ځان یې ضد عفوني کړ، وروسته بیا کوټې ته ننوته.

په هغو ورځو کې له کرونا سره د مبارزې چارې او د کرونا په هکله تبلیغات ډېر شوي وو. هر ټلویزیون همدا په تکرار سره خپرول. د تبلیغاتو محتوا ټوله همدا یوه خبره وه، ټولو ته یې همدا ویل:

خپل لاسونه د ورځې څو ځله په تودو اوبو د شلو ثانیو له پاره ومینځئ!

له ماسک او لاس پوښونو استفاده وکړئ!

لیمو او زنجبیل وکاروئ!

له نورو سره دوه متره واټن وساتئ!

د ګڼې ګونې ځایو ته مه ورځئ!

د کور مشخص ځایونه لکه دروازه او نور ضد عفوني کړئ!

او....

نور نو د زلالې مبارزه هم پیل شوه. هر سهار به چې له خوبه را ویښه شوه، د کوټې ټوله شاوخوا، په تېره دروازې او ټلویزیون، کړکۍ او مېزونه به یې ضد عفوني کړل. له لمانځه وروسته پخلنځی او د پخلنځي ټول وسایل په صابون مینځي، بیا ناشتا تیاروي.

هغه په څلورویشتو ساعتونو کې دوه ځله؛ یو ځل د سهار له لمانځه وروسته او بیا د مازیګر پنځه بجې دا کار کوي. دا وخت

په مزارشريف کې د کرونا لـه وېـرې د يـو سـړي د ځـانوژنې خـبر خپرېږي، زلالې ته هغه سړی حق په جانب ښکاري. ځان سره فکر کوي، د کرونا له هغه مرګ څخه چې فاميل او خپلوان ونشي کوی د مړي جسد وګوري او د هغه له وروستي ديدن بې برخـې او پرتـه له تلقين او کفن او معمولي دفن څخه تر خاورو لاندې شي، نو تر هغه خو ځانوژنه ښه ده، خو بيا هم زلاله دومره په اسانه مرګ ته نه تسليمېږي؛ خو د هغه پر ځای له دغه ويروس سره د مبارزې تدابير پياوړي کوي.

زلاله له فېروز غواړي چې لږ تر لږه د شپږو مياشتو له پاره اړين توکي چمتو او زېرمه کړي. هغه ډېر جـدي تصـميم نيسي- چـې د کورنۍ هېڅ غړی له کوره بهر نشي، که فېروز له مجبورۍ وزي، نو زلاله يې اړ باسي چې پر يو وخت دوه ماسکونه وتړي او ان تر دې چې يوه ورځ کوځې ته منډې پسې وهي او پر سترګو يـې لمرينـې عينکې ور ږدي. بله ورځ چې په فېروز لـږ ناوختـه شـوه، خپلـه د کوڅې تر هټيو ورپسې ووته.

زلاله اړ کېږي، ټکلېخ (نانوايۍ) ته په ډوډۍ پسې خپلـه ووځـي، ځکه چې ماشومان د کرونا احتياط نشي رعايتوی. زلاله نه غـواړي د هټيوالو لاس لا په ډوډۍ او نورو شيانو ولګېږي، خو دا ناشـونې وه. وروسته له هغې به يې پر ډوډۍ هغه ځايونه په نښه کول چې د نانوای د شاګرد لاسونه ورباندې لګېدلي وو، له را رسېدو سره سم به يې ټول ځايونه تر دورازې، بوټانو او نور ټول ضد عفوني کړل. د ډوډۍ هغـه برخې به يې پرې کړې چې د نانوای لاس پرې لګېدلی و.

د شپې د ډوډۍ پر مهال فېـروز ګـوري چـې ډوډۍ څـو ځايـه سورۍ ده، کله چې په کيسه پوهېږي، په هغه سبا يې انګړ کې تنور

جوړ کړ چې ټکلیخ ته د تګ اړتیا پاتې نه شي.

د قرنتین ورځې په سختۍ تېرېدې. زلاله به ټوله ورځ په مینځلو او پخولو بوخته وه. وروسته تر یوې میاشتې د زلالې لاسونو د ډېرو مینځلو له لاسه پوټکی واچاوه. هر سهار او ماښام بـه یـې د کور او پخلنځي تر ضد عفوني کولو وروسته یـو لـوی، پلاسـتیک واخیست او په لوښو بـه یـې اوار کـړ او د کـور کړکـۍ یـې ټـولې بندولې چې کور ته یې کوم ویروس را نه شي.

کله به یې چې پلاستیک له لوښو بېرته ټولاوه، تـه بـه وایـې لـه ویروس ډک دی، نو هغه به یې لکه یو ککړ شی، ایسته غورځـاوه. د زلالې ډېرې سختګیرۍ ژوند په ټولو تنګ کړ. فېروز د زلالې لـه سخت‌ګیرۍ سره مبارزه پیل کړه، خـو پـه هـېڅ چـل یـې د هغـې اندېښنه کمه نه کړه.

د کرونا په وړانـدې د زلالـې د احتیـاط د نـورو لارو چـارو تـر ځنګ یوه بله لاره هم دا وه چې هره ورځ به یـې ټـول لوښـي لـس دقیقې په جوش اوبو کې اېښودل. ډېر وخت نـه و تېـر چـې ضـد عفوني مایع خلاص شول. دا وخت زلالې له وای ټېکس (د جـامو سپینوونکې ماده ده) کار اخیستل پیل کړل. دا هم یوه ډېره کم پیـدا او لوړ بیه کېمیاوي ماده وه.

هر ځل به یې چې وای ټېکس محلول جوش اوبو ته واچاوه، د هغه توند بوی به یې سږي ور سولول. د هغې اندېښنه دومره حد ته ورسېده چې په لږ وزګارېدو سره به یې خامخا د کور پـر یـو ځـای کېمیاوي مواد شیندل. ټوله ورځ یـې همـدا کـار و. دومـره ډېـره د کرونا او مکروب وژونکو په فکر کې وه چې ان د لمانځه رکعتونـه به ور څخه غلط شول، ځینې وخت به یې لمونځ بیا له سره وکړ.

فېروز اړ شو خبره خپلې خوابنې ته ورسوي او مرسته ترې وغواړي.

د زلالې مور چې د هغې ور ورټکوي، زلاله په غوسه او عصبانیت ور وځي او ورته وايي:

«دا څوک يې چې دې حال کې دروازه ټکوې»؟

په دروازه کېويني سپين سرې مور يې راغلې، لومړی د هغې لاسونه د وای ټېکس په محلول مينځي، بيا ورته وايي جامې بدلې کړئ او بيا راشئ. خو مور يې نه منې او کوښښ کوي د زلالې انديښنې کمې کړي. په هغه ورځ فېروز او خوابنې يې ډېرې هلې ځلې وکړې زلالې ته ډاډ ورکړي، خو زلاله ډېره وسواسي او سودايي شوې وه، خوب يې هم الوتی و، د مور او مېړه په خبرو هم سمه نه پوهېږي، دوی ته په ژړا وايي:

«انديښنه او سودايي توب مې خپل واک کې نه دي».

فېروز او مور ته يې وايي هڅه به وکړي انديښنه يې کمه شي.

له دې ټولو سره سره بيا هم نه کېږي. مور يې چې څو ساعته وروسته ځي، زلاله د کرونا له وېرې چې له مور سره يې نه وي راغلې ان تر فرشونو پورې هرڅه مينځي. د هغې ورځې تر مازيگره يې غالۍ او ټغرونه ومينځل. پرته له بام څخه، نور ټول ځايونه يې ومينځل. فرشونه يې لمر ته واچول. د فرشونو د اوارولو له پاره بام ته وخته، کوڅه کې خلک ويني چې ښکته پورته گرځي. د خلکو په ليدو حيرانېږي، سم ورته گوري چې يو شمېر يې هېڅ ماسک هم نه لري.

د خلکو دې حالت يې هم انديښنه کمه نکړه، بلکې نوره يې هم سودايي کړه. فکر يې کاوه که څوک کرونا ونيسي‍ـ هرومرو مري.



په همدې فکر سره د غويي مياشتې په پای کې چې د روژې ورځې وې سردرد شوه، څو ورځـې سر درد وه، سره لـه دې چـې نـه يـې ستوني خاربښت کاوه، نه يې تبه وه او نه هم ټوخېده. خو هغې فکر کاوه کرونا نيولې ده، نو په پټه يې وصـيت پاڼـه وليکـه هغـه يـې د ټلويزيون شاته کېښوده، هلته يې ليکلي وو چې مـړه شـوم، فېـروز دې پر ماشومانو ډېر پام کوي.

هغه وخت چې د غبرګولي په مياشت کې وار پـه وار پـه کابـل کې د کرونا ناروغي لا پراخه او ډېر کسان پرې اختـه او يـو شـمېر وفات شول، نو د زلالې انديښنه نوره هم ډېره شوه. يوه ورځ، فېروز هغه يوه ډاکټر ته بوتله. ډاکټر د فېروز اشنا و، هغه د ارام کوونکو او خوب راوستونکو څو ټابليټونو تر څنګ، فېروز ته وويل، زلاله دې يو څه موده کلي ته بوزي. څو ورځې وروسته د دغـو ټـابلېټونو پـه خوړلو سره د زلالې وضعيت لا زيات خرابېږي، دغـه غيـر عـادي حالت د دې لامل شو چې کلي ته له تګ پرته بله لار ونه مومي.

په پای کې يوه ورځ د غبرګولي مياشتې په اواخرو کـې، فېـروز خپله مېـرمن او ماشـومان مـوټر کـې کېنـوي او پـه «برکـي بـرک» ولسوالۍ کې يې خپل پلرني کلي ته بيايي.

زلاله او اولادونه يې د ۱۳۹۹ ل کال دوه مياشتې هلته کلي کې تېروي. په کلي کې بېرته له ناروغۍ جـوړېږي، خـو کـاملاً عـادي حالت ته نه وه راګرځېدلې. دوی د وږي په مياشت کې بېرته مرکـز پل علم ته راځي چې ګوري په ښار کې د کرونا لـه وختـه مخکـې سره هېڅ توپير نه دی راغلی خو زلاله بيا هغه پخوانۍ زلاله نه وه.

# باميانې جنت او کرونايي دوزخ

ډاکتر «حسین علي مستمندیار» مخکې تر دې چې د ۱۳۹۹ ل کال په پیل په بامیان کې د «کوید۱۹» د کنټرول پروژې مسئول وټاکل شي، څو څو ځله یې ځان سره فکر کړی و چې په څه ډول به ځان او خپله کورنۍ له کرونا ژغوري؟

ان یو ځل یې وغوښتل له بامیان څخه پروان ولایت خپل پلرني کلي؛ شیخ علي ته لاړ شي. شیخ علي د دوی پلرنی کلی د درې په منځ کې څو کورونه لري. ده به ویل هېڅ امکان نلري چې کرونا دې شیخ علي ته هم لاره شي.

که کرونا نه وای، ده به د هغه ډېر لیرې کلي په هکله فکر هم نه و کړی، د دغه کلي په هکله فکر کول لکه د تاریخ څو سوه کاله مخکې دورې ته کتل وو. وضعیت فرق کړی و، اوس مهمه دا ده چې ژوند وژغورل شي. هغه کولای شول له خپلې کډې او ماشومانو سره د یو کال له پاره خپل پلرني کلي ته لاړ شي او د یوه کال لګښت یې ورته درلود، څو چې د کرونا غم پای ته ورسېږي، خو د پروژې په اړه وړاندیز او په هغې کې کار او دا چې د هغه په څېر ښه ډاکتران ډګر پرېږدي، ده ته نامناسب ښکارېدل، ځکه چې خلک بېچارګان به څه کوي، نو ځکه د خلکو له غمه په بامیان کې پاتې شو.

مستمندیار چې د کرونا لومړیو کې له دغه ناورین څخه د تېښتې په فکر کې و، اوس په خپله له کرونا سره د مبارزې لومړۍ لیکې ته راغلی و. دې مبارزې یې عادي ژوند دومره بدل او ګډوډ کړ چې ده یې مخکې فکر نشو کوی. دوه میاشتې یې نه ارام خوب وکړ او نه یې په ارامه یو غوړپ اوبه له ستوني تېرې شوې. داسې ښکارېده چې کرونا به یې د مړینې لامل نه شي، خو د کرونا غم به یې ووژني.

له نورو سره یې اړیکې کمېدل لومړنۍ پېښه وه چې نومورړی ورسره مخامخ شو. له کرونا سره سم د ده درې ګاونډیان چې له ده سره یوه انګړ کې اوسېدل، وتښتېدل. نورو خپلوانو یې هم نه غوښتل ورسره مخامخ شي، ځکه چې ده د کرونا پر وړاندې د مبارزې پروژه کې کار کاوه.

اوس نو ډاکتر هغه بېچاره و چې په خپل لاس یې ځان ته قبر کیندلی و. د دغه کړکېچن وضعیت زغم او د خلکو سوړ چلند ژوند ورته یو څه ستونزمن کړ. خپلو ماشومانو ته یې د لوبو سامانونه وپیرودل، دوی یې کور کې بندیان کړل، پرته له دې چې اعتراف وکړي په ماشومانو یې ډېر قیودات وزغمل.

اوس چې په هېواد کې د کرونایي حالت ډېر بد وضعیت مخ په تېرېدو دی، هغه خپلې کړنې او د خپل ټیم اجراات ښه ارزوي. نوموړی په ویاړ سره وایي په بامیان، ډایکنډي او غور کې د کرونا ناروغي ډېره کمه وه، تر هر بل ځای دلته پېښې کمې وې.

نوموړي ته هغه شپې او شېبې ور یادېږي چې نیمه شپه به د بامیان له ډېرو لیرې سیمو ورته زنګ وهل کېده، نوي راپورونه به ورته رسېدل. ډېری وخت به ډېرې کوچنۍ نښې لکه معمولي سر



درد او تبه د لوېې اندېښنې لامل شوې. دا به د یو سوء تفاهم سبب کېده، خو مستمندیار د احتیاط کولو په موخه، اړ و د ټولو راپورونو او پېښو له پاره امبولانس ور ولېږي. هغه یوازې دوه امبولانسونه لرل. که به په کم وخت کې څو راپورونه راغلل، نو دی اړ و خپل محدود امکان ورته ووايي، نو دا وخت به په ټلیفون کې ده ته سپکې سپورې ویل کېدې او په نه کار کولو به یې تورناوه.

یوه داسې شپه یې په یاد ده چې د یکاولنګ ولسوال اړیکه ورسره ونیوه او د هغه موټر خبر یې ورکړ چې له کابل څخه یې جنازه راوړې وه. ولسوال ورته وویل چې له بامیان څخه باید د جنازې تېرېدو ته اجازه ور نه کړل شي او ولسوالیو ته یونه وړل شي. دې پېښې له ځان سره پېښېدونکې شخړه لرله. ولسوال ویل که دا جنازه خپل کلي ته له بامیان ښار تېره شي د ډېرو خلکو د اخته کېدو او مړینې لامل به شي.

ډاکتر مستمندیار فکر کاوه، څنګه امکان لري، هغه ویرجنه کورنۍ او د مړي خپلوان، د جنازې د راوړو له لارې را وګرځوي؟

نو ځکه یې ولسوال ته ونه ویل چې مخه به یې ونیسي-، خو دومره یې ورته وویل هڅه به وکړي داسې لاره ومومي چې د ټولو په خوښه وي.

په هغه شپه چې دا جنازه بامیان ته را ورسېده او غوښتل یې، خاورو ته د سپارلو له پاره یې یکاولنګ ولسوالۍ ته یوسي، نو ده په توره شپه کې د کرونا له امله د مشکوک مړي د جنازې موټر په بامیان کې ودراوه. د جنازې خلکو ویل له خپل مړي سره به خامخا یکاولنګ ته ځي. اما ډاکتر مستمندیار چې ډاډه و په یکاولنګ کې د دوی دې کار ته څوک په ښه نظر نه ګوري، دوی

ته يې ووېل، ښه به وي جنازه همدلتـه د دوی د روغتيـايي ټـيم پـه مرسته په مناسبو تجهيزاتو او عزت سره خاورو ته وسـپارل شي، دا هم د دوی، هم د اروابښاد او نورو خلکو په ګټه ده.

تر ډېرو مشورو وروسته ټول دې پايلې ته ورسېدل چې د مسافر مړي جنازه به په همدې شپه، پـه باميـان کـې خـاورو تـه سـپاري، ضرور نه ده چې ان تر يکاولنګ پورې چـې ډېـر لـرې دی، يـوړل شي.

ډاکتر مستمنديار د خلکو پاملرنه د روغتيا اعلاناتو تـه واړولـه. نوموړي د دې ټولو احتياطي تدابيرو رعايتولو لامل د خلکـو هغـه پاملرنه بولي چې د روغتيا د کار کوونکو پوهاوي ته يـې کـړې وه. دغه عامه پوهاوی تر بل هر ځای باميان کې ډېر بريـالی و. دوی د خبرتيا دغه پروګرام له هرات څخه را پيل او باميانو کـې يـې ډېـرې ښې پايلې وليدې.

خلکو ته پوهاوی، په هر ځای کې معلومات ورکول او په ټـول باميان کې هر کور ته د بروشر رسول د دې لامل شول چې باميـان له کرونا سره د مقابلې په برخه کې تر نورو ټولو ولايتونو يـو اګـاه، باخبره، فعال او هوښيار ولايت شي. ياد ډاکټر سيغان ولسوالۍ تـه د سفر يوه بده خاطره هم لري.

د ډاکتر مستمنديار چې کله پام شو په سيغان ولسوالۍ کې څو مشکوکې پېښې ليدل شوې دي، نو په خپلـه دی او ټـيم يـې هلتـه روان شول، خو د سيغان د خلکو چلند داسې نه و لکه څـوک يـې چې له خپلو مرسته کوونکو سره بايد وکړي.

د سيغان خلکو د دوی لاره ونيوه. دوی ته يې په سپين سـترګۍ ووېل:

«تاسې غواړئ د سيغان د اوسېدونکو نوم بد کړئ. غواړئ مشهوره کړئ چې پلانی د کفارو ناروغۍ نيولی دی. حال دا چې دا ټول د دولت له خوا د باميان په ضد توطئه ده دولت غواړي، د باميانو د اوسېدونکو په اړه دروغ ووايي».

دا يو تور و چې دغو خلکو د ده او د ده د ټيم په هکله وکړ. ډاکتر فکر وکړ که د دې غوسه ناکو خلکو په لاس ونه وژل شي، نو وهل خو به خامخا وخوري، نو ځکه يې خلکو ته وويل، له دوی ښښنه غواړي، موږ ته يوازې دنده سپارل شوې، نور ستاسې خپل کار دی. دی پوهېده که ډېر ټينګار وکړي هم دې خلکو ته قناعت ورکوی نشي، ځکه چې دا خلک ناسم پوهول شوي. په دې توګه خلک کومه ګناه نه لري. ده په هغه ورځو کې ډېرې خوارۍ وکړې چې موضوع د سپين ږيرو او ملا امامانو په مرسته حل کړي او ځان له دې ستونزې خلاص کړي، په پای کې بريالی شو او خبره لانجې ته نه لاړه.

کله چې مستمنديار بېرته باميان ته را ورسېد، يوه غونډه يې جوړه کړه. په غونډه کې يې د سيغان د خلکو د چلند موضوع شريکه کړه او له دې چلند څخه يې د باميان چارواکي هم خبر کړل.

پرېکړه وشوه، لومړی به د سيمې سپين ږيري او د جوماتونو ملا امامان چې په خلکو ډېر اغېز لري، د کرونا ناتار ته ځير کړي، دوی به خلک په دې ناورين ښه پوه کړي، کېدای شي په دې توګه خلک خپل چلند نرم کړي او همکاري وکړي. سره له دې چې دې پرېکړې خلک د کرونا په هکله پوه کړل، خو دا باور يې په دوی کې له منځه يو نه وړ چې ګواکې دا ناروغي کفارو او ګنهګارو ته راغلې او مسلمانان نه نيسي.



حسين مستمنديار له ټولو ستونزو سره سره له يوې خوا لـه کرونـا څخه د خلکو په ساتنه کې زيار ګالـه، لـه بلـې خـوا وسـايل کـم او خلک په خرافاتو کې ډوب وو. پـه خپلـه هـم لـه دې نـاروغۍ بـې نصيبه نه شو. ډاکټر هم په کرونا اخته شو، خو د هغـه قـرنتين کېـدل لکه د نورو خلکو د بېرته جوړېدو د وخت په څېر نه وو. هغه به ټوله ورځ سره له دې چې ډېر به ستومانه و، د لپ ټاپ شاته به ناسـت و، له سيمو څخه به يې راپورونه راټولول، ټليفونونو تـه بـه يـې ځـواب وايه، امبولانسونه به يې لېږل او د چارو مديريت به يې کاوه.

نومورې خپله وايي، لکه تور ستومانه وېروونکې سپې چې ورته په کمين کې وي او ده هره شېبه غوښـتل لـه ډېـر درد او سـتومانۍ ځان ووژني. په کور کېناستو هم کومه ګټه نه لرله، له روحـي پلـوه له پښـو لوېـدلی و. ده تـه خپـل شـتون لکـه د ډنمـارکۍ شـهزاده هملت، په څېر يوازې د «شتون يا نه شـتون» مسـئله ګرځـولې وه. نومورې د يو داسې حالت شاهد و چې ټول ارمانونه يـې يـوازې د ده تر ژوندي پـاتې کېـدو پـورې تـړلي وو. ايـا داسـې شـېبه بـه را ورسېږي چې له دې حالته ووځي او بيا روغ شي؟

نومورې به د هغو روغتياپالو خبرې اورېدې چې اړ وو د يـوه بوډا له خولې اکسيجن لرې کړې او يوه ځوان تـه يـې وتـړي چـې هغه له مرګه وژغورل شي، پرته له دې چې وپوهېږي ايا د چا ژوند تر چا غوره او مهم دی. دې فکر ډېـر لـه کـړاو سره مـخ کـړ چـې کېدای شي خپله هم يوه ورځ په همداسې حالـت او انتخـاب کـې واقع شي، ده د هغو ورځو يادونه کوله چې د کرونا نـوم نـه و، هـر څه سم وو. اوس هغه ورځې يوازې يو خوب او خيال دي.

کله به يې چې ورځ تر بلې د ځانوژنې فکر زيات شـو، ډېـر بـه

ووېرېده او دا فکر به سرته ورغی چې د ده په کورنۍ به ځومره بـده ورځ راشي. په پای کې يې د باميان جنتي طبيعت تـه پنـاه يـوړه. د هغه باميان په هکله يې فکر وکړ چې له کيسو ډک دی، هغه ځـای چې تر دې زياتې بدې ورځې پکې تېرې شوې دي، خـو د باميـان اوسېدونکي هېڅکله نه دي تسليم شوي.

دا هغه ځمکه ده چې ډېرې ستونزې لري، خو بيا هم پـر خپـل ځای کلکه ولاړه ده، پر مخ ځي او خاندي. کوښښ يې وکـړ ځـان هېر کړي، خلکو ته يې نظر وکړ چې لـه بېـوزلۍ او لـږو امکانـاتو سره سره دوی ټول د کرونا پـر وړانـدې ودرېـږي او پـه رښـتيا هـم خلک کلک ورسره ودرېدل. دې حالت ده ته هيلې وبښـلې. ده تـه يې يو احساس لرونکی نظر ورکړ. داسې احساس چې لکـه د يـوه پيغمبر په څېر يې ځانوژنه ځان تـه حرامـه وبللـه. اوس هغـه فکـر کوي، په رښتيا سره چې هغه نه يوازې دا چې له کرونـا روغ شـوی بلکې نجات يې موندلی. دی له هغه حالـت څخـه وژغـورل شـو چې د بشريت په مرگ محکوم شوی و او انسانان ډېر ناهيلي وو.

حسين مسـتمنديار لا اوس هـم د کرونـا د مخنيـوي پـه چـارو بوخت دی. هغه داسې انگېري چې ډېرې ستونزمنې ورځې راځـي او تېرېږي، خو انسان بايد تل د ښې ورځې له پاره مبارزه وکړي.

# کرونا او سودايي باشي

د پسرلي يوه تياره نيمه شپه ده. دا د ۱۳۹۹ل کال پسرلی دی. د غزني ښار له پاسه د پسرلي، خوندوره وږمه چلېده او د (شامير) په نوم يوه سيمه کې د پسرلي باد د يوې ودانۍ دربيم پوړ کې د يوې کوچنۍ خونې کړکۍ خوځوي. څو شپې او ورځې کېږي چې د «باشي حبيب» په نوم يو تن په همدې خونه کې ځان بندي کړی دی.

د ده شپې او ورځې دومره په ځنډ تېرېږي لکه يو زوړ کيشپ چې په تيږو کې مزل کوي، ټوله شپه يې په ويښه وي، باشي حبيب ټوله شپه په سر اخيستې وي او د باد له رازونو څخه ډکو غږونو ته يې غوږ نيولی وي. هغه داسې انګېري چې سړني بادونه د نورو کلونو له باد سره توپير لري. ښه چې ځير شي، فکر کوي چې د ښار ټول غږونه سره يو ځای شوي دي، خو په هغو کې يوازې يو غږ له نورو سره توپير لري؛ دا غږ له ليرې را نږدې کېږي، نور هم پسې را نږدې کېږي او په تياره کې يې د کوټې د کړکۍ خوا ته راځي. باشي حبيب حيران پاتې دی چې د کرونا له يو ډول لعنتي موجود سره چې ليدل کېږي هم نه څه وکړي؟

د ۱۳۹۹ ل کال په لومړيو ورځو کې د کرونا د مخنيوي له پاره

په افغانستان کې قرنتين پيل شو، په ټوله کې د غـزني خلـک درې ډلې شول. لومړی، هغه ډله چې قرنتين يې ونه مانـه. دويـم، هغـه ډله چې له مجبوريته يې قرنتين نشو رعايت کـوی او دريیمـه هغـه ډله چې قرنتين يې رعايت کړ. لـومړنۍ ډلـې پـه دې بانـدې بـاور درلود چې کرونا ويروس هسې دروغ دي يا هم يوازې بـې دينـه او کفار پرې اخته کېږي او له مسلمانانو او مؤمنانو سره کار نه لري.

دوهمه ډله هغه کسان وو چې هېڅ کوم پس انداز يې نه درلود، نو که په کور کې پـاتې وای، لـوږه لـه نـاروغۍ ورتـه بـدتره وه او دريیمې ډلې بې له کوم ځنډ ځانونه د قرنتين سختو ورځو ته چمتو کړل. باشي حبيب په همدې دريیمه ډله کـې و، لـه نـورو سره يـې توپير دا و چې ځان يې په سلو کـې سـل او لـه هغـه هـم زيـات د قرنتين په رعايتولو مکلف کړی و.

باشي صيب څه کم شپېته کلن و، نږۍ يې ليدلې، يو څه سـواد لري، خو شتمني يې زياته ده. دوه زامن يې خپلـو کورنيـو سره پـه بهر کې اوسېږي. دی او مېرمن يې سره له دې چې له هېواده بهر ته ځی او راځي، خو بيا هـم غزنـی خپـل تلپـاتې کـور ګڼـي. بـاشي حبيب د «شاه مير» په سيمه کې درې پوړيزه کور لري چې يو لـوی انګړ او ډېرې کوټې لري. لومړي پوړ کـې خپلـه اوسـېږي، ده او د يوه زوی اولادونو ته يې بيخي بس دی. پاس دوه نور پوړونه هسې وزګار دي.

دا چې غزني کې نه کرايه ورکوونکی مونـدل کېـږي او نـه هـم باشي پيسو ته اړ دی، نو هغه يې په کرايه نه دی ورکـړی. هغـه يـو داسې شتمن سړی دی چې د غـزني د ښـار پـه مـنځ پـه بهـترين موقعيت کې د خوراکي توکو د پير او پلور يو «هنګر» لري. سره له



دې چې په خپله باشي کار نه کوي، خو د ده پر ځای د ده یو زوی په هغه کې د بادامو، غوزیو او اوړو سوداګري کوي.

له دغو ټولو نیکمرغیو سره سره، باشي حبیب دومره ارام، خوشال، خوش خلق او ښه نه دی. کوم ځای یې هم نه خوږېږي، خو ستونزه یې دا ده چې هرې وړې خبرې ته سودا کوي. په وړو او جزیي خبرو عصباني کېږي، د دغو کوچنیو بې ارزښته خبرو له امله سربداله او عصباني شي، خو بیا هم خبره تر درمل او ډاکترانو پورې نه رسوي.

کله چې په ټوله نړۍ او افغانستان کې د کرونا خبرونه او هیاهو پیل شو، باشي حبیب به هره ورځ، د کوټې په منځ کې، مخامخ ټلویزیون ته کېناست، د چای ترموز او د ټلویزیون «ریموټ» به یې تر څنګ کېښودل، تر نیمې شپې به یې د بېلابېلو ټلویزیونونو خبرونو ته غوږ نیوه. باشي د کرونا د مخنیوي ټولې لارې چارې په خپل فکر سره له ټلویزیونونو زده کړې وې. باشي به چې ټلویزیون ته ناست و، هېڅ اجازه نه لرله «ریموټ» ته لاس وروړي. د یوه ټلویزیون خبرونه چې پای ته ورسېږي، د باشي ګوتې بیا «ریموت» ته ورځي او بل ټلویزیوني چینل نیسي. که لمسیان یې څه خبره وکړي یا د کورنۍ نور غړي خپلو منځو کې څه خبرې پیل کړي، په ټولو بروس وهي، سترګې را وباسي او دوی ته وایي:

«چُپ شئ! نه ګورئ خبرونو ته مې غوږ نیولی».

خبرونه نه خلاصېږي. سپین دایروي انټن د ده د کور پر بام مخ په اسمان ځیر دی او ده ته د ټولې نړۍ خبرونه راټولوي. په نړۍ کې پرته له کرونا بل خبر نشته. له ختیځه تر لویدیځه، له شمالي

قطب څخه تر جنوبي قطب پورې، زمين او زمان ټول د کرونا خبرونه دي. هغه که افغانستان دی، غزنی دی، د شاه میر کوڅه او که د باشي کور دی په دې ټولو کې د کرونا غم دی چې ورو ورو يې د باشي پر ځان ويره او انديښنه خوره کړې ده او ورځ په ورځ نوره هم زياتېږي، ته به وايې همدې نږدې ورځو کې قيامت دی.

باشي د قرنتين په هماغه لومړيو ورځو کې د کور په لاندې پوړ کې ماسکونه، لاس پوښوني، صابون، ضد عفوني توکي، ليمو، زنجبيل او داسې نور ډېر شان زېرمه کړل. نه يوازې دا چې د ټلويزيون کنټرول يې په واک کې و، بلکې غوښتل يې، د کورنۍ ټول غړي لکه د ټلويزيون په څېر کنټرول کړي. له زوی څخه يې پرته که کوم بل څوک له کوره بهر ځي، بايد لکه د هغه زده کوونکي په څېر چې څوړ سر له خپل ښوونکي اجازه اخلي، بايد له باشي اجازه واخلي. باشي په دې شرط اجازه ورکوي چې ماسک، لاس پوښوني او په ډېر احتياط ضد عفوني يو بوتل هم ځان سره واخلي؛ خو دا ژمنه به کوي چې له دوه متره به زيات چاته نه ور نږدې کېږي او کله يې چې کار خلاص شي، نو ډېر ژر به کور ته راستنېږي.

کله به چې د دروازې زنگ واورېدل شو، باشي به د ضد عفوني مايع بوتل ته لاس کړ او لومړنی کس به و چې ځان به يې ور ورساوه، د هغه چا پر لاسونو به يې دغه درمل شيندل او موښل چې په وره به رانه ووت، وروسته به يې د دروازو لاستي، د زنگ بټنه او نور شاوخوا ټول پر ميکروب ضد درملو لانده خيشته کړل.

دا وضعيت دوه مياشتې روان و. په دې ټوله موده کې د باشي سودا او انديښنه دومره زياته شوې وه چې ان الوتونکي او مرغان

یې هم د ویروس د لیږدولو لـه ویـرې د انګـړ پـه ونـو او د برنـډې شاوخوا نه پرېښودل، ان له پسرلنۍ ورېمې یې هم وېره وه، لنـډه دا چې باشي د خپل کور یـو مشرـ نـه و، بلکـې یـو داسـې ټولـواک زورواکی و چې ټول یې تر واک لاندې راوستي وو.

د قرنتین د دوهمې میاشتې په پای کې چې د غـوایي د میاشـتې وروستۍ ورځې وې، باشي خبر شو چې یو اشنا یې لـه نـړۍ لاړ. پوره معلومه نه وه چې هغه به د کرونا له امله وفات شوی وي، خو جنازه یې د کرونایي مړي په څېر تدفین شوه. باشي د ټولنیز نزاکت له مخې اړ شو، له خپل زوی سره یو ځای جنازې ته ورشي.

دوی له کرونا د ځان ساتنې ټول شرایط رعایت کړل، یعنې هم یې زوی او هـم ده دواړو ماسـک او لاس پوښـوني لـرل، بـاشي د زنجبیل او لیمو چای نوش جان کړ او د مکروب ضد یو بوتل هـم ورسره و، خو له دې ټولو سره سره یې باراني چترۍ هېره شوې وه، دا وخت په هدیره کې د پسرلي ورېځو ناڅاپـه راګیـر کـړ، د بـاران شرک شو، له دې سره باشي د ټولو پر لاسونو د مکروب ضد مـایع موښله، خو د باران توندو څاڅکو دا هر څه ومینځل، ترڅـو دوی موټر ته رسېدل، باران لـه سر تـر پښـو لانـده کـړل. کـور تـه چـې ورسېدل، نیم ساعت یې په باران کې موټر ومینځـه، داسـې چـې د موټر چوکۍ یې هم وچې پرې نه ښودې او پرېمانه ضد عفوني یې هم ورباندې واچوله.

په بله ورځ باشي ته ناڅاپي پرنجی پیـدا شـو، دا ورځ هـم تېـره شوه، نیمه شپه یې داسې احساس کړه چـې سـتونی یـې خارښـت کوي او تبه هم لري. د ستوني د خارښت له امله څو ځله وټوخېـد چې ستونی یې پاک شي، خو ورو ورو یې ټوخی زیات شو، په بله

ورځ يې چې څومره خوارۍ کولې ټوخی يې کرار نه شو. په سخته وېره اخته شو، فکر يې وکړ چې خامخا په هديره کې کرونا نيـولی دی.

په هديره کې له باران څخه دوه ورځې وروسته بـاشي لـه ځـان سره پرېکړه وکړه چې خپل خوراک، سترخان او لوښي له نورو بېـل کړي، سوچ يې وکړ چېرته لاړ شي؟

د کور درېيم پوړ ورته غوره وبرېښېد. بيا يې سـوچ کـاوه چـې څرنگه به ورته خوراک راوړي؟

د پخوانۍ څا پړی او ډولچه يې را واخيستل، درېيم پوړ ته يـې وخېژول. ښځې، زوی او ان نږور يې ډېر عذرونـه او زارۍ وکـړې ورته ويې ويل که ته کرونا نيولی وې، نو اوس يې خامخا موږ هـم نيولي يو، دا کارونه مه کوه. که مړه کېدو، پرېږده چې ټول يو ځـای مړه شو. خو د باشي همدا يوه خبره او يوه پرېکړه وه، د هېچا يې نه اورېده. خپله بستره او ټلويزيون يې هم درېيم پوړ ته يوړل. ټولو ته يې وويل له دوهم پوړ څخه پورته را نه شئ. دروازه يې ځان پســې کلکه بنده کړه.

باشي په درېيم پوړ کې پوره يوه اونۍ يوازې تېره کړه. د کـورنۍ د غړو په ډېر ټينگار هم کوز نه راته، لور او زوم يې د منځگړيتـوب له پاره د ښار له يوې بلې سيمې راغلل خو باشي نه يوازې دا چـې د هغوی خبره هم ونه منلـه، بلکـې د کـوټې د دروازې لـه شـا يـې هغوی ته ستوغې خبرې هم وکړې او په ټينگار يې ورته وويل چې قرنيتن به پرې نږدي او په هغوی هم په غوسه شو چې ولې پـه دې قرنتين کې له کوره وتلي دي.

په همدې ډول څو ورځې نورې هم تېرې شوې،کله بـه چـې د

باشي ډوډۍ یا چای په کار وو، نو په رسۍ به یې له کړکۍ څخه درېیم پوړ ته ور خېژول. له دې سره یو ځای به یې ټولو ته ویل چې د ډوډۍ او لوښو د کېښودو پر مهال باید لاس پوښوني ولري. کورنۍ یې پرته له دې چې خبره یې ومنې بله لار نه لرله. لږ وروسته باشي داسې شو لکه یو بوډا چې له کوهي څخه اوبه را کاږي. ګاونډیانو ورته کتل، له دې سره ښار کې اوازه شوه چې باشي حبیب کرونا نیولی دی، ځان یې درېیم پوړ کې قرنتین کړی او د کورنۍ غړي یې په رسۍ سره ډوډۍ ور پورته کوي.

کله به یې چې خپلوانو د پوښتنې له پاره زوی ته زنګ واهه، نو هغه به له شرمه هغه څه دوستانو ته ویل چې د دغه قرنتین په ټولو ورځو کې یې زغملي وو. که به دوستانو د باشي له زویه پوښتنه کوله چې ایا باشي صیب ناروغ دی؟

ده به ورته ویل:

نه پلار مې کرونا نه دی نیولی، په خپل ځان او نورو یې هسې دنیا تنګه کړې ده.

د غبرګولي تودې ورځې را ورسېدې، په دې وختونو کې د کرونا د مړینو خبرونه هم افغانستان او هم نوره نړۍ کې لا زیات شول، په کرونا د اخته کسانو د شمېرو د زیاتوالي خبرونه ټلویزیونو کې راتلل، د باشي د روغتیا حالت له یوې ورځې تر بلې نور هم خرابېده. د کورنۍ د غړو صبر یې هم پای ته ورسېد. له دې څخه اووه اته ورځې وروسته نور د باشي په ځان کې دومره تومنه او شیمه نه وه پاتې چې د خپل خوراک پړی پورته ورکش کړي، له بلې خوا یې ور هم چاته نه پرانیست، ټلویزیون یې هم نه لګاوه، سترګې یې چت ته رډې پاتې وې.

زوی يې اړ شو، د درملو پاکټ او خوراک يې له کړکۍ څخه په بېل ور ورسوي له دې سره يې يو ځای پلار ته په کلکه وويل چې که له کوټې څخه را ونه ځي، نو «جوز کلا» ته يې وړي. په جوز کلا کې د غزني ولايت د کرونا ناروغانو ځانګړی روغتون و. باشي ووېريد، ځان سره يې فکر وکړ که يې هلته يوسي، نو د کرونا له روغتون څخه به مخامخ هديرې ته لاړ شي.

دغه ورځ يې په همدې سوچونو کې تېره کړه. ټوله شپه يې د باد غږ ته غوږ نيولی و، باد پر کړکۍ لګېده او هغه يې ښوروله. هغه ته سړني بادونه بل ډول ښکارېدل. څومره يې چې غوږونه بوخ کړل، فکر يې کاوه د ښار ټول غږونه سره يو ځای شوي دي، خو په دې ټولو کې يو غږ توپير لري، هغه له لرې څخه وار په وار را نږدې کېږي، نور هم را نږدې کېږي او په توره ترورږمۍ کې د ده د کړکۍ شاته جاسوسي کوي. هک حيران و چې د کرونا له دغه ناولي ديو سره چې په سترګو نه ښکاري څه وکړي؟ لعنتي کرونا!

سهار چې کله لمر خپلې طلايي وړانګې د ده د کوټې پر کړکيو وغوړولې، د وره له شا يې د چا د ګامونو سکالو واورېده چې په زينو باندې را خوت. د ده د کوټې شاته چې را ورسېد، لږ ودرېد، يو غږ يې واورېد:

«باشی صيب! دروازه پرانيزه، زه ډاکټر قيوم يم، ستاسې د سيمې ډاکتر، د ګاونډيتوب په خاطر ستا پوښتنې ته راغلی يم».

باشي په ناتوانه غږ ورته وويل:

«مه راځه، مه راځه! زه کرونا نيولی يم. تا به هم ونيسي».

بيا د خپل زوی خبرې اوري چې ډاکټر ته وايي:

«ډاکټر صيب! ده که د چا خبرې اورېدی، اوس به يې دا حال



نه و. وبښئ لږ هاخوا ودرېږئ زه دوروازه پرانيزم».

دروازه په لغته په زوره ووهل شوه څو واره يې بيا ووهله او ماته يې کړه. باشي خپل زوی او ډاکټر ته حيران گوري ځکه چې ډاکـتر او زوی يې، ماسک او لاس پوښوني نه لري او کوټې ته ورننوتـل. باشي دوی ته لکه بې وسلې شوی زورواکی زارۍ پيل کړې:

«روغتون ته مې مه وړئ، روغتون ته مې مه وړئ! هلته مـرم او بډوډي مې کاږي ما روغتون ته مه وړئ»!

ډاکټر قيوم د خپلې خندا مخه ونشوای نيوی په خنـدا يـې ورتـه وويل:

«باشي صيب! اندېښنه مه کوه. روغ جوړ سړی ولـې روغتـون ته بوزو؟ زه همدلته ستا درملنه کوم، هېڅ اندېښنه مه کوه»!

ډاکټر چې دا خبرې وکـړې او مخکـې تـر دې چـې د بـاشي د وينې فشار وگوري، زوی ته يـې وويـل لـه کـوټې ووزي. د بـاشي زوی له کوټې ووت. ډاکټر يې پر مټ د سـيروم سـتن ولگولـه او د ژېړ رنگه سيروم بهير يې وينې ته پيل شو. پـه کوټـه کـې بـاشي او ډاکټر يوازې وو، دا معلومه نشوه چې ډاکتر قيوم د بـاشي صـيب د ډاډگيرنې له پاره ده ته نور څه وويل، خو د هغه د ځـوانۍ او د ده د زړورتيا د ورځو يادونه يې وکړه او بيا يې ورته ويلي وو چې بـاشي صيب اوس هسې ځان وېره کې اچولی.

هرڅه چې وو، خو له څو ساعتونو وروسته ډاکټر قيوم باشي له لاس پوښوني او ماسک پرته راکوز کړ او لاندې يې لومړي پوړ تـه را ووست. هغه خوار ډېر ډنگر شوی و. ته به وايې له يوه اوږده او ستومانه کوونکي سفر څخه راستون شوی، د سترگو گاټې يې ژور شوي وو، سپينه ږيره او برېت يې ډېر اوږده شـوي وو. يـوه اونـۍ

وروسته باشي بالکل روغ رمټ شو؛ خو یوه ستونزه ور پاتې وه چې باید نور په وړو خبرو او جزئیاتو اندېښنه ونه لري.

**یادونه:**

د دغه نکل نومونه مستعار دي. د کیسې ځای هم د غزني یوه بله سیمه ده، خو د هغه ځای د هویت د پټ ساتلو په خاطر د شامیر نوم غوره شوی دی.